كه مشترى په پورسراى /ځمكه أخستي وه نو شفيع به يي په نقد واخلي ځكه بائع د ده په پور ندى راضي او يا دي انتظار وكړي چي هر وخت اجل (مده) پوره سي بيا دي واخلي خو پدي شرط چي دعوى به اوس لاكوي كه دعوى يي وس ونكړه ، نو حق شفعه يي ساقيطږي.
كما في الكامله:٢٢٣ :هدايه:٣٩٧/٤ :كما في الهدايه شرح البدايه :٣٢/٤ .

قال: وإذا باع بثمن مؤجل فللشفيع الخيار، إن شاء أخذها بثمن حال، وإن شاء صبر حتى ينقضي الأجل ثم يأخذها، وليس له أن يأخذها في الحال بثمن مؤجل .
كمافى الشامى:٣٨٥/٩، ٣٨٦ :(قوله يأخذ بحال) أي يأخذ في الحال بتخفيف اللام بثمن حال بتشديدها ، لأن الأجل ثبت بالشرط ولا شرط بين الشفيع والبائع، ثم إن أخذ بثمن حال من البائع سقط الثمن عن المشتري، لما مر أن البيع انفسخ في حق المشتري، وإن أخذ من المشتري رجع البائع على المشتري بثمن مؤجل كما كان، لأن الشرط الذي جرى بينهما لم يبطل بأخذ الشفيع هداية (قوله أو طلب) عطف على يأخذ : أي إنه مخير بين الأخذ في الحال بحال وبين الطلب في الحال والأخذ بعد الأجل (قوله

ولا يتعجل إلخ) كذا في الملتقى، والمراد لو أخذ الشفيع بثمن حال من المشتري لا من البائع كما قدمناه آنفا.

اوس نو كه شفيع د بائع په نقدو روپو واخست خو خبره خلاصه سوه ،اوكه يي د مشتري څخه واخستې نو بائع بيا مشتري ته نسي ويلي چي ماته يي هم نقدي راكړه حوالات مذكوره.

كوم سراى چي په بيعه فاسده خرڅ سي او بيا د هغه سره متصل بل سراى خرڅ سي ،نو كه اول سراى دمشتري په لاس كي و مشتري پدغه سراى كي حق شفعه لري ، تر څو پوري چي بائع سراى نه وي څني اخستی ،او كه يي واخلي لمخه تر قضاء د قاضي شفعه نسته ، البته كه قاضي يو وار دده لپار دشفعي فيصله وكړي بيا كه څه هم بائع سراى څني واخلي ، خو اول سراى دده سو دشفعي په وجه ،اوكه بائع پلاس كي و بيا بائع حق شفعه لري ترڅو پوري چي مشتري ته يي اول سراى تسليم كړي نه وي ، اوكه يي دقاضي تر قضاء لمخه ور تسليم كړي بيا حق شفعه نلري ،البته كه قاضي يو وار دده لپاره دشفعي فيصله وكړي بيا كې تسليم كړي هم پروا نلري.

كما في الهدايه :۴۰۳/۴ :وطبع أخر :۳۷/۴ : ومن ابتاع دارا شراء فاسدا فلا شفعة فيها.... قال: فإن سقط حق الفسخ وجبت الشفعة لزوال المانع، وإن بيعت دار بجنبها وهي في يد البائع بعد فله الشفعة لبقاء ملكه، وإن سلمها إلى المشتري فهو شفيعها لأن الملک له، ثم إن سلم البائع قبل الحكم بالشفعة له ،بطلت شفعته كما إذا باع. بخلاف ما إذا سلم بعده لأن بقاء ملكه في الدار التي يشفع بها بعد الحكم بالشفعة ليس بشرط فبقيت المأخوذة بالشفعة على ملكه، وإن استردها البائع من

المشتري قبل الحكم بالشفعة له بطلت لانقطاع ملكه عن التي يشفع بها قبل الحكم بالشفعة، وإن استردها بعد الحكم بقيت الثانية على ملكه لما بينا.

كمافي الشامي: ۹/ زيلعي: ۲۵۵/۵:

كه په زيد باندي عمرو دعوی وکړي چي زما لس (۱۰۰۰۰۰) لكه (يو ميلون) روپۍ در باندي دي، نو عمر و د زيد سره صلح په سرای وكړي: يعني سرای يي د پور په عوض كښي وركړي، نو شفيع پدغه سرای كي حق شفعه لري.

كه عمرو مقر وي په پور د زيد او كه منكر وي اوكه ساكت وي.

كما في الشامي: ۹/ ۳۹۴: هدايه: ۴۰۱/۴: زيلعى: كما في الفتاوى الهنديه: ۱۶۰/۵: وتجب الشفعة في الدار التي هي بدل الصلح سواء كان الصلح عن الدار عن اقرار او انكار او سكوت.

اوكه زيد د سرای دعوی په عمر وكړي او عمرو د سرای په مقابل كي روپۍ وركړي، نو كه عمرو مقر (اقرار) وي چي دغه سرای ستا دي بيا حق شفعه لري، اوكه منكر يا ساكت وي بيا يي حق شفعه نسته.

كما في الشامي: ۳۹۴/۹/هدايه: ۴۰۱/۴. زيلعي: كمافي الفتاوى الهنديه: ۱۶۰/۵: وكذا تجب في الدار المصالح عنها عن اقرار وأما فلا تجب به الشفعة ..... وكذلک لا تجب في الدار المصالح عنها عن سكوت.

شفيع نيم سرای يا ځمكه په شفعه نسي اخيستلای بغير له رضا د مشتري البته پدي كښي د علماؤ اختلاف دي چي د دوو (۲) طلبو وروسته دا ووايي وس نو چي حق شفعه يي ساقط سو او كنه امام

ابي يو سف (رحمه الله تعالى) وايي : ندى ساقط او امام محمد (رحمه الله تعالى) قول أصح بللى دي
اوقاضي خان د أبويو سف (رحمه الله تعالى) قول ته صحيح ويلى دي ، اوس که اصول فتوى رامخته کړو نو د قاضي خان قول راجح معلوميږي ځکه دي له اهل ترجيح ښخه دي او بل چي د صاحبينو پخپل منځ کي اختلاف سره راسي نو أهل فتوى د ا بى يوسف (رحمه الله تعالى) قول ته ترجيح ورکوي .
او بل د صحيح او أصح مقابله چي سره راسي او د د وو(۲) قائلينو وي نو بيا صحيح مقدم ده تر أصح أنظر مصباح مقدمة عمد ة الرعايه :
كما في الشامي :۹/۳۷۰. (أراد الشفيع أخذ البعض وترک الباقي لم يملک ذلک جبرا على المشتري) لضرر تفريق الصفقة.... (قوله لم يملک ذلک) فيه إشارة إلى أن شفعته لم تبطل بذلک وفي المجمع ولا يجعل يعني أبا يوسف قوله أخذ نصفها تسليما ، وخالفه محمد . قال شارحه: وفي المحيط الأصح قول محمد اهـ. ومثله في غرر الأفكار وشرحه. وفي الخانية قال للمشتري: سلم لي نصفها فأبى المشتري لا تبطل شفعته في الصحيح لأن طلب تسليم النصف لا يكون تسليما اهـ يعني إسقاطا للباقي.
كامله:۲۱۴.
که شفعاء ډير وي يو شفيع خپله حصه بل ته ورکي لمخه تر قضاء د قاضي نو دا ند ه صحيح او حق شفعه يي هم ساقط ده او دده حق شفعه به دنورو شفعاؤ په منځ کي سره جلا کيږي .

كما في مجله ۲۰۱ ماده ۱۰۴۲ .شامي ۳۷۰/۹ : ولو جعل بعض الشفعاء نصيبه لبعض لم يصح وسقط حقه به لا اغراضه ويقسم بين البقية .
قوله : ولو جعل الخ :أى قبل القضاء اما بعده فلا يسقط حقه كما يعلم مما مر قوله :بناء أنه :أى على أنه ،قوله : اذا شرط صحتها أن يطلب الكل لأنه يستحق الكل والقسمة للمزاحمة:
مسئله : كه يو شفيع تهوله حق شفعه طلب كړاو بل نيمى نو بيا دنيمى والا حق ساقط سو هغه بل اختيار لري كه اخلي اوكه تهوله پريږدي نيمى نسي اخستى .
كما في الشامي :۳۷۰/۹ : ولو طلب أحد هما الكل والأخر النصف بطل حق من طلب النصف والأخر أن يأخذ الكل أو يترک وليس له ان يأخذ النصف زيلعي .
كه يو له دوه (۲) شفيعينو نيمى حق شفعه طلب كړي پدي ګمان چي دغه مي حق دي ،نو هم حق يي ساقط ده ځكه شرط داده چي تهوله به طلبه وي .
كما في الشامي : ۳۷۰/۹ . بل لو طلب أحد الشركين النصف بناء أنه يسقطه فقط بطلت شفعه اذشرط صحتها ان يطلب الكل كما بسطه الزيلعي فليحفظ .
دمكي مكرمي مطهري ځمكي او سرايونه خرڅيدل پروا نلري عليه الفتوى او حق شفعه يي هم كي سته .۹
كما في الشامي : ۳۷۰/۹/ وصح بيع دور مكة فتجب الشفعة فيها : عليه الفتوى أشباه قلت مفاده صحة اجازتها بلاولى ، وقد قد منا ه فليحفظ لكيه يكره ونحفظه في الحظر وفيها .

که شفعاء ډیر و، نو حق شفعه د دوی په سرونو سره جلا کیږي نه د حصو په أندازه مثلا زید په ځمکي که نیم حق لري او عمرو هم نیم لري لیکن بکر په پنځمه ورشریک ده وس نو که زید خپله حصه خرڅه کړي هغه د عمرو او بکر سره نیمی ده دا سي نه چي عمرو به نیمی وړي او بکر به پنځمه.

کما في الشامي ۳۶۵/۹: ویملک بالاخذ بالتراضي او بقضاء القاضي عطف علی الأخذ لثبوت ملک الشفیع بمجرد الحکم قبل الأخذ کما حرره ملا خسرو (بقدر رؤس الشفعاء لا الملک) حلاف للشافعي (للخلیط) متعلق یتجب (في نفس المبیع کما في الهدایه ۳۸۹/۴: زیلعي ۵ کامله ۲۱۳: هندیه ۵.

که یو شفیع تر قضاء لمخه خپل حق شفعه تسلیم کړی نو بیا دهغه نو رو ټولو حق شفعه دده په حق کي سته اوکه یي تر قضاء وروسته تسلیم کړي بیا هغه نور دده په حق کښي حق شفعه نلري.

کما في رد المحتار: ۹/ ۳۶۹: أسقط بعضهم حقه) من الشفعه (بعد القضاء) فلو قبله فلمن بقی أخذ الکل لزوال المزاحمة (لیس لمن بقی أخذ نصیب التارک) لأنه بالقضاء قطع حق کل واحد منهم في نصیب الأخذ زیلعي هدایه: ۳۸۹/۴: کامله ۲۱۷.

که ځني شفعاء غائب و نو قاضي به حق شفعه د حاضرینو په منځ کي سره حلاکړي او بیا چي هغه هر وخت راسي کي حق شفعه غو ښتي نو قاضي به له هر یو څخه خپله حصه ورکړي.

کما في الشامي: ۳۶۹/۹:

(ولو کان بعضهم غائبا یقضی بالشفعة بین الحاضرین في الجمیع)

لاحتمال عدم طلبه فلا يؤخر بالشک (وکذا لو کان الشريک غائبا فطلب الحاضر يقضى له بالشفعة) کلها (ثم إذا حضر وطلب قضي له بها) فلو مثل الأول قضي له بنصفه، ولو فوقه فبکله، ولو دونه منعه خلاصة.

هدايه: ۳۸۹/۴: کامله: ۲۱۷:

که مشتري سرای واخلي لمخه تر قبض ددي سرای په څنګ بل سرای خرڅ سو نو مشتري په هغه کي هم حق شفعه لري کامله ۲۲۳.

که فضولي)پردی سړی) دبائع سرای خرڅ کړي نو د بيعي صحت يي د بائع تر اجازي موقوف ده که هغه اجازه ورکړي بيع صحيح ده والا فلا.

او شفيع چي څرنګه په بيعه خبر سو سمدستي به دشفعي دعوی کوي د اجازي تر وخت به دعوی دشفعي نه ځنډوي که يي وځنډوي حق شفعه يي ساقط دي عندامامنا محمد(رحمه الله تعالى)

کامله: ۲۲۴: کمافي الشامي ۳۹۵/۳۹۲/۹. (الطلب في بيع فاسد وقت انقطاع حق البائع اتفاقا وفي هبة بعوض) مشروط ولا شيوع فيهما (وقت التقابض) وفي بيع فضولي أو بخيار بائع وقت البيع عند الثاني ووقت الاجازة عند الثالث.

مشتري يو وار نيمی يا دريمه حصه واخسته ورو سته يي نو ري حصي پسي وا خستي نو شفيع وس حق شفعه په اوله بيع کي لري، نه په دوهمه بيع کي.

کما في الکامله: ۲۲۴: کما في رد المحتار ۴۰۴/۹. وان ابتاع سهما منه بثمن ثم ابتاع بقيمتها فالشفعة للجار في السهم الاول فقط) والباقي للمشتري لانه شريک.

که بائع او مشتري بيعه سره فسخه ه کړي نو د شفيع حق شفعه نه ختميږي :کا مله :۲۱۷/۲۲۴.

مسئله: که پنځه مشتريان د زيد څخه سرای / ځمکه واخلي نو شفيع د يوه حصه أخيستلای سي دټولو دا نسي أخيستلای او همدارنګه که مشتريان او بائعين د واړه طرفه ډير وي هم دا حکم دي او که عکس وي ؛يعني سړي د پنځو (۵)نفرو څخه ځمکه /سرای واخلي په يوه عقد سره نو شفيع ته اختيار دي که ټول سرای اوځمکه اخلي اوکه يي پريږي .

که مشتري په د واړو (۲) صورتونو کي قبض کړی وي اوکه يي نه وي قبض کړي او د هر يوه بائع لپاره يي جلا جلا روپۍ معلومي کړي وي اوکنه؟

البته شفيع که په دي صورتونو کي يو مشتري ته روپۍ ورکړي قبل تر قبض نو د هغه حصه نسي اخيستلای تر څو چي د هغه نورو مشترايانو روپۍ يي ورکړي نوي ؛ځکه په بائع باندي تفريق د صفقې (بيع) راځي قبل تر قبض اوتفريق د صفقې قبل تر قبض جائز ندی :لکه په فقه شريفه کي چي عامه قاعده ده اوبل له بائع سره شفيع شريک سو د هغه يوې حصي په وجه او شرکت خو ضرردي اوپه اسلام کښي ضرر نسته.\

کما في ردالمختار :۶/۲۴۶:

(إذا اشترى جماعة عقارا والبائع واحد يتعدد الأخذ بالشفعة بتعددهم فللشفيع أن يأخذ نصيب بعضهم ويترک الباقي وبعکسه) وهو ما إذا تعدد البائع واتحد المشتري (لا) يتعدد الأخذ ، بل يأخذ الکل أو يترک

لأن فيه تفريق الصفقة على المشتري، بخلاف الأول لقيام الشفيع مقام أحدهم فلم تنفرق الصفقة بلا فرق بين كونه قبل القبض أو بعده سمى لكل بعض ثمنا أو سمى للكل جملة، لأن العبرة لاتحاد الصفقة لا لاتحاد الثمن. قال الشامي: (قوله والبائع واحد)أقول: فلو تعدد كل من البائع والمشتري لم أره، والظاهر أنه كذلك لا كالعكس كما يفيده التعليل الآتي وليراجع. (قوله لقيام الشفيع إلخ) ولأن الجار متعدد فله أن يرضى بأحدهم دون غيره، أما إذا رضي بجوار المشتري في نصيب واحد فقد رضي أيضا في نصيب آخر لعدم تجزؤ جوار الواحد درر البحار (قوله بلا فرق إلخ) هو الصحيح إلا أن قبل القبض لا يمكنه أخذ نصيب أحدهم إذا نقد ما عليه ما لم ينقد الآخر حصته كي لا يؤدي إلى تفريق اليد على البائع بمنزلة أحد المشترين هداية أي إذا نقد ما عليه من الثمن لا يقبض نصيبه من الدار حتى يؤدي المشترون ما عليه من الثمن ,
وكذا الشفيع.

اوكه له پنځو نفرو ښخه يي په جلا جلا عقدونو واخلي بيا نو شفيع د يوه حصه اخستلای سي.

كما في الشامي: ٩/١٠-٤٠٩. وفي الكفايه: عن الذخيرة لو اشترى نصيب كل بصفقة فللشفيع أخذ نصيب أحدهم؛ لان المشتري رضي بهذا العيب حيث اشترى نصيب كل بصفقة اه ثم بين ما تتفرق به الصفقة وما تتخذ فراجع زيلعي: ٥/٢٦١. هنديه: ٤/٤٠٦.

كه زيد ډير خلک وكيلان كيږي وي چي زما لپاره سرای /ځمكه واخلي نو هغه په يوه عقد يا په ديرو عقدو سرای /ځمكه واخلي نو شفيع د يوه حصه په حق شفعه أخيستلای سي دټولو ته نسي أخستی.

اوكه عكس وي :يعني ډيرو خلكو زيد وكيل كړي وي په أخستلو د ځمكي / سراى ،نو شفيع بيا د يوه حصه نسي اخستلاى ،بلكي ټول به أخلي يا به ټول پر يږدي .

كما في الزيلعي ۲۶۲/۵: كما في الدر المختار :۲۴۷/۶:
(والمعتبر في هذا) أي العدد والاتحاد (العاقد) لتعلق حقوق العقد به (دون المالک) فلو وكل واحد جماعة فللشفيع أخذ نصيب بعضهم.

قالالشامي في ردالمحتار :۹/، ۴۱۰، ۴۱۳. (قوله فلو وكل واحد جماعة) أي بالشراء فاشتروا له عقارا واحدا بصفقة واحدة أو متعددة زيلعي، وتمام التفريغ ولو وكل جماعة واحدا به ليس للشفيع أخذ نصيب بعضهم (قوله فللشفيع إلخ) هذا إذا وكل كلا في نصيب، وأما إذا وكل كلا في شراء الجميع فلا شفعة إلا في الجميع فليتأمل ط.

كه زيد د عمرو څخه نيم سراى غير تقسيم سوى واخلي او بيا يي تقسيم كړي نو شفيع هغه نيم په شفعه أخستلاى شي او كه له شفيع سره متصله طرف مشتري ته ورسي او كه غير متصل طرف اود بائع سره بيرته نقسيم نسي فسخه كولاى .

كما في الدر المختار : ۲۴۷/۶. اشترى نصف دار غير مقسوم فقاسم المشتري (البائع أخذ الشفيع نصيب المشتري الذي حصل له بالقسمة) وان وقع في غير جانبه على الأصح (وليس له) أى للشفيع (نقضهامطلقا) سواء قسم بحكم او رضا على الأصح ؛لأ نها من تمام القبض حتى لو قاسم الشريک كان للشفيع النقض كما ذكره بقوله .

زيلعي :۲۶۲ .الشامي :۴۱۱/۹ . هدايه :۴۰۷/۴ : هنديه مجمع الانهر.

اوکه یو له د وو(۲) شریکانو ؛لکه زید ځمکه په عمرو خرڅه کړه او عمرو يي له هغه بل شریک سره تقسیم کړي نو شفیع ته هم حق شفعه سته او هم د تقسم سابق.

کما في الشامي :۴۱۱/۹: بخلاف ما اذا باع أحد الشریکین نصیبه من دار مشترکة وقاسم المشتري الشریک الذي لم یبع حیث یکو ن للشفیع نقضه کنقضه بیعه وهبته (کما لو اشتری اثنان دار او هما شفیان ثم جاء شفیع ثالث بعد ما اقتسما بقضاء او غیره له) أی للشفیع (ان ینقض القسمة) ضرورة صیرورة النصف ثلاثا .

زیلعي :۲۶۲/۵ :هدایه: ۴۰۷/۴ :هندیه : مجمع الانهر

که مشتري دوه سرایو نه یا دوه کلي په دوو ښارو کښي په یوه عقد وا خستل که څه هم یو ښار په مغرب کښي وي اوبل په مشرق کښي وي نو زمو ږ دري امامان مبارکان (أبو حنیفه أبو یوسف ومحمد رحهم الله تعالی) وایي : یابه دواړه سرایونه او کلي شفیع أخلي او یا به دواړه پریږدي په دي شرط چي شفیع د دواړو ګاونډی او یا شریک وي لیکن امام زفر(رحمه الله تعالی) وایي : چي شفیع ته اختیار دي که دواړه أخلي اوکه یو, او فتوی هم دده مبارک پر قول ده .

کما في الدر المختار:۲۴۷/۶:ولو اشتری دارین او قریتین بمصرین صفقة أخذ هما شفیعهمامعا او

ترکهما لا أحدهما ولو احداهما بالمشرق والاخری بالمغرب شرح مجمع ویأتي قال الشامي۴۱۳/۹، ۴۱۰،

في ردالمحتار (قوله لا أحدهما)وقال زفر :له شفعة أحدهما قیل والفتوی علی قوله:

البته که دواړه سرایونه په یوه ښار کي وي بیا دي‌هم زموږ ملګری ده :
اوکه په دوو عقدو أخستل سوي وي بیا موږ دده ملګری یو .
کما في الشامي : ۹/ ۴۱۳، ۴۱۰، في ردالمحتار : وقید بمصرین لما في الحقائق لو کانا في کصر واحد فقوله : کقولنا : وفي المصفی والایضاح أنه قید اتفاقي وبصفقة اذ لو بیعتا بصفقتین له أخذ أیهما شاء اتفاقا .
اوکه شفیع د یوه سرای ګاونډی /شریک وي د هغه بل نه‌وي نو بیاچي ګاونډی /شریک یي وي هغه اخستلای سي او هغه بل نسي اخستلای .
که‌دوه خلګ له زید سرای واخلي دواړه شفیعان هم وي او ځمکه قضاء یا بي قضاء سره تقسیم کړي وي، ورو سته دریم راسي طلب د حق شفعه وکړي نو شفعه هم‌وړای سي او تقسیم هم فسخه‌کولای‌سي .
کما في الشامي : ۹/۴۱۱:کما لو اشتری اثنان دارا وهما شفیعان ثم جاء شفیع ثالث بعد ما اقتسما بقضاء او غیره فله)أی للشفیع (ان ینقض القسمة) ضرورة صیرورة ثلثا شرح وهبانیه.

﴿شفعتمال المضاربة﴾

که مضارب دمضاربة په مال سرای دمضاربة لپاره واخست بیا یي خرځ کړي نورب المال(درپوخاوند)
دشفعي دعوی نسي کولای که ګټه وه اوکه نه.
کما في البحر الرائق:۸/ ۱۵۷: الا تری ان المضارب اذا کان رأس ماله الفا فاتجر وربح الفا ثم اشتری بالالفین دارا في جوار رب المال ثم باعها بألفین فان رب المال لا یستحق الشفعة في حصة المضارب

تبعا لرأس المال لان المضارب وكيل في حقه وليس في بيع الوكيل شفعة وكذا في حق المضارب وهو البيع كذا في العتابيه كما في زيلعي وشلبي :٢٥٣/٥. شامي :٩.

اوكه مضارب ماسوى دمضاربت له سراى بل سراى خرڅ کړي او هغه دمضاربت له سراى سره نيبنتي و نو رب المال ددغه سراى په وجه دشفعي دعوى كولاى سي.

وكذا في الفتاوى الهنديه :٢٠٢/٥: كذا في المبسوط وفي زيلعي وشلبي ٢٥٢/٥: شامي ٩.

همدارنګه که رب المال بل سراى د مضاربت له سراى سره نښتي خرڅ کړ هم مضارب دعوى دشفعي كولاى سي پدي شرط که دمضاربت په سراى کي ګټه وه اوکه نه‌وه بيا يي نسي كولاى.

الفتاوى الهنديه : ٥/ ٢٠٢. اشترى المضارب ببعضها دارا واشترى رب المال الى جنبها دارا أخرى لنفسه فللمضارب أخذ ها بالشفعة بما بقى من مال المضارب كذا في محيط السرخسي زيلعي وشلبي ٢٥٣/٥: شامي : ٩.

که له دوو(٢) شريکانو متفاوضينو يو د هغه بل په مستقل سراى کي حق شفعه تسليم کړي نو پکښي صحيح دي د هغه بل حق ساقط سو.

الفتاوى الهنديه :٢٠٢/٥ :وتسليم أحد المتفاوضين شفعه صاحبه بسبب دار له خاصة ورثها جائز كذا في محيط السرخسي وكامله ٢٢٤:

مثلا: مآته له پلاره سراى په ميراث راپاته سو وس د هغه سراى په څنګ بل سراى خرڅ سو زيد زما شريک مشتري ته حق شفعه ورتسليم کړي نو زماحق شفعه ساقط سو.

که مشتري ځمکه په شرط خیار وا خست نو هم شفیع لره حق شفعه سته البته شفیع که یي واخلي بیا ده لره خیار نسته ځکه بائع خیار مشتري ته ورکړي وو اونه ده ته اوکه مشتري بیع فسخ کړي لمخه تر دعوی دشفیع بیا حق شفعه نسته.

۱۹۸ماده ۱۰۲۴. وهدایه.۴۰۲/۴:وطبع أخر الهدایه شرح البدایه ۳۶/۴:قال ان اشتری بشرط الخیار وجبت الشفعة ؛لأنه لا یمنع زوال الملک عن البائع بالاتفاق والشفعة تبتني علیه علی ما مر واذا أخذ ها في الثلث وجب البیع لعجز المشتري عن الرد ولا خیار للشفیع لانه یثبت بالشرط وهو للمشتري دون الشفیع وزیلعي :۲۵۴/۵:الشامي ۹:الکامله:

که بائع ځمکه خرڅه کړي او خیار شفیع ته شرط کړي یعني که دشفیع خوښه وه صحیح ده او که یي خوښه نه وه بیا صحیح نده او شفیع وویل: چي زما خوښه ده نو حق شفعه یي بیا نسته.

کما في الهدایه : وشرط الخیار لغیره فأمضی المشروط له الخیار البیع وهو الشفیع فلا شفعة له لان البیع تم بامضائه بخلاف جانب المشروط له الخیار من جانب المشتري شلبي علی هامش زیلعي ۲۵۴/۵:.

کما في الشامي :۳۹۸/۹: (و) تثبت (لمن شری) أصالة أو وکالة (أو اشتری له) بالوکالة، وفائدته أنه لو کان المشتري أو الموکل بالشراء شریکا وللدار شریک آخر فلهما الشفعة، ولو هو شریکا وللدار جار فلا شفعة للجار مع وجوده.

(قوله أصالة أو وکالة) لکن الوکیل یطلب الشفعة من الموکل، بخلاف

الأصيل فإنه لا يحتاج إلى الطلب كما في الخانية وكذا تثبت للأب لو شرى لطفله على ما يأتي بيانه في الفروع (قوله وفائدته أنه لو كان المشتري) أي أصالة أو وكالة. وبيان ذلک: باع أحد شريكين في دار حصته منها للآخر فاشترى لنفسه أو لغيره بالوكالة أو باع أحدهما حصته لوكيل الشريک الآخر فجاء ثالث وطلب الشفعة، فإن كان شريكا قسمت بينه وبين المشتري في الأول، أو بينه وبين الموكل في الثاني، وإن كان جارا فلا شفعة له مع وجود المشتري أو موكله لأنه شريک ما لم يسلم .

او همدارنګه که بائع سرای خرڅ کړي , او ووايي :چي ضامن مي شفيع دي که تاوان يا بل شی وه او شفيع ضمان قبول کړي بياهم حق شفعه نلري او همدارنګه که شفيع د بائع .لپاره د روپو د مشتری ضامن سي هم حق شفعه يي نسته شلبي : ۲۵۴/۵ .الشامي ۳۹۸/۹ :

الهدايه :شرح البدايه:۴۰۵/۳۸/۴ .وكذلک لو ضمن الدرک عن البائع وهو الشفيع فلا شفعة له وكذلک اذا باع .

الشامي ۳۹۸/۹. (قوله أو ضمن الدرک) بفتحتين أو السكون: أي الثمن عند الاستحقاق، فلا شفعة لضامنه في عقار البائع لأنه كالبائع قهستاني لأن ضمان الدرک تقرير للبيع كما في الدرر (قوله والأصل إلخ) ولأن أخذه بالشفعة يكون سببا في نقض ما تم من جهته وهو الملک واليد للمشتري، وسعي الإنسان في نقض ما تم من جهته مردود درر. أي بخلاف الوكيل بالشراء أو المشتري نفسه لأنه محقق لما تم من جهته، والله تعالى أعلم.

اوكه مشترى سراى ياځمكه واخلي او خيار شرط دشفيع لپاره شرط كړي بيا كه څه هم شفيع دده لپاره بيع نافذه كړي بيا خيار سته يعني اختيار د شفعي دحق لري .

الهدايه : شرح البدايه : ۳۸:۴۰۵/۴. كذلک اذا باع وشرط الخيار لغيره فأمضى المشروط له الخيار البيع وهو الشفيع فلا شفعة له لان البيع تم بامضائه بخلاف جانب المشروط له الخيار من جانب المشتر شلبي .۲۵۴/۵.

په هبه د مشاع کی که څه هم بعوض وي حق شفعه نسته مثلا زيد عمرو ته ووايي :نيم سراى د يو لک روپو په عوض کي در کوم او نيم دغسي در کوم نو دا هم دمشاع ده په هغه شی کي چي تقسيم قبلوي او داسي هبه نده جائز، ملک نه فائده کوي لهذا حق شفعه هم نسته پکي .

کما في الشامي : ۳۹۱/۹. قوله : ولا شيوع فيهما :وفي غاية البيان : قال أصحابنا اذا وهب نصف دار بعوض فلا شفعة فيه لان هبه المشاع فيما يقسم لا تجوز :

که اول وار په هبه کي عوض شرط کړي هر څو نه کم شی وي خو شفعه ساقطه وي اوکه اول وار شرط نسي وروسته موهوب له يو شی دهبې په عوض کي ورکړي نو بيا حق شفعه پکي سته .

کما في الشامي ۳۹۱/۹. قوله : وفي هبه بعوض مشروط :أى في العقد وصورته ان يقول :وهبت هذا لک على ان تعوضني كذا ،واجمعوا أنه لو قال وهبت هذا لک أنه بيع أتقاني وفي الخانيه : فلو كانت بغير شرط العوض ثم عوضه بعد ها فلا شفعة :مجله ۱۲۳ :ماده :۱۰۲۳:ي

که بائع مشتري ته څه روپۍ ورکمي کړي يايي وروبخښلي هغه أندازه روپۍ له شفيع څخه هم ساقطي دي البته که يي ټولي وروبخښلي نو شفيع به بيا ټولي ورکوي او هدارنګه که وکيل څه روپي وربخښلي نو

شفيع به بياهم تولي وركوي .
كما في الشامي : ٣٨٤، ٣٨٣ .
(وحط البعض يظهر في حق الشفيع) فيأخذ بالباقي، وكذا هبة البعض إلا إذا كانت بعد القبض أشباه. . . . . ولو علم أنه اشتراه بألف فسلم ثم حط البائع مائة فله الشفعة، كما لو باعه بألف فسلم ثم زاد البائع له جارية أو متاعا قنية. قوله وحط البعض) أي حط البائع بعض الثمن عن المشتري، فلو حط وكيل البائع: أي بالبيع لا حطه فكأنه هبة مبتدأة كما أوضحه الحموي.
(قوله فيأخذ بالباقي) أو يرجع على المشتري بالزيادة إن كان أوفاه الثمن كما في العزمية.
الهدايه : ٣٩٦/٩ : هنديه:زيلعي : ٢٤٨/٥ : .
اوكه يي كړي يايي بل عقد جديد په زياتو روپو ورسره وكړي نو زيات په شفيع نده لازم .
كما في الشامي : ٣٨٤، ٣٨٣. (وحط الكل والزيادة لا) فيأخذه بكل المسمى، (قوله وحط الكل والزيادة لا) أي لا يظهر إن في حق الشفيع، أما حط الكل فلأنه لا يلتحق بأصل العقد وإلا بقي العقد بلا ثمن وهو فاسد لا باطل, خلافا لما في الدرر، ولا شفعة في الفاسد كما يأتي، لكنه: أي حط الكل يظهر في حق المشتري قهستاني.
وأما الزيادة فلأنها وإن التحقت ففيها إبطال حق الشفيع لاستحقاقه الأخذ بالمسمى قبلها، والمراد الزيادة في الثمن. أما في المبيع فتظهر كما يذكره الشارح قريبا عن القنية لأنها من قبيل الحط.

بلکې چې هر وخت له مشتري هر څونه روپۍ بائع را کمه وي نو چې أخير په هرڅوروپو مبيعه سوه د دوی په منځ کښې په هغو روپو د شفيع هم سوه .

كما في الشامي ؛۳۸۳/۹. ولو حط النصف ثم النصف يأخذ بالنصف الأخير (قوله ولو حط النصف إلخ) النصف ليس بقيد . قال في الجوهرة: هذا أي عدم الالتحاق إذا حط الكل بكلمة واحدة، أما إذا كان بكلمات يأخذ بالأخيرة اه ط. قلت: ووجهه أنه كلما حط شيئا يلتحق بالعقد ويصير الثمن ما بقي، فإذا حط جميع ما بقي يكون حطا لكل الثمن وهو ما بقي فيأخذه به .

که دسرای يو وصف د أسماني أفت په وجه خراب سي نو شفيع د هغه وصف په وجه له مشتري څخه روپۍ نسي کمولی البته د پر ينبودلو اختيار ورته سته مثلاً د سرای خوني او ديوالونه

يا درختي د اسماني أفت په خرابي يا وچي سوي نو شفيع نسي ويلي چې دخوني يا دديوال او درختي أندازه روپۍ در څه کموم ليکن که د خونو خښتي يا تيران يا نور سامان يا ددرختو لرګي له مشتري سره پاته وي بيا يي هم کمولای سي اوکهٔ نه وي يا مشتري نه وی ور أخستي بيا يي نسي کمولای.

كما في الشامي :۳۸۸/۹.

(و) يأخذ (بكل الثمن إن خربت أو جف الشجر) بلا فعل أحد والأصل أن الثمن يقابل الأصل لا الوصف (و) هذا إذا (لم يبق شيء من نقض أو خشب) فلو بقي وأخذه المشتري لانفصاله من الأرض حيث لم يكن تبعا للأرض تسقط حصته من الثمن، فيقسم الثمن على قيمة الدار يوم العقد

وعلى قيمة النقض يوم الأخذ زيلعي. قلت: فلو لم يأخذه المشتري كأن هلك بعد انفصاله لم يسقط شيء من الثمن لعدم حبسه إذ هو من التوابع، والتوابع لا يقابلها شيء من الثمن وبالأخذ بالشفعة تحولت الصفقة إلى الشفيع، فقد هلك ما دخل تبعا قبل القبض ولا يسقط بمثله شيء من الثمن قاله شيخنا.

هدايه: ٣٩٩/٤. زيلعي: ٢٥١/٥. هنديه:

او که مشتري خونې يا درختې په قصد د خرابي کړي: يعني خوني يي ونړه ولې يايي درختي وبنکي بيا ددغو خونو او درختوپه أندازه روپۍ ځني ګرزولی سي نو په کومو روپو چي مشتري أخستي وي هغه به د ځمکي او خونو يادرختو دهغي ورځي چي دوی عقد کړي و په قيمت تقسيم کړي، د ځمکي حصه به مشتري ته ورکړي د خونو او درختوأندازه به شفيع را ګرزوي يا وپا ته سوی سامان لکه خښتي او تيران دا د مشتري دي.

كما في الشامي: ٣٨٨/٩: و)ياخذ (بحصة العرضة) من الثمن (ان نقض المشتري البناء) لانه قصد الاتلاف وفي الاول الأفة سماوية، ويقسم الثمن على قيمة الارض والبناء يو م العقد بخلاف انهدامه كما مر لتقومه بالجنس: هدايه: ٣٩٩/٤: زيلعي: ٢٥١/٥. هنديه:

او همدارنګه که ځمکه خرابه سي مثلا اوبه يي يو سي بيا هم د هغي ځمکي په أندازه روپۍ ځني کموالی سي که د مشتري په اختار خرابه سوي وي اوکه د أسماني أفت په وجه وي اوپه دي صورت کي هم شفيع اختار لري چي أخلي يي او که نه.

كما في الشامي: ۳۸۸/۹ .بخلاف ما اذا تلف بعض الأرض) بغرق حيث يسقطمن الثمن بحصته لان الفائت بعض الاصل زيلعي : هدايه : ۳۹۹/۴ :زيلعي ۲۵۱/۵ .هنديه .

اوكه مشتري اوشفيع په قيمت دبناء او درختو كي سره مختلف سول مثلا مشتري وايي په هغه ورځ يي قيمت لس زره (۱۰۰۰۰)روپۍ وي اوشفيع وايي چي پنځلس (۱۵۰۰۰۹) زره روپۍ وي نو قول د مشتري معتبر دي او شاهدان كه هر يوه تير كړه د ه هغه قول معتبر ده كه دواړو تير كړه بيا د شفيع معتبر دي عند امامنا الاعظم (رحمة الله تعلى عليه)

او صاحبان مباركان وايي : چي شاهدان هم د مشتري معتبر دي.

كما في الشامي :۹/ ۳۸۹ :قوله :يقسم الخ) فتقوم الأرض وعليها البناء وتقوم بغيره : فيقدر التفاوت يسقطمن الثمن :ط،قلت : فلو اختلفا في قيمة البناء فالقول للمشتري والبينة للشفيع عنده وعند هما للمشتري أيضا ولو في قيمة الارض يوم وقع الشراء نظرا الى قيمة اليوم لان الظاهر أنه كان كذلک فمن شهد له كان القول له أتقاني زيلعي : ۵/.

كه مشتري دسراى دبناء خبنتي او درختي خرڅي كړي ځمكي نو شفيع ددي بيع نقض (فسخه)كولاى سي لكه خودي د ځمكي دبيع نقض چي كولاى سي .

كما في الشامي : ۹/ ۳۸۹ .قوله : ان نقض المشتري البناء) فلو لم ينقضه ولكن باعه من غيره بلا أرض فللشفيع نقض البيع وكذا النبات والنخل طوري عن التتر خانيه :

كه بل سړي خوني يا درختي دشفعي په سراى كي ونړولي هم تاوان يي له مشتري څخه را كرځول كيږي مشتري وي بيا په هغه رجوع وكړي .

كما في الزيلعي وشلبي :٢٥٢/٥: هدايه : ٣٩٨/٤. كما في الشامي : ٣٨٨/٩: وأما الزرع فلا يقلع استحسانا لان له نهاية معلومة ويبقى بالاجر كما في البحر الرائق ١٥٥/٨ .وفي الزرع القيا س ان يقلع الا أننا استحسانا ولذا قلنا لا يقلع لان له نهاية وليس على الشفيع كبير ضرر باالتاخير لانه يترک بأجرته .

البته كه مشتري دشفعي ځمكه ته په كبنت كرلو تا وان پيشكړي نو شفيع د تاوان په أندازه روپۍ ځني كمه ولی سي .

كما في دررالحكام في شرح مجلة الاحكام ٧/ ٤٩٦. كذالک لو زرع المشتري العرصة المشتراة فحصل فيها نقصان بسبب الزراعة فأخذها الشفيع بعد ذلک بالشفعة فيقسم الثمن بين قيمة الارض يوم الاشتراء وقيمتها بعد الزراعة ويأخذ الشفيع الارض بحصتها من الثمن .

الهدايه: في الباب الثاني) كما في شرح المجلة لخالد الاتاسي ٦٣١/٣:.

كه مشتري سراى ته گچ يا چينه وركړي يا بل رنگ وركړي د هغه په وجه د سراى قيمت زيات سو نو وس شفيع ته اختيار دي كه حق شفعه پريږدي اوكه مشتري ته دهغه زيادت أندازه روپۍ وركړي .

مجلة ٢٠١ . كما في الشامي : ٩٨٧/٩ . قلت: وأما لو دهنها بألوان كثيرة أو طلاها بجص كثير خير الشفيع بين تركها أو أخذها وإعطاء ما زاد الصبغ فيها لتعذر نقضه ولا قيمة لنقضه، بخلاف البناء حاوي الزاهدي،

(قوله قلت وأما لو دهنها إلخ) بيان للفرق بين البناء والدهن، وكان ينبغي تأخيره عن قوله أو كلف المشتري قلعهما، فإن المخالفة بينهما من هذه الجهة تأمل (قوله أو طلاها بجص كثير) ليس من عبارة الزاهدي بل ذكره الرملي بعدها بقوله أقول وعلى هذا لو طلاها إلخ) مثله ف شرح مجله :۳/۶۳۱.

که مشتري دشفعي په ځمکه کښي خوني جوړي کړي يا يي درختي کينبودلي نو شفيع ته اختيار دي که ورته وايي: چي خپلي خښتي او درختي دي يو سه زما ځمکه را تسليم کړه اوکه د ځمکي روپۍ او ددرختو او خښتو قيمت ورکوي عند الطرفين.

او أبي يوسف صاحب (رحمة الله تعالى عليه) وا يي: چي دته اختيار دي که ځمکي روپۍ اودرختو اوخښتو قيمت ورکوي اوکه ور پر يږدي ځکه دطرفينو په اول صورت کي مشتري ته ډير تاوان دي.

ليکن علامه عبد الحکيم شهيد (رحمه الله تعالى) يلي دي: دشرح المجله ۳/ ۶۳۲. په حواله چي فتوى په قول د أبي يو سف(رحمه الله تعالى) ده او دا، قول دشا فعي او مالک (رحمها الله تعالى)دي او کامله ۲۱۴: هم دغه قول خوښ کړي دي.

کما في الهدايه:۳۹۸/۴: كما في الشامي:۳۹۷/۹(و) يأخذ الشفيع ((و) يأخذ الشفيع (بالثمن وقيمة البناء والغرس) مستحقي القلع كما مر في الغصب.(قوله كما مر في الغصب) من أن قيمتهما مستحقي القلع أقل من قيمتهما مقلوعين بقدر أجرة القلع ط.

وقال في شرح المجلة :۶۳۲/۳.وكان المجلة اختارت رواية أبي يو سف التي قال بها المالک والشافعي فقال بالناس وحيث الأمر السلطاني

بالعمل به فليس للقاضي ان يحكم بخلافه .
كما الزيلعي: ٥/٢٥٠/ هنديه: مجله ٢٠١ :ماده : ١٠٤٤/
كه مشتري ځمكه وا خيسته سره له ميوي د درختو او ميوه يي هم په بيعه كښي مقصود وګرزوله يايي دمشتري په كور كښي ميوه وكړه وروسته له شراء ،نو شفيع يي سره له ميوه اخيستلاى سي
كما في الشامي ٩/٣٩٠/ (إن ابتاع أرضا ونخلا وثمرا أو أثمر) بعد الشراء (في يده
(قوله وثمرا) بأن شرطه في البيع لأن الثمر لا يدخل في البيع إلا بالشرط لأنه ليس بتبع زيلعي (قوله بعد الشراء في يده) متعلقان بأثمر، وقيد بقوله في يده لأنه إذا أثمر في يد البائع قبل القبض ثم قبضه المشتري له حصة من الثمن، كما إذا كان موجودا وقت الشراء كفاية.
كامله : ٢٢١ . زيلعي :٥/٢-٢٥١ . هدايه:٣٩٩/٤.
بلكي كه د أسماني أفت په وجه ختم سي هم حصه ځيني كمولى سي ځكه په بيعه كي ميوه مقصود ګرزيدلي وه .
كما في الشامي : ٩/٣٩٠. أو هلک بأفة سماوية وقد اشتراها بثمرها سقط حصته من في الاول :أى شرائها بثمرها : البته كه مشتري ميوه پريكړه بيايي نسي ځني أخستلاى لكن په روپو كي يي تفصيل سته هغه دا كه در البته كه مشتري ميوه پريكړه بيايي نسي ځني أخستلاى لكن په روپو كي يي تفصيل سته هغه كه د درختو ميوه دبائع په كور كي كړي وه بيا دميوي أندازه روپۍ ځني راګرځولى سي او پدي حكم كي د مشتري او بائع او أجنبي فرق نسته .
كما في الشا مي :٩/٣٩٠ : وإن جذه المشتري) فليس للشفيع أخذه لما مر

(أو هلك بآفة سماويةوقد اشتراها بثمرها سقط حصته من الثمن في الأول) أي شرائها بثمرها (وبكل الثمن في الثاني) لحدوثه بعد القبض(قوله:ان جذه فليس للشفيع أخذه) وقوله المشتري ليس بقيد بل مثله البائع والأجنبي كما في غاية البيان (قوله فليس للشفيع أخذه) أي في الفصلين هداية: أي إذا اشتراه بالثمر أو أثمر في يده وكان عليه أن يقول وليس بالواو ويذكره بعد جواب الشرط الآتي

كامله: ٢٢١ :زيلعي ٥/٢-٢٥١ .هدايه:٣٩٩/٤.

او كه د مشتري په كوركي ميوه وكړي بيا يي نسي څني ګرزولی كما في الزيلعي :٢٥١/٥ .هدايه :٤/٢٩٩.

كما في الشامي : ٣٩٠/٩/أو أثمر) بعد الشراء (في يده وإن جذه المشتري) فليس للشفيع أخذه لما مر (وبكل الثمن في الثاني) لحدوثه بعدالقبض) قوله :سقط حصته من الثمن في الاول لانه دخل في البيع قصدا فيقابله شيء من الثمن هدايه (قوله لحدوثه بعد القبض) فلا يكون مبيعا الا تبعا فلا يقابله شئ من الثمن هدايه كامله : ٢٢١.

او دغه ميوه كه بائع وخوري لمخه تر قبض دمشتري بيا هم شفيع دهغي ميوې په حصه روپۍ څني را ګرزولي سي.

كما في البحر الرائق :١٥٦/٨ : ولو أكل البائع الثمر الحادث بعد القبض سقط حصته من الثمن فكذا هنا كما في الزيلعي :٢٥٢/٥.

كما في الشامي : ٣٩٠/٩. قوله : ان جذه وقوله المشتري ليس بقيد بل مثله البائع والأجنبي كما في غاية البيان.

كه شفيع اول خبر سو چي سراى په سل زره (١٠٠،٠٠٠) روپۍ خرڅ سوي دي نو حق شفعه يي پريښوده وروسته خبر سو چي بائع لس

(۱۰)يا شل(۲۰) زره روپۍ مشتري ته ور كمي كړي دي نو بيا هم دشفعي دعوى كولاى شي.
يا خبر سي چي بائع څه سامان يا موټر هم له ځمكي سره وركړي دي بيا هم دشفعي دعوى كولاى سي نو بيا به لک روپۍ دسراى او موټر په قيمت سره تقسيم كړي موټر به پرېږدي او ځمكه به په خپله أندازه روپو وا خلي (قيمت دبازار نرخ ته ويل كيږي) كما في الشامي : ۳۸۴/۹:
ولو علم أنه اشتراه بألف فسلم ثم حط البائع مأته فله الشفعة كما لو باعه بألف فسلم ثم زادالبائع له جارية او متاعة قنية (قوله ولو علم الخ)أشار الى أنه لا فر قتين ما اذا كان الحط قبل الأخذ بالشفعة أو بعده كما في التبين.
كه ذمي لكه عيسائ سراى وا خيست په شرابو يا خنزير باندي اوس نو كه يي شفيع هم ذمي و نو دغه أندازه شراب به مشتري ته وركړي او دخنزير به قيمت وركړي او كه يي شفيع مسلمان و نو د خنزير به قيمت وركړي؛ ځكه شراب او حنزير خو د مسلمان په حق كښي مال نده او همدارنګه كه ذمي دشفعي په وخت مسلمان سي هم دا حكم دي .
كما في الشامي :۳۸۶/۹.(و)يأخذ (بمثل الخمر وقيمة الخنزير إن كان) البائع والمشتري و (الشفيع ذميا) لا بد أن يكون البائع أيضا ذميا، وإلا يفسد البيع فلا تثبت الشفعة ابن كمال معزيا للمبسوط (و) يأخذ (بقيمتها) لما مر (لو) كان الشفيع (مسلما) لمنعه عن تملكها وتمليكها.
كما في ال بحر الرئق:۱۵۴/۸. (وبمثل الخمر وقيمة الخنزير إن كان الشفيع ذميا وبقيمتها لو مسلما) يعني إذا اشترى ذمي من ذمي عقارا

بخمر أو خنزير، فإن كان شفيعها ذميا أخذها بمثل الخمر وقيمة الخنزير.
هدايه: ٣٩٧/٤. زيلعي: ٥/٢٤٩.
او ذمي او مسلمان دواړه شفيع وي نو ذمي به نيم شراب ورکړي او مسلمان به دنيمو شرابو قيمت ورکړي.
كما في الشامي: ٣٨٦/٩. قوله: لو كان الشفيع مسلما) فلو مسلما وكافرا فالنصف لمسلم بنصف قيمة الخمر وللكافر بمثل نصفه أتقاني:
هدايه: ٣٩٧/٤. زيلعي: ٢٤٩/٥. البحر الرائق: ١٥٤/٨.
مشتري او شفيع په قيمت د شرابو او خنزير سره مختلف سو بيا قول د مشتري معتبر دي.
كما في الشامي: ٣٧٦/٩. (و)يأخذ (بمثل الخمر وقيمة الخنزير إن كان) البائع والمشتري و (الشفيع ذميا) لا بد أن يكون البائع أيضا ذميا، وإلا يفسد البيع فلا تثبت الشفعة ابن كمال معزيا للمبسوط (و) يأخذ (بقيمتها) لما مر (لو) كان الشفيع (مسلما) لمنعه عن تملكها وتمليكها.
البحر الرائق: ١٥٤/٨.

﴿مسئله﴾

كه وكيل دبائع د مشترى څخه څه روپۍ كمي كړي كه څه هم دى د بائع لپاره د هغو روپو په أندازه دي ليكن دغه روپۍ د شفيع څخه نه كميږي؛ ځكه مشتري خو ندي كمي كړي.
كما في الشامي: ٣٨٣/٩.
(قوله وحط البعض) أي حط البائع بعض الثمن عن المشتري، فلو حط

وكيل البائع: أي بالبيع لا يلتحق بأصل العقد فلا يظهر في حق الشفيع أشباه أي وإن صح حطه وبرئ المشتري، لأن الوكيل يضمن ما حطه فكأنه هبة مبتدأة كما أوضحه الحموي.
البحر الرائق.١٥٣/٨ .وفي المحيط خلافه قال ولو وكل رجلا ببيع داره فباعها بألف ثم حط عن المشتري مأته درهم وضمن ذلک للأمر ليس ان يأخذ بأللف لأن حط الوكيل لا يلتحق بأصل العقد شلبي .٢۴٧/٥.
مسئله : كه مشتريؤ دشفعي سراى ياځمكه په لک(١٠٠٠٠٠) روپۍ واخلي او بيا يي زيد ته په دوه لكه وركړي نو شفيع به هغه سراى ياځمكه له زيد څخه په لک(١٠٠٠٠٠)روپۍ أخلي اوزيد به ديو لک روپو رجوع بيرته په مشترى وكړي ځكه حق دشفيع خوتر اول عقد(بيع)پوري تړلي دي اول په يو لک سويده اوهمدارنگه كه شفيع ته مشكل په مبيعه كي پيدا كيدى هم په مشتري اول رجوع كولاى سي نه په مشتري ثاني شلبي :٢۴٨:الشامي :٩:
مسئله:كه مسلمان په دار حرب كښي سراى واخلي او مسلمان يي شفيع وي دشفعي حق هلته نلري ځكه داسلام احكام هلته نه جاري كيږي.
كما في الشامي :٣٨٦/٩.ولو شرى مسلم في دار الحرب دارا شفيعها مسلم لا شفعة له وان أسلم أهلها لان أحكامنا لا تجري فيها أثقانيا البحر الرائق :١٥۴/٨:وبمثل الخمر وقيمة الخنزير وان كان الشفيع ذميا بقيمتها لو مسلما يعني اذا اشترى ذمي من ذمي عقارا بخمر او خنزير فان كان شفيعا ذميا أخذ ها بمثل الخمر وقيمة الخنزير شلبي : ٢۴٩/٥:
مسئله : مستامن هم داسي دي لكه ذمي حق شفعه لري اومرتد حق شفعه نلري .

كما في الشامي: ٩/ ٣٨٦. قوله : والشفيع ذميا مثله المستامن لا المرتد قبل أو مات أو لحق خلافا لهما لا تثبت لورثته أما لو شرى فقيل لم تبطل شفعة الشفيع لتعلقها بالخروج عن الملک :زيلعي وشلبي : ٥/٢٥٠ البحر الرائق : ٨/١٥۴:

مسئله:که مشتري هرڅونه تصرفات وکړي شفيع هغه ټول ورفسخه کولای سي مثلا ځمکه خرڅه کړه يايي هبه کړه سره له تسليمه يا د هديرې يا مسجد لپاره وقف کړه نو شفيع يي بيا هم ځني أخستلای سي .

كما في الشامي :٩/٣٨٨. كما ينقض) الشفيع (جميع تصرفاته)أى المشتري (حتى الوقف والمسجد والمقبره)
والهبة زيلعي وزاهدي .

كما في البحد الرائق:٨/١٥٥. ولهذا تنتقض جميع تصرفات المشتري حتى الوقف والمسجد والمقبرة بخلاف الموهوب على قول أبي حنيفة والمشتري كما في الهدايه :۴/٣٩٨. زيلعي: ٥/ كامله: ٢١.هنديه :

مسئله : که يو ار قاضي دشفيع لپاره دشفعي فيصله وکړي نو بيا شفيع ته پريښودل جائز نده البته تر قضاء لمخه يي پريښودلي سي .

كما في الشامي : ٩/ ٣٩١. قضى بالشفعة للشفيع ليس له تركها) شرح وهبانية لتحويل الصفقة اليه بخلاف ما قبل القضاء.

مسئله : که شفيع ځمکه واخلي بناء او درختي پکښي وکوي وروسته بل سړي دعوى وکړي نو دي درېورجوع نسي کولای ځکه دي د بائع او يا مشتري لخوا ندي دوقغ سوى .

اوکه داسي صورت دبائع اومشتري په منځ کي جوړ سي نو مشتري بيا

په بائع د ټولو رجوع کولای سي دبائع لخواه دوقع سوی دي .
كما في الهدايه :٣٩٩/٤.كما في الشامي :٣٨٨/٩. (ورجع الشفيع بالثمن فقط، إن) أخذ بالشفعة ثم (بنى أو غرس ثم استحقت) ولا يرجع بقيمة البناء والغرس على أحد لأنه ليس بمغرور، بخلاف المشتري.
(قوله ولا يرجع بقيمة البناء والغرس) يعني بنقصان قيمتهما، وعن أبي يوسف أنه يرجع (قوله على أحد) أي سواء تسلمها من البائع أو من المشتري ط (قوله لأنه ليس بمغرور) لأنه أخذها بالشفعة جبرا كما مر (قوله بخلاف المشتري) إذا استحق ما اشتراه بعد البناء لأن البائع غره بالعقد فيرجع عليه بما خسر.زيلعي :٥/هنديه:
مسئله: كه ځمكه يا سراى مشتري په أجل مجهول واخلي (دغنمو تر لو يا دحاجيانو تر راتګ پوري)نو شفيع حق شفعه نلري ځكه دا بيع فاسده ده او په بيعه فاسده كښې حق شفعه نسته .
كما في الكا مليه: ٢٢٠: كما في الشامي ٣٩٢/٩ :فيه شرى دارا الى الحصاد فليس للشفيع أن يعجل الثمن و يأخذ ها بالشفعة لانه ملكها ببيع فاسد اه قلت : وسيجئ أنه لا شفعة فيما بيع فاسد ا بعد القبض لاحتمال الفسخ نعم اذا سقط الفسخ ببناء ونحوه وجبت .
مسئله: كومه موا ته (خرابه) ځمكه چي د أبادۍ ده ځمكي سره نيږدي وي دهغې په أبادۍ سره حق شفعه نه ثابتيږي .
كما في البحر الرائق : ١٤٣/٨: وفي التتارخانيه : وانما تجب في الأراضي التي يملك رقابها حتى لا يجب في الأراضي التيي حازها الامام لبيب المال وتدفع للناس مزارعة فصار لهم فيها بناء وأشجار فان بيع هذه الارضي

باطل وأحسن الفتاوى :٨٢/٤. بحواله شامي ١٥٢/٥ :وطبع جديد :٩.
مسئله:كه چيري ديوې ځمكي د أوبو كولو لپاره دوه بيل بيل لښتې (وياله)وي نو ددواړو ويالو خلک پدي ځمکه کښې حق شفعه لري.
كما في أحسن الفتاوى ٨٤/٤. الشامي :٣٦٢/٩. كما في شرح مجله: لخالد الأتاسي :٥٤٩/٣. ماده :١٠٠٨.
مسئله: كه دځمكي لپاره دوه لښتي وي يو زوړ او بل نوى وي نو كه له دواړو لښتو اوبه كيده ددواړو لښتو خلک حقي شفعه پکښي کي لري ، اوكه يو لښتي پاته سوي وي نو بيا دهغه بل لښتي حق دشفعي لري او دپاته سوي والايي نلري .كما في أحسن الفتاوى :٨٤/٦. الشامي ٣٤٤/٩.
مسئله:زيد په واله كي خپله حصه لري او دعمرو بيا په ځمكه كي واله تيره سوې ده نوزيد په حق شفعي كي مخته دي تر عمرو .
كما في الدرالحكام في شرح مجله الأحكام ٣١٦/٧. أما اذا كان لأحد في أما اذا كان لأحد في دار أخرحق المسيل مجردا يعني اذا طريق الماء ملكا لصاحب الدار وكان لذلک الشخص حق تسبيل الماء فقط فلايكون مشاركا في حق المبيع أما اذا كان طريق الماء ملكا للشخص المذكور أيضا فحينذ يكون شريكا كما فى شرح مجلةالأتاسي :٥٨٣/٣ :ماه :١٠١٦ :
كه يوه خمكه لاره اولښتي نلري دخرڅ په وخت وروسته دبيعي يي لښتي اولاره پيداکړه پدغه ځمكه كي صرف ګاوندی حق شفعي لري شريک د لښتي اولاري يي نلري ب.

كما في أحسن الفتاوي :١٨٣/٦.كما في الشامي :٣٦٦/٩.ط قديم ١٥٤/٥:فلو بيع عقارا بلا شرب وطريق وقت البيع فلا شفعة فيه من جهة حقوقه .

دلته که څه هم د عالمګیري :١٧١/٥. عبارت له شامي ٣٦٦/٩.سره تضاد لري ليکن شرح مجله٥٨٢/٣:ماده ١٠١٥.او أحسن الفتاوی ٨٥/٦/ يي تطبيق کړی دي چي دشامي عبارت پدي حمل دي چي دبيعي په وخت لاره اولښتی لري ،ليکن ځمکه بی له لارې اولښتې خرڅه سي نو بيا حق شفعه شفيع لره ستته .

سوال :دشفيع دځمکي او مبيعي ځمکي تر منځ يوه. وړوکې واله تيره سويده وس حق شفيع لره دي او که دويالي دخاوند ؟

جواب : شفيع خو حق دشفعي نلري اود ويالې خاوند که وياله اوځمکي مالک وي ،ياپه دغه وياله مبيعي (خرڅه سوي)ځمکي ته اوبه ورځي بيا حق دشفعي لري والا فلا .

أحسن الفتاوی: ٨٤/٦.

شفيع ځمکه په يولک (١٠٠٠٠٠)روپی وا خيسته اوس په خط کنبي يونيم لک(١٥٠٠٠٠)روپی ليکي چي شفيع يي وا نخلي نو دا جائز نده .

أحسن الفتاوی ٨٧/٦، وأيضا لا ضرور ولا ضرار في الاسلام.

يوه بنده کوڅه ده په هغه کي يو سرای دپنځو(٥) کسانوسره شريک دي اوپه سرای کي بيا يوه ټوټه د دوو(٢) کسانو سره شريکه ده مثلا :يوه کوټه يي سره شريک ده ا وس که دغه ټوټه خرڅه سي اول حق دټوټي (کوټي) دشريک دي ،که هغه نه أخيسته بيا دسرای دشريکانو

دشفعي حق دي كه هغو هم نه اخيسته بيا دكوڅي دخلكو حق دي، كه هغوهم نه أخيسته بيا د ګاونډيانو حق دي .

كما في الفتاوى الهنديه:۱۶۶/۵: كما في لو اجتمع الخلطة والجوار ابتداء وبيان هذا دار بين رجلين في سكة غير نافذة طريقها من هذه السكة باع أحدهما نصيبه فالشفعة لشريكه فأن سلم فالشفعة لاهل السكة كلهم يستوي فيها الملاصق وغيره الملاصق لانهم كلهم خلطاء في الطريق فان سلموا فالشفعة للجار الملاصق.

او همدارنګه كه يو سراى د دوو(۲) خلګو په منځ كي سره شريک وي په بنده كوڅه كي اوزيد بيا مثلا، له دغه سراى سره ديوال شريک وي، اوس نو چي دغه سراى خرڅ سي اول حق دشفعي د سراى دشريک دي كه هغه نه غوښته بيا د زيد ده (چي د ديوال شريک دي) كه هغه هم نه غوښته بيا د تولی كوڅي د خلګو حق دي كه هغو هم نه غوښته بيا د ګاونډيانو حق دي كوم سړي چي دده دكورسره يي كور دي او دروازه يي په بله كوڅه كي خلاصه ده .

كمافي الفتاوى الهنديه :۱۶۶/۵ . بيت في دار في سكة غير نافذة والبيت لاثنين والدار لقوم فباع أحد الشريكين نصيبه من البيت فالشفعة أولا للشريک في البيت فإن سلم فللشريک الدار، فإن سلم فلأهل السكة الكل في ذلک على السواء فإن سلموا فللجار الملاصق وهو الذي على ظهر هذه الدار وباب داره في سكة أخرى.

كه په سراى كي ډيري ودانۍ(ماڼۍ) يا خوني وي نو بيا له دغه سراي يوه ودانۍ يا خونه يا ټوټه ځمكه خرڅه سوه نو ګاونډيان ددي سراى حق دشفعي لري كه له هر جانبه دسراى سره متصل وي .

دار كبيرة فيها مقاصير باع صاحب الدار مقصورة أو قطعة معلومة أو بيتا فلجار الدار الشفعة فيها كان جارا من أي نواحيها ؛ لأن المبيع من جملة الدار والشفيع جار الدار فكان جارا للمبيع.

اوكه يوار شفيع حق دشفعي تسليم كړي وروسته بيا دغه ودانۍ يا خونه يا ټوټه ځمكه خرڅه كړي ،بيا نو ددغه ټول سراى ګاونډيان حق دشفعي نه پكښې لري بلكه هغه څوک چي له دي ودانۍ يا خوني سره متصل يي ودانۍ يا خونه وي هغه يوازي حق شفعه پكښي لري.

فان سلم الشفعة ثم باع المشتري المقصورة او القطعة المبيعة لم تكن الشفعة الا لجارها لان المبيع صار مقصودا ومقرا بالملک فخرج من أن يكون بعض الدار .كذافي محيط السرخسي الهنديه: ١٦٧/٥ .

﴿خيار الرؤية والعيب في الشفعة﴾

شفيع لره په مشفوعه سراى كي خيار رويت او عيب سته مثلا مشفوعه سراى واخلي ليدلى يي نه وي نوهغه ته خيار رويت سته هر وخت چي يي ويني كه يي خوښ نسو پر ينبودل يې سي يا عيب پكښي وي هم رده ولى يي سي كه څه هم اول وار يي برأت عن العيب شرط كړي .

كما في الهدايه ۴ر۳۹۴ .كما في الشامي :٣٨١/٩ : (للشفيع خيار الرؤية والعيب وإن شرط المشتري البراءة منه) دون خيار الشرط والأجل اختيار. وفي الأشباه: الشفعة بيع في كل الأحكام إلا في ضمان الغرور للجبر.

(قوله للشفيع خيار الرؤية والعيب) لأن الأخذ بالشفعة شراء من المشتري إن كان الأخذ بعد القبض،وإن كان قبله فشراء من البائع لتحول الصفقة إليه، فيثبت له الخيار إن فيه كما إذا اشتراه منهما باختيارهما ، ولا يسقط خياره برؤية المشتري ولا بشرط البراءة منه، لأن المشتري ليس بنائب عن

الشفيع فلا يعمل شرطه ورؤيته في حقه زيلعي. ٥/ كذا في ردالمحتار: ٩/٣٦٤: كامله: ٢١٤: هنديه:

خيار شرط شفيع لره نسته چي ووايي: ما ته دري ورځي اختيار دي اوأجل (مده) هم ده لره نسته چي دونه وخت په پوريي راکړه که څه هم د مشتري لپاره وي.

كما في الشامي: ٩/٣٨١: (للشفيع خيار الرؤية والعيب وإن شرط المشتري البراءة منه) دون خيار الشرط والأجل اختيار. وفي الأشباه: الشفعة بيع في كل الأحكام إلا في ضمان الغرور للجبر. (قوله: دون خيار الشرطوالأجل) أى لعدم الشرط كما في القهستاني والأجل عطف على خيار الشرط لا على الشرط :أه والمراد الأجل في الثمن.

که مشتري لره خيار رؤيت او عيب شرط سي په بيع د بائع کي نو د حق دشفعي ما نع ندي يعني حق شفعه بياهم سته.

كما في المجله: ١٩٨: ماده: ١٠٢٦. كما في الرد المحتار ٩/ ٣٦٤. او بخيار للمشتري (قوله:او بخيار للمشتري)متعلق بمحذوف منصوب على الحالة عطفا على قوله: ولو فاسدا المقرون بالواو الحالية لا على مدخول لو لفساد المعنى لانه لو كان الخيار للبائع او لهما فلا شفعة اتفاقا لأنه المبيع لم يخرج عن ملك بائعه،بخلافه ما اذا كان للمشتري.

که مشتري يو وار سرا ی واخلي او شفيع حق ور تسليم کړي وروسته يي مشتري بيرته بائع ته په خيار رؤيت او يا خيار شرط اوعيب ور رد کړي په قضاء د قاضي نو شفيع لره حق شفعه نسته البته که يي په خيار عيب ور ردکړي بيله قضاء د قاضي او يا بيع فسخه کړي نو بيا شفيع د شفعي حق لرى.

كما في الهدايه : ۴/ ۴۰۳ :كما في الشامي: ۹/۳۹۶/أو رد بخيار رؤيةأو شرط أو عيب بقضاء) متعلق بالأخير فقط خلافا لما زعمه المصنف تبعا للدرر (بعدما سلمت) أي إذا بيع وسلمت الشفعة ثم رد المبيع بخيار رؤية أو شرط كيفما كان أو بعيب بقضاء فلا شفعة لأنه فسخ لا بيع (بخلاف الرد) بعيب بعد القبض (بلا قضاء أو بإقالة) فإن له الشفعة، لأن الرد بعيب بلا قضاء,الاقالة بمنزلة بيع مبتداء.

قال في الشامي : قال الذخيرة : إذا سلم الشفيع الشفعة ثم إن المشتري رد الدار على البائع، إن كان الرد بسبب هو فسخ من كل وجه نحو الرد بخيار الرؤية أو الشرط وبالعيب قبل القبض بقضاء أو بغير قضاء وبعد القبض بقضاء لا يتجدد للشفيع حق الشفعة، فإن كان الرد بسبب هو بيع جديد في حق ثالث، نحو الرد بالعيب بعد القبض بغير قضاء والرد بحكم الإقالة تتجدد للشفيع الشفعة.اه زيلعي: ۲۵۵/۵ .كامله:هنديه.

﴿اختلاف في الشفعة﴾

كه شفيع او مشترى د سراى په قيمت يا ځمكي كي سره مختلف سو مثلا شفيع ويل په يولک دي

أخيستى دى اومشتري ويل په يو نيم لک مي أخيستى دى نو قول د مشتري معتبر دي پدي شرط كه شاهدان يوه هم نكړه تير اوكه يى شاهدان تير كړبيا چي هر يوشاهدان تيركړو نو د هغه قول معتبر دي . اوكه دواړو شاهدان تيركړو بيا دشفيع شاهدان معتبر دي .

كما فى الشامي :۹/ ۳۸۱.(وان) (اختلف الشفيع والمشتري في الثمن) والدار مقبوضة والثمن منفرد (صدق المشمري) بيمينه لانه منكر ولا يتحالافان (ان بر هنا فالشفيع أحق)لان ببينة)ملزمة

زيلعي : ۵: هدايه ۴/ ۳۹۵. هنديه : كامله: ۲۱۸.
كه د مشتري و بائع ترمنځ اختلاف راسي مشتري وايي په يو لک مي اخستی دي بائع تر هغه دکمو دعوی کوي وايي چي په اتيازره (۸۰۰۰۰) دي را څخه اخستی دي نو شفيع به يي د بائع په قول اخلي.

كما في الشامي : ۹/ ۳۸۲ : ادعى المشتري ثمنا وادعى (بائعه اقله منه بلا قبضه فالقول له) أي للبائع (ومع قبضه للمشتري)

وكه بائع د زياتو دعوی کوله چي په يو نيم لک دي اخستي دئ نو دواړه به قسم کوي بائع ته به مبيعه ورکول کيږي مشتري ته به روپۍ وکه يو نه قسم څخه انکار وکړي نو دهغه بل جانب مقابل قول معتبر دي وشفيع به يي هم د هغه په قول اخلی:

كما في الهدايه: ۴/ ۳۹۵: كما في الشامي: ۹/ ۳۸۲: ولو عكسا فبعد قبضه القول للمشتري وقبله يتحالفان وأي نكل اعتبر قول صاحبه.

كه مشتري ووايي چي : شفيع زما سره مخ مخ سوالو د شفعي دعوی يي نه ده كړي وشفيع وايي ما وكړه نو اوس به شفيع شاهدان تيروي كه شاهدان نه وي نو مشتري ته به قسم ورکوي كه يي قسم وكړ نو حق شفعه د شفيع ساقط دي وكه يي نه وكړي بيا ندي ساقط.

كما في الكامله: ۲۱۵. كما في الشامي: ۹/ ۴۱۲: ولو أنكر المشتري (طلب الاشهاد عند لقائه حلف) المشتري (على البتات) لأنه يحيط به علما دون الأول حاوي الزاهدي (قوله: عند لقائه) قيد به لأنه لو أنكر طلب الاشهاد عند لقاء البائع وعند الدار حلف على العلم لعدم احاطة علمه.

اوکه دواړو شاهدان تیر کړه نو شاهدان دشفیع معتبر دي عند الطرفین اوپه نزد دأبي یوسف (رح) شاهدان دمشتري معتبردي .
کما في الکامله :۱۲۵. کما في الشا مي : ۴۱۲/۹. ولو برهنا فبینة الشفیع أحق وقال أبو یوسف (رح) بینة المشتري (قوله: فبینة الشفیع أحق) لأنها تثبت الأخذ والبینات للاثبات.
که شفیع او مشتري سره مختلف سو مشتري ویل : دغه سرای چي ته دشفعي سبب بولي دا ستا ملک ندي شفیع وویل : ملک مي دي اوس نو چي هر یو شاهدان تیر کړي دهغه قول معتبر دي که شاهدان نه وي نو مشتري ته قسم ورکول کیږي چي ستا دي قسم وي چي ته نه یي خبر چي دغه سرای دشفیع دي؟
الشامي :۴۱۱/۹: وللجار تحلیفه) أی تحلیف المشتري (علی العلم عند أبي یوسف وبه یفتی (قوله وللجار تحلیفه علی العلم) لانه تحلیف علی فعل غیره منح فیقول لا أعلم أنه مالک لما یشفع به کامله:
که موږ مخته وویل : چي دکچني لپاره حق شفعه د بلوغ تر وخته پوري ستنه کله چي زید بالغ سو نو په عمرو یي دشفعي دعوی وکړه عمرو ورته وویل چي دا ځمکه بکر په ما خرڅه کړه په هغه وخت کي چي ستا پلار ژوندی و او دشفعي دعوی یي نده کړي نو اوس ستا حق نه کیږي او زید وایی یا زما پلار په هغه وخت کي کړي وه او په دي یي شاهدان هم تیر کړل چي مړو اوعمرو بیاپه دي شاهدان تیر کړل چي د زید پلار ژوندی و نو اوس شاهدان د شفیع (زید) معتبردي نو حق شفعه یي ثابت دي أحسن الفتاوی : ۸۰/۶.

﴿ما تبطل به االشفعة﴾

که اول وار شفيع خبر سي اوپه هغه مجلس کي طلب شفعه ونکړي نو حق يي ساقط دي پدي شرط چي په مشتري او روپو باندي خبر سي که پدي شيانو خبر نه وي بيا يي حق ندي ساقط.

الشامي :۹/۳۷۴، ۳۹۸، ۴۰۰، باب: باب ما يبطلها (يبطلها ترک طلب المواثبة) ترکه بأن لا يطلب في مجلس أخبر فيه بالبيع ابن کمال، وتقدم ترجيح. ولاتنس ما قدمنا ه عن الخانيه وفتاوى المصنف ان الشفيع اذا سمع بالبيع فسکت لا تبطل شفعة ما لم يعلم المشتري والثمن کالبکر اذا أستؤمر.

الهدايه: ۴/۴۰۴ :کامله :زيلعي ۵/۲۵۷: هنديه :

جهل (نا خبرتيا) ته اعتبار نسته چي زه نه وم خبر چي زما حق سته او يا شاهدان په سرای يا په بائع اومشتري تير نکړي بيا يي هم حق شفعه ساقط ده .

البته که مشتري تصديق ورکړي بيايي حق سته الشامي : ۹/۳۷۴/۴۰۰/۳۹۸.

او (أو) ترک طلب (الإشهاد) عند عقار أو ذي يد لا الإشهاد عند طلب المواثبة لأنه غير لازم (مع القدرة) کما مر (و) يبطلها (تسليمها بعد البيع) علم بالسقوط أو لا (فقط) لا قبله کما مر(قوله يبطلها ترک طلب المواثبة) أي ولو جاهلا بثبوت الطلب له؛ لما في الخانية: رجلان ورثا أجمة وأحدهما لم يعلم بالميراث فبيعت أجمة بجنبها فلم يطلب الشفعة فلما علم أن له فيها نصيبا طلب الشفعة في المبيعة قالوا تبطل شفعته والجهل ليس بعذر(قوله لأنه غير لازم) کذا قال في الهداية، بل فائدته

مخافة الجحود فيصح الطلب بدونه لو صدقه المشتري كما قدمناه،هدايه:۴/۴۰۴/كامليه :زيلعي:۵/۲۵۷.هنديه:
که شفیع له بیعي وروسته حق شفعه تسلیم کړي بیایي هم حق شفعه ساقط ده حتی که هیڅوک معلوم نکړی بیایي هم حق نسته البته که يي تر بیعي لمخه تسلیم کړي بیا نده صحیح :یعني نده ساقط کما في الشامي : ۹/ ۳۹۹. قوله ويبطلها تسليمها) قال في التتارخانيه :اذا قال سلمت شفعة هذه الدار صح وان لم يعين أحدا .
که دمشتري پلاس کي مبیعه وي اودی بائع ته ووایي : چي ما حق تسلیم کړي دي لاهم ساقط دي .
الشامي : ۹/ ۳۹۹. وكذا لو قال : للبائع سلمت لک شفعها ولو بعد قبض المشتري استحسانا لأن معناه لأجلک:
او یا وکیل دمشتري مبیعه مشتري ته تسلیم کړي وي او شفیع وکیل ته ووایي : چي زه حق شفعه نه غواړم هم حق شفعه ساقط ده :
الشامي ۹/ ۳۹۹. وكذا لو قال للوكيل ولو بعد الدفع الى المؤكل استحسانا .
او که أجنبي سړي شفیع ته ووایي: چي مشتري ته حق شفعه ور تسلیم کړه نو شفیع ووایي :چي
ما تسلیم کړی دي هم حق شفعه ساقط ده او که بې له طلبه د أجنبي شفیع ورته ووایي بیا نده ساقط الشامي : ۹/ ۳۹۹: ولو قال لأ جنبی فان مسبوقا بكلام ؛كقوله : سلم لهذا المشتري فقال الشفيع سلمها لک صح ولو ابتداءكلام فلا .

که شریک دلاري او لبنتي په دعوی دشفعي کي شروع وکړي او ګاونډی شفیع ووايي : چي زه حق نه غواړم ،اوس نو که شریک دلاري اولبنتي دعوی پریږدي نو ګاونډی بیا دعوی دشفعي نسي کولای .
الشامي : ۳۹۹/۹. واذا سلم الجار مع قيام الشريک صح ، فان سلم الشريک بعده ليس للجار الأخذ اه ملخلصا .
پلار او وصي که د کچني هلک حق شفعه وبخښي اويا شفعي په حق خبر سي طلب يي ونکړی پدې کي دري صورتونه دي (۱) دغه سرای یا ځمکه دعرف یا رواج له بیعي سره موا فق وي،
(۲) اویا تر هغه کم خرڅه سوي وي بیا دي تسلیمول وکړي .
او یا یي طلب نه وکول نو دکچني حق شفعه ساقط دي که بالغ سي بیا حق شفعه نسي طلب کولای
(۳)اوکه دعرف اورواج تر بیعي ډیر ګران خرڅ سي بیا یي دوی تسلیم وکړي یا یي طلب نه وکړي نو دکچني حق شفعه ساقط نده .
مجله : ماده : ۱۰۳۵. زیلعي : ۲۶۴/۵ : الشامي : ۴۰۰/۹(ولو) (ولو) تسليمها (من أب ووصي) خلافا لمحمد فيما بيع بقيمته أو أقل ملتقى.
(قوله خلافا لمحمد) حيث أبطل التسليم وجعل للصغير أخذها بعد البلوغ وعلى هذا الخلاف إذا بلغهما شراء دار بجوار دار الصبي فلم يطلبا ابن ملک (قوله فيما بيع بقيمته أو أقل) فلو بأكثر مما لا يتغابن الناس في مثله جاز التسليم اتفاقا والأصح أنه لا يجوز اتفاقا لأنه لا يملک الأخذ فلا يملک التسليم ابن ملک ، ومقتضاه أنه لو سلم فيما بيع بأكثر ثم بلغ الصبي له الطلب .

هدایه : ۴۰۷/۴: هندیه : البحر الرائق ۱۶۷/۸.وکیل په شراء (أخستلو) دسرای که دشفعي حق تسلیم کړي یا یي طلب نکړي نو دشفیع حق ساقط ده.

رافعي : على الشامي : ۴۰۰/۹: تسليم الشفعة من الوكيل بالشراء صحيح بالاجماع وكذا سكوته اعراض بالاجماع.

البحر الرائق : ۱۶۷/۸: وأما الوكيل بالشراء فتسليمه الشفعة صحيح بالاجماع وكذا سكوته اعراض بالاجماع زیلعي ۲۶۴/۵: هندیه :

که پلار یا وصي دکچني سرای یا ځمکه خرڅه کړي نو دشفعي دعوی نسي کولای ځکه د ه خرڅ کړي ده او یا خپل سرای اوځمکه خرڅ کړي هم دشفعي دعوی نسي کولای دکچني لپاره البته کچنی که غټ سي بیا د شفعي دعوی کولای سي.

وفي التتمة وإذا بيعت بأقل من قيمتها فتسليم الأب والوصي لا يصح والصغير على شفعته إذا بلغ وفي الأصل إذا اشترى الأب لنفسه دارا وابنه الصغير شفيعها فلم يطلب الشفيع للصغير حتى بلغ قياس قول أبي حنيفة لا شفعة للصغير أما الوصي فهو على شفعته ويجب أن يكون الجواب في شراء الأب دارا وابنه الصغير شفيعها على التفصيل إن لم يكن فيه ضرر فلو وقع بأكثر من القيمة بما يتغابن الناس فيه لا يكون للصغير شفعة إذا بلغ، وإن وقع شراء الأب بأكثر من القيمة بما لا يتغابن الناس فيه كان للصغير الشفعة إذا بلغ. اه.

رد المحتار: ۴۱۴/۹. شرى: لطلبه والأب شفيع له الشفعة والوصي كالاب وزيلعي: ۲۶۳/۵. هدایه: ۴۰۵/۴.

او وکیل په طلب شفعه کښي که حق شفعه تسلیم کړي یا په خپله

مؤکل چي شفیع د اقرار تسلیم وکړي نو حق شفعه ساقط ده پدي شرط کې د قاضي مخته تسلیم اواقرار وکړی او که دقاضي مخته نه وي بیا نده ساقط .رافعي والشامي ۴۰۰/۹. الوکیل بطلبها اذا سلم او الشفعة (او قر اعلی المؤکل بتسلیمه الشفعة صح لو کان التسلیم او الاقرار (عند القاضي) والا لم یصح لکنه یخرج من الخصومة وسکوت من یملک التسلیم تسلیم (قوله : والا لم یصح) هذا قولهما وقول أبي یوسف (رح) الاول .

البحر الرائق : ۱۶۷/۸ .وقال آخرا : یصح مطلقا کما في التتارخانیة. وفیها عن الولو الجیة تسلیم الشفعة من الوکیل صحیح وإن لم تکن الدار في یده عندهما ، وعلیه الفتوی خلافا لمحمد (قوله وسکوت من یملک التسلیم تسلیم) ومنه الأب والوصي کما قدمنا آنفا ، الوکیل بطلب الشفعة أما الوکیل بالشراء فتسلیمه الشفعة صحیح بالإجماع وکذا سکوته إعراض بالإجماع والوکیل بطلب الشفعة إنما یصح تسلیمه في مجلس القاضي عند الإمام وعند أبي یوسف یصح في مجلس القاضي وغیره وعند محمد وزفر لا یصح تسلیمه أصلا .

رافعي : علی الشامي : ۹/ ۳۰۰. وعلی قولهما الفتوی خلافا لمحمد زیلعي : ۲۶۴/۵/ هندیه : ۴۰۷/۴: کامله : ۲۲۲، ۲۲۰.

که شفیع مړ سي حق شفعه یي ساقط دي پدي شرط چي قاضي د ده لپاره فیصله نه وي کړي او که مشتري مړ سي بیانده ساقط نو لهذا دمشتري په یوار وصیة کې نه خرخیږي که یي بالفرض قاضي یا وصي خرڅ کړي شفیع یي فسخه کولای سي او یا مشتري په هغه سرای او ځمکه کې وصیة وکړي چي مسکینانو ته یي ورکړي . یا یي مسجد او

مدرسې ته ورکړي هم شفيع يي فسخه کولای سي لکه دده په ژوند کي چي دا تصرفات شفيع يي فسخه کولای سوای الشامي ۴۰۱/۹
(و) يبطلها (موت الشفيع قبل الأخذ بعد الطلب أو قبله) ولا تورث خلافا للشافعي، ولو مات بعد القضاء لم تبطل (لا) يبطلها (موت المشتري) لبقاء المستحق. زيلعي : ۲۵۲/۵ : كامله : هنديه:
که شفيع ته مشتري وويل :که مي په دري ورځو کي روپۍ درنکړې نو حق شفعه يي نسته او بيا يي په دري ورځو کي نکړي اداء نو هم حق يي نه سا قطيږي خلاصه الفتاوى : ۴۵۵/۴:
كامليه: ۲۲۱،۲۲۲: الشامي : ۴۱۴/۹: لو قال ان لم أجي بالثمن الى ثلاثة أيام فأنا برئ من الشفعة
فلم جئ قال عامة المشايخ لا تبطل شفعة وهو الصحيح:
که شفيع حق شفعه خرڅ کړي په مشتري باندي يا صلح ورسره وکړي نو حق شفعه يي ساقط سو او روپۍ يي حق نه کيږي الشامي : ۴۰۰/۹: (و) يبطلها منها على عوض) أى غير المشتري لما يأتي (وعليه رده) لأنه رشوة (و) يبطلها (بيع شفعة لما ل) ولا يلزم المال وكذا الكفالة بالنفس بخلاف القود : هدايه : ۴۰۴: زيلعي ۲۵۷/۵.
كامليه : ۲۲۱.
او همدارنګه که کفيل بالنفس له کفالي خلاصوالی له مکفول له څخه واخلي هم کفاله ساقط سوه او روپۍ مکفول له حق نه کيږي .
الشامي : ۴۰۰/۹: (و) يبطلها منها على عوض) أى غير المشتري لما يأتي (وعليه رده) لأنه رشوة (و) يبطلها (بيع شفعة لما ل) ولا يلزم المال وكذا الكفالة بالنفس بخلاف القود : هدايه : ۴۰۴: زيلعي ۲۵۷/۵. كامليه : ۲۲۱.

او شفیع صلح د نیمی سرای په نیمی روپو ورسره وکړي بیا صلح صحیح ده حق یي نده ساقط :

الشامي ۹/ ۴۰۱ :ولو صالح على أخذ نصف الدار ببعض الثمن صح ولو صالح أخذ بيت بحصته من الثمن لا لجهالة الثمن عند الأخذ ، ولا تسقط شفعة .

که د کچني پلار يا نيکه يا وصي نه وي نو حق شفعه يي د بلوغ تر وخته پوري پا ته ده البته که

قاضي وصي ورته وټاکي هغه يي بيا طلب کولای سي .

کامليه:۲۱۷ :الشامي : ۴۱۸/۹ : صبي شفيع لا ولي له لا تبطل شفعته، وإن نصب القاضي قيما يطلبها جاز جواهر. (قوله لا ولي له) أي من أب أو جد أو وصي أحدهما, (قوله لا تبطل شفعته) فله أن يطلبها إذا بلغ ط:يررالحكام : في شرح مجلة الأحكام ۴۵۰/۷: واذا لم يو جد للصغير أخذ الأشخاص المحررين في الماده : ۹۷۴: فتبقى شفعة البلوغ يعني اذا راعى طلب المواثبة وسائر الشرائط بتمامها وقت بلوغه فله طلب الشفعة (البهة الفتاوى الجديدة والجوهره)

که مشتري يوار له شراء (أخستلو) دسرای څخه منکر سي بيا چي شفيع شاهدان په أخستلو تير کړي دی دعوی وکړي چي شفيع اول وخت طلب دشفعي نده کړي وس نو که دشفيع په طلب شفعه باندي شاهدان و نو خبره خلاصه سوه او که نه و بيا به قسم کوي اوقسم يي معتبر ده ،هغه تناقض چي په کلام کي راغلي هغه ته فقهاؤ اعتبار ندي ورکړی کامليه.

که شفيع په حق شفع خبر سو الحمد لله او سبحان الله يا لاحول ولا قوة

الا بالله يي وويل نو حق شفعه يي نده ساقط :
هدايه :۴/۳۹۰: الشامي : ۹/ ۳۷۴: او سلامة على غير المشتري يبطلها ولو عليه لا كما لو سبح أو حمدل او حوقل او شمت عاطسا تتارخانيه على رواية اعتبار المجلس كفايه: وشرنبلالي زيلعي هنديه: خلاصه:
كه شفيع وويل : چي چا اخستى دي ؟ يا په څو روپو خرڅ كړي دي ؟ نو هم اعراض نده حق شفعه يي ساقط نده :
خلاصه ۴/۴۰۰/هدايه: ۴/۳۹۱.
ردالمحتار : ۹/ ۳۷۴. مطلب: مطلب لو سكت لا تبطل ما لم يعلم المشتري والثمن وفي الخانية: أخبر بها فسكت، قالوا لا تبطل ما لم يعلم المشتري والثمن، كالبكر إذا استؤمرت ثم علمت أن الأب زوجها من فلان صح ردها اهـ. أقول: وبه أفتى المصنف التمرتاشي في فتاواه فليحفظ, ولا تنس ما قدمناه عن الخانية وفتاوى المصنف أن الشفيع إذا سمع بالبيع فسكت لا تبطل شفعته ما لم يعلم المشتري والثمن كالبكر إذا استؤمرت.
كه شفيع هغه مشفوع به (هغه شى چي دى د هغه په سبب دشفعي حق أخلي) خرڅ كړه يا يي چاته هبه كړه نو دشفعي حق يي ساقط دي كه څه هم دى دمشتري په أخستلو خبر نه وي البته كه يو وار شفعه په حاصله كړي بيا يي خرڅ يا هبه كړي نو حق يي ساقط نده يا شفيع ته په بيع دمشفوع به كي خيار وي يا نيمى يا څه حصه خرڅ كړي بيا هم نده ساقط .
الشامي: ۳۶۵/۴۰۲. و) يبطلها (بيع ما يشفع به قبل القضاء بالشفعة مطلقا) علم ببيعها أم لا . . . (ولو باع بشرط الخيار) لنفسه (لا) تبطل لبقاء السبب.

(قوله ويبطلها بيع ما يشفع به) أي كله لما في الخانية: الشفيع بالجوار إذا باع الدار التي يستحق بها الشفعة إلا شقصا منها لا تبطل شفعته، لأن ما بقي يكفي للشفعة ابتداء فيكفي لبقائها اهـ (قوله علم ببيعها) أي بيع المشفوعة وقت بيعه ما يشفع به (قوله وكذا) عطف على يبطلها: أي وتبطل بهذه الأشياء قبل القضاء بالشفعة لأنها بمنزلة الزائل عن ملكه كما في الدرر. كما في: هدايه: زيلعي كامليه: هنديه:

همدارنګه که شفیع هغه مشفوع به (هغه شی چي دی د هغه په سبب دشفعي حق أخلي)

مسجد کړی یا یي چاته دمدرسي یا مقبري لپاره وقف کړي نو شفعي حق یي ساقط دي که څه هم دی دمشتري په أخستلو خبرنه وي.

البته که یو وار شفعه په حاصله کړي بیا یي مذکور تصرف کي وکړي نو حق یي ساقط نده ردالمحتار: ۹/ ۴۰۲: كذا لو كعل ما يشفع به مسجدا او مقبرة او وقفا مسجدا درر:

که شفیع خبر سو چي سرای یا ځمکه یي په لک روپۍ مثلا خرڅه سوي ده وروسته خبر سو چي هغه تر لک کم خرڅه سوي ده.

یا یي په کیلي (پیمانه) یا وزني شي لکه غنم او وربشي با دام یا په عددي متقارب لکه هګۍ جوز خرڅه سوي ده او دهغه قیمت تر لک کم یا زیاده و نو حق شفعه ساقط نده:

الشامي: ۹/۴۰۲: قيل للشفيع :انها بيعت بألف فسلم ثم علم انها بيعت بأقل او ببر او شعير او عددي متقارب) قيمة ألف او أكثر فله الشفعة هدايه: ۴/۴۰۵: هنديه: كامله زيلعي: ۵/ ۲۵۹.

اوکه خبر سو چي په سامان (پنکې موبا یلان) یا په أفغانیو خرڅ سوي

ده او دهغو قیمت ترلک زیاده یا مساوي و نو بیا /
ساقط ده ردالمحتار : ۴۰۲/۹. ولو كان أنها بيعت بدنانير أو بعروض (قيمتها ألف فلا شفعة) هدايه : ۴۰۵/۴ : هنديه : كامليه: يلعي : ۲۵۹/۵.
که شفیع ته سرای یا ځمکه په میراث وریاته سوي وي دی په خبر نه و او بیا يي په ځنګه بل سرای یا ځمکه خرڅ سو او شفیع هم په خبر سو لکن طلب دشفعه يي نه وکړی نو حق شفعه يي ساقط ده :
كامليه : ۲۱۹ :الشامي ۳۹۹/۹، ۴۰۰. (قوله علم بالسقوط أو لا) قال في المنح لأنه لا يعذر بالجهل بالأحكام في دار الإسلام اھ. والأوضح أن يذكره فيما إذا سكت لأنه هو الذي يتوهم كون الجهل فيه عذرا ، أما عند التسليم منه فلا وجه له ط. قلت: فالمناسب ما في التتارخانية علم بوجوب الشفعة أو لا وعلم من سقط إليه هذا الحق أو لا .
که مشتري وويل : چي ما دغه سرای د خپل ځان لپاره أخستی ده نو شفیع حق شفعه ورتسليم کړي وروسته معلومه سوه چي دبل لپاره يي أخستي ده نو حق شفعه شفیع لره شته ځکه شفیع دبل په شراکت او ګاونډي توب نده خوشحال.
کامله : ۲۱۹. الشامي : (ولو علم أن المشتري زيد فسلم ثم بان أنه بكر فله الشفعة،هدايه : زيلعي هنديه : ردالمحتار : ۴۱۴/۹: قوله تعليق ابطالها: بالشرط جائز قال في الجامع الصغير لو قال الشفيع سلمت لک الشفعة ان كنت اشتريتها لنفسها وقد اشتراها لغيره فليس بتسليم .
که شفیع خبر سو چي مشفوع فيه سرای په ساما ن (لک پنکه . . . ۹ خرڅ سوی ده نو ده حق شفعه تسليم کړی وروسته خبر سو چي هغه په کیلي او وزني (غنم با دام) شي خرڅ سوی ده نو بیا حق شفعه ورته

شته : الشامي : ۹/ ۴۰۳ .تنبيه(أخبر) ان الثمن عروض كالثياب والعبيد

فبان مكيل او موزون زيلعي : ۲۵۹/۵ : او همدارنگه که خبر سو چي په غنم يا بادامو خرڅ سوی ده وروسته خبر سو چي په کشمښو يا بل شی خرڅ سو دي هم حق شفعه سته .

الشامي : زيلعي : ۵/ ۲۵۹ : او که اول يوه قسم سامان لکه قلمان خبر سو بيا معلومه سوه چي هغه په بل قسم سامان لکه مو با يلانو باندي خرڅ سوي يا په أفغانۍ او کالدارو خرڅ سوي بيا حق شفعه نسته : الشامي : ۴۰۳/۹ : ان بان أنه جنس أخر من عروض او فضة او ذهب كقيمة ما بلغه فلا شفعة لعدم الفائدة زيلعي : ۲۵۹/۵/

سرای که مشتري ته بائع د يو شي په عوض کي ور بخښله نو دواړه شيان چي قبض سي بيا حق شفعه ثابتيږي که څمکه قبض سي اوهغه بل عوض لا نه يي قبض سوي اوشفيع حق شفعه تسليم کړي نو شفعه يي باطله نده بيا هم حق لري .الشامي :

که شفيع د ګاونډي توب له وجي حق شفعه غوښته خو قاضي شافعي مذهبه و اود شفعي حق يي د جوار (ګاونډي توب نه منلي يا عكس و چي شفيع شافعي مذهبه او قاضي حنفي مذهبه و په دواړو صورتو نو کي حق شفعه ساقط ندي .

الشامي : ۴۱۵/۹، ۳۹۲. (من لم ير الشفعة بالجوار) كالشافعي مثلا. (طلبها عند حاكم يراه يقول له هل تعتقد وجوبها؟ إن قال نعم) أعتقد ذلک (حکم بها له وإلا) بقله (لا) يحكم منية وبزازية. [فروع]

أخر الشفيع إيجاب الطلب لكون القاضي لا يراها فهو معذور، (قوله يقول

له إلخ) قال في البزازية: ولم يذكر في الكتب أن من لا يرى الشفعة بالجوار إذا طلبها عند حاكم يراها قيل لا يقضي له لأنه يزعم بطلان دعواه، وقيل يقضي لأن الحاكم يراها، وقيل يقول له إلخ قال الحلواني: وهذا أحسن الأقاويل.

او يا قاضي دعوي ته نه حاضريدو او يا مدعى عليه نه حاضريدى بيا كه څه هم تر مياشت پوري دعوى واوروي حق شفعه يي ساقط نده الشامي : ٣٩٢/٩:كذا لو طلب من القاضي احضاره فامتنع بخلاف سبت اليهودي كما ياتي (قوله : فامتنع) آى القاضي او من وجبت عليه الشفعة أفاده أبوه السعود.

مسئله: پلار كه خپله ځمكه خرڅه كړي نو د كچني زوى لپاره دشفعي دعوى پكښي كولاى سي پدي شرط كه ښكاره ضرر د كچني نه و لكه د رواجي قيمت ګرانه خرڅه كړي بيايي د كچني لپاره په شفعه طلب كي.
الدر المختار : ٤١٣/٩:شرى لطفله والأب شفيع له الشفعة والوصي كالاب قلت : لكن في شرح المجمع ما يخالفه فتنبه:

مسئله: او همدارنګه كه د كچني ځمكه خرڅه كړي وروسته يي دخپل ځان لپاره دشفعي طلب وكړي هم حق شفعي لري خو بيا پدي شرط چي د كچني لپاره ضررنه وي لكه د كچني ځمكه يا سراى تر رواجي قيمت ارزانه خرڅه كړي وروسته بيا دخپل ځان لپاره دشفعي دعوى وكړي دا دواړه صورتونه فقهاء قياس كوي په أخيستلو د پلار مال د يتيم لره هغو پدي مقيد دي چي د يتيم به ضرر پكښي نه وي نو دا هم مقيد شو اوكه په رواجي قيمت و بيا جائز ده نو دلته هم كه شراء يا شفعه په رواجي قيمت و بيا جائز ده.

الدر المختار : ۴۱۳/۹. شرى لطفله والأب شفيع له الشفعة والوصي كالأب قلت: لكن في شرح المجمع ما يخالفه فتنه: قال الشامي : ۴۱۳/۹: مثله في شرح المجله : ۶۲۱/۳، ۶۲۰. ماده: ۱۰۳۵: وزيلعي : ۲۶۳/۵:

او د وصي په حق کي که څه هم علامه زيلعي ويلي دي که د کچني لپاره شکاره نفع وه بيا جائز ده مثلا: وصي خپله ځمکه تر رواجي قيمت کمه خرڅه کړي وه بيا دکچني لپاره حق دشفعي طلبه ولاى سي اويا يي د کچني ځمکه تر رواجي قيمت ګرانه خرڅه کړي وه بيا حق شفعه د خپل ځان لپاره طلبه ولاى سي او که په قياس ده په بيع اوشراء د وصي مال دکچني لره هغه خو وصي په مثل د رواجي قيمت يا زيات تر هغه نسي أخيسلاى نو دا هم نسي أخيستلاى .

لكن علامه شامي او حصكفي (رح) دزيلعي په مقابل كه د نورو علماء قولو نه نقل كړي دي او بيا يي توفيق او فيصله داسي كړيده چي وصي مالک دشفعي نسي جوړيداى تر څوچي دا خبره يي قاضي ته نه يي سپارلې او يا دي طلب شفعه وكړي شاهدان دي باندي تير كړي انتظار دي وكړي چي هر وخت كچنى بالغ سي بيا دي دعوى راپورته كړي او دا هم په دي شرط كه د كچني شكاره فائده پكښي وه او كه نه وه بيا پدي طريقه هم دعوى دشفعي نسي كولاى .

ردالحتار : ۴۱۳/۹: . شرى لطفله والأب شفيع له الشفعة والوصي كالاب قلت: لكن في شرح المجمع ما يخالفه فتنه:

قال الشامي : ۴۱۳/۹: (قوله لكن في شرح المجمع ما يخالفه) حيث قال: وقيد بالأب لأن الوصي لا يملک أخذها لنفسه اتفاقا، لأن ذلک بمنزلة

الشراء ولا يجوز للوصي أن يشتري مال اليتيم لنفسه بمثل القيمة اهـ ومثله في درر البحار والخانية أيضا في موضع آخر لكن بلا ذكر الاتفاق. ويمكن التوفيق بأنه ليس له ذلك بلا رفع إلى القاضي ونصب قيم، لكن في خزانة الأكمل أن الوصي يطلب ويشهد ويؤخر الخصومة لبلوغ الصغير، وهو ما يأتي عن المنظومة الوهبانية، وبه وفق الطرسوسي فحمل ما مر آنفا على نفي طلب التملك للحال كما نقله الشرنبلالي.

أقول: وينبغي أن يكون لزوم التأخير المذكور إذا لم يرفع الأمر إلى القاضي، وبه يوفق بين ما في الخزانة وما قدمناه عن الولوالجية وغيرها.

هذا: وقد ذكر في النهاية والمعراج وتبعهما الزيلعي تفصيلا آخر، وهو أن الوصي له الأخذ إذا كان فيه للصغير نفع ظاهر بأن كان في الشراء غبن يسير وإلا بأن وقع الشراء للصغير بمثل القيمة فلا بالاتفاق، كما في شرائه مال صغير لنفسه اهـ ملخصا. ومثله في الذخيرة والتتارخانية، وعليه يحمل ما قدمناه من النقول السابقة أيضا.

والذي تحرر من هذا كله أن للوصي الشفعة إن كان ثمة نفع ظاهر للصغير بشرط أن يرفع الأمر إلى القاضي وألا يؤخر الخصومة إلى البلوغ وإن لم يكن فيه نفع ظاهر فلا، فاغتنم هذا التوفيق المفرد بين كلامهم المبدد.

د كچني ځمكه چه خرڅه سي اول بې طلب د شفعي پلار كوي (٢) وروسته بې دپلار وصي كوي (٣) بيا بې دپلار د وصي وصي كوي (۴) بيا بې د نيكه وصي كوي (۶) دنيكه د وصي وصي كوي [٧] بيا بې دقاضي وصي كوي.

در الحكام في شرح مجلةالاحكام : ٧/ ٤٤٩. ويطلب شفعة الصغيرة أحد الاشخاص المذكورين في الماده : ٩٧٤:فيطلبها اولا أبو الصغيرة ثانيا: وصي الاب ثالثا وصي هذا الوصي ، رابعا الجد الصحيح خامسا وصي هذا الجد سادسا : وصي هذا الوصي سابعا : الوصي الذي نصبه الحاكم:

مسئله : كه شفيع په بيع دمشفوع فيه سراى خبرو لكن په أخيستونكى يا روپو يي خبر نه و او دعوى يي نه وكړي نو حق يي ساقط نده :

ردالمحتار : ٩/ ٣٧٤: مطلب : لو سكت لا تبطل ما لم يعلم المشتري والثمن وفي الخانية: أخبر بها فسكت، قالوا لا تبطل ما لم يعلم المشتري والثمن، كالبكر إذا استؤمرت ثم علمت أن الأب زوجها من فلان صح ردها اه. أقول: وبه أفتى المصنف التمرتاشي في فتاواه فليحفظ.

في مو ضع أخر من الشامي : ٩/ ٤٠٠. ولاتنس ما قدمنا ه عن الخانيه وفتاوى المصنف أن الشفيع اذا سمع بالبيع فسكت لاتبطل شفعة ما لم يعلم المشتري : والثمن كابكر اذا أستؤمرت .

زيلعي ٢١٥: خلاصه الفتاوى : ٤/ ٤٥٥: وخلاصه ٤/٤٠٠: هدايه : ٤/٣٩١:

مسئله : كه شفيع خبر سو چي مشتري زيد ده مثلا شفعه يي ور تسليم كړه وروسته خبر سو چي عمرو ده نو حق شفعه يي ساقط نده :

هدايه ؛٤/٤٠٥: الشامي : ٩/ ٤٠٣. ولو علم ان المشتري زيد فسلم ثم بان أنه بكر فله الشفعة زيلعي ٥/ ٢٦٠: هنديه.

اوكه خبر سو چي زيد او عمرو دواړه دي بيا دعمرو حصه په حق شفعه أخستلاى سي د زيد ته نسي أخيستلاى ځكه هغه ته يي يو وار تسليم كړي ده .

مسئله : دشفيع اعراض (نا وخوښي) كه له حق شفعي صراحة معلوم سي اوكه دلالة اوقرينة معلوم سي حق يي ساقط ده مثلا : شفيع چي خبر سو بيع د مشفوع فيه، نو وي ويل چي منا سب كار سويده يا يی له مشتري څخه د مشفوع فيه سرای او ځمكي ا جاره او كښت كري او يا
با غواني طلب كړه يا يې ورته وويل :چي په ګټه ياسر په سريي را خرڅ كړه دشفعي نوم يي نه واخيست نو حق دشفعي يي ساقط ده

مجله: ١٩٨ : ماده: ١٠٢٤ :الشامي : ٤٠٢/٩ :(وكذا) يبطلها (إن استأجرها أو ساومها) بيعا أو إجارة ملتقى (أو طلب منه أن يوليه) عقد الشراء فتبطل في الكل لدليل الإعراض زيلعي. (قوله أن يوليه) أي يبيعه تولية وهي البيع بمثل الثمن الأول ح، ومثل التولية المرابحة ط وكذا لو طلبها مزارعة أو مساقاة بعد علمه بالبيع أتقاني
زيلعي : ٢٥٨/٥.

مسئله: كه شفيع خبر سو چي مشتري نيمی سرای مشفوع فيه أخستی ده او شفعه يي تسليم كړه وروسته معلومه سوه چي ټول يي أخستی ده نو بيا د شفعي حق لري .

هدايه : ٤٠٥/٤/ الشامي : ٩/ ٤٠٣. ولو بلغه شراء النصف فسلم ثم بلغه شراء الكل فله الشفعة في الكل زيلعي : ٢٦٠/٥ : هنديه:

اوكه عكس و :يعني اول په ټول خبر سوچي حق شفعه يي تسليم كړه وروسته معلومه سوه چي نيمی ده نو بيا يي حق شفعه نسته ؛ هدايه: ٤٠٥/٤: الشامي : ٤٠٣/٩. وفي عكسه بأن أخبر بشراء الكل فسلم ثم ظهر شراء النصف (لا شفعة له على الظاهر) لان المسليم في الكل

تسليم في كل أبعاضه بخلافه عكسه زيلعي : ۲۶۰/۵: هنديه:
كه بائع شفيع وكيل كړي چي زما سراى دا خرڅ كړه شفيع چي هغه سراى خرڅ كړي حق شفعه يي نسته اوكه مشتري وكيل كړي نو ده هغه مشفوع فيه ځمكه ورته واخيسته وروسته يي دعوى دشفعي په وكړه نو دعوى يي صحيح ده يعني حق شفعه يي سته:
الشامي : ۴۰۲/۹. هدايه : ۴۰۵/۴: زيلعي : ۲۵۸/۵:
مسئله: كه يو كلى ټول خرڅ سي يا دوه سرايو نه خرڅ سي نو شفيع چي له كو مو سرايو سره متصل ده په هغه كي حق شفعه لري ه هغه نو رو كي يي نلري الشامي : ۴۱۳/۴/۹، ۴۱۴:
و كانت دار الشفيع ملاصقة لبعض المبيع كان له التشفعة فيما لاصقه فقط ولو فيه تفريق الصفقة. (قوله لبعض المبيع) كذا في الأشباه، ومعناه إذا كان المبيع متعددا كدارين له جوار بإحداهما كما ذكره الحموي وغيره؛ وقدمنا عن الأتقاني: لو كان أحد الجارين ملاصقا للمبيع من جانب والآخر من ثلاث فهما سواء فتنبه.زف] الزازيه: قرية خاصة بـ' عها بدور ها ونا حية منها تلي أرض انسان فللشفيع أخذ الناحية التي تليه اه: أى لانها في حكم المتعدد تامل : ابراء عامه د شفيع لخوا ځخه دشفيع حق هم قضاء اوهم ديا نت سا قطوي مثلا : با ئع يا مشتري شفيع ته ووايي: چي هره دعوى چي ستا زموږ خواته وي له هغه ابرا ء وكړه اوشفيع ووا يي : چي ماكړي ده باره كه خبر وي په هغه شفعه او كه نا خبره وي، حق دشفعي يي سا قط ده وعليه الفتوى :الشامي : ۴۱۴/۹:
الإبراء العام من الشفيع يبطلها قضاء مطلقا لا ديانة إن لم يعلم بها(قوله الإبراء العام من الشفيع) كما إذا قال له البائع أو المشتري أبرئنا من كل

خصومة لک قبلنا ولوالجية (قوله مطلقا) أي سواء علم أنه وجبت له قبلهما شفعة أو لا (قوله لا ديانة إن لم يعلم بها) قال في زواهر الجواهر: هذا على قول محمد، أما على قول أبي يوسف فيبرأ قضاء وديانة في البراءة من المجهول وعليه الفتوى كما في شرح المنظومة والخلاصة.

مسئله: که أربکي يا ملي اردو يا بل ظالم فاسق فاجر شفيع و، اوپه ميا شت کښي قاضي ته حاضر نه سو دځان د خوف له وجي نو حق شفعه يي ساقط ده.

الشامي: ٩/٤١٥. قوله: لم يکن عذرا) وکذا لو کان الشفيع في عسکر الخوارج او أهل البغي فخاف على نفسه ان يد خل في عسکر العدل فلم يبطلها بطلت لانه غير معذور خانيه.

مسئله: که يهودي يا عيسائي د خپل عبادت په ورځ دمسلمانانو قاضي ته حاضرنه سو نو حق شفعه يي ساقط ده يعني دغه شرعا عذر نه بلل کيږي او همدارنګه که مسلمان دعوى په يهودي وکړه دهفتي په ورځ يا په نصراني د يکشنبي په ورځ نو قاضي به يي حاضره وي د دوى د رخستۍ ورځ به عذر نه ورته بولي.

الشامي: ٩/ ٤١٥. ردالمحتار: (٢٥)٤٨٣. يهودي سمع بالبيع يوم السبت فلم يطلب لم يکن عذرا قلت: يؤخذ منه ان اليهودي اذا طلب خصمه من القاضي احضاره يوم سبته فانه يکلفه الحضور ولان يکون سبته عذرا وهي واقعة الفتوى قاله المصنف قلت: وهی في واقعات الحسامي:

مسئله: که يو سړى د سراى د ملکيت دعوى وکړي او ووائي: چي داسراى زما ده نو که مي وګتى خو زما سو که مي ونه ګتى بيا دشفعي دعوى پکښي کوم، نو حق شفعي ساقط نده.

الشامي : ۹/ ۴۱۷. ردالمحتار: ۲۵/ ۴۸۸. له دعوی في رقبة الدار وشفعه فيها يقول هذه الدار داري وانا أدعيها فان وصلت الى والا فانه على شفعي فيها.

مسئله: که شفیع له مشتري څخه حق دشفعي وا خیست په قول د یو عالم اومفتي بیله قضاء

د قاضي نو صحیح ده ظالم نه بلل کیږي ابته که د عالم یا مفتي په قول هم نه وه بیا ظالم د وخت امام یا قاضي به تغیرورکوي الشامي: ۴۱۷/۹. ردالمحتار: ۴۸۸/۱۵. استولى عليها بلا قضاء ان اعتمد على قول عالم لا يكون ظالما والا كان ظالما.

مسئله: که یو وار شفیع خپله دعوی دحق شفعي د قاضي مخته پیش کړي نو بیا که یي قاضي فیصله دشفعي هر څونه وځنډه وي حق شفعه یي نه ساقطیږي احسن الفتاوی ۸۲/۴. الشامي: ۹/ هندیه: ۵/.

﴿حیله﴾

مسئله: که ټوله ځمکه بائع خرڅه کړي صرف یو ګز را وګرزوي نو شفیع بیا حق شفعه نلري ځکه دي هغه یو ه ګز په وجه ګاونډي ده هغه یي خرڅه کړي نده.

او همدارنګه که هغه یو ګز ورته هبه کړي مشتري ته نوره خرڅه کړي هم حق شفعه دشفیع الشامي ۴۰۳/۹: ثم شرع في الحيل فقال (وإن باع) رجل (عقارا إلا ذراعا) مثلا (في جانب) حد (الشفيع فلا شفعة) لعدم الاتصال والقول بأن نصب ذراعا سهو سهو (وكذا) لا شفعة (لو وهب هذا القدر للمشتري.

هدایه: ۴۰۶/۴. کاملیه: هندیه: زیلعي: خلاصه: ۴۵۴/۴.

د ټول سرای قيمت يولک روپۍ ده نو بائع دي لس گزه مثلا : په (٩٠) زره ورکړي او هغه پاته پنځوس گزه دي په لس زره ورکړي نو به د شفيع حق با طل سي ځکه شفيع خو په اوله بيعه کي حق دشفعه لري اوهغه گرانه ده ،دی يې نه أخلي او په دوهمه بيعه کي يي بياحق دشفعي نسته .

الشامي:٩/۴٠۵/هدايه:۴/۴٠۴.زيلعي : (وإن ابتاع سهما منه بثمن ثم ابتاع بقيمتها فالشفعة للجار في السهم الأول فقط) والباقي للمشتري لأنه شريک. وحيلة كله ان يشتري الذراع او السهم بكل الثمن الا در هما ثم الباقي .

او بائع ته دشفيع لخوا قسم نه ورکول کيږي چي ستا دي قسم وي چي تا سي زما د حق شفعي اسقاط مقصد نه و ؟

الشامي : ٩/ ۴٠۵. ۴١۵. وليس له تحليفه بالله ما أردت به إبطال شفعتي، وله تحليفه بالله إن البيع الأول ما كان تلجئة مؤيد زاده معزيا للوجيز.

ريالمحتار:٩/۴١٩.قوله : وتحليفه) تحليف الشفيع أحد العاقدين في وقت انكار ه التحليل أنكر أی منكر شرعا لانه يدعي عليه معنى لو أقر به لا يلزمه ، وهو محمول على ما اذا لم يدع ان البيع كان تلجئه والا فله التحليف فلا منا فاة بينه وبين ما مر كما نبهنا عليه سابقا هدايه ؛ ۴/۴٠۶ .زيلعي

مسئله: او يا ټوله ځمکه پنځه لکه مثلا: ځني واخلي إوبيا دي مشتري ديو لک روپو کپړه يابل شی ورکړي نو بيعه به صحيح سي ، او دشفيع حق به با طل سي.

خلاصه ۴/۴٠۶.الشامي : ٩/۴٠۶. وان ابتاعه بثمن) كثير (ثم دفع ثوبا

عنه فالشفعة بالثمن لا بالثوب) فلا يرغب فيه، وهذه حيلة تعم الشريک والجار لكنها تضر بالبائع، إذ يلزمه كل الثمن إذا استحق المنزل، فالأولى بيع دراهم الثمن بدينار ليبطل الصرف إذا استحق. زيلعي : ۵/ هدايه : ۴/ ۴۰۶.

اوس نو كه يو په بل سره اعتما د(باور) نه وي مثلا : مشتري ووايي : چي په اول صورت كي به هغه نور ځمکه بيا په لس (۱۰۰۰۰)زره نکړي په‌را خرڅه او يا په دوهم صورت کي به بيا هغه پنځه لکه نغدي غواړي کيږه يا بل شی به نه را ځخه قبلوي نو بيا دي په خيار شرط واخلي. كه بائع وفاء ورسره ونه ،كوله نو دي فسخه كړي .

الشامي : ۹/ ۴۰۶.۱ (فائدة)

إذا خاف أحدهما أن لا يوفي صاحبه يشترط الخيار لنفسه ثلاثة أيام، فإذا لم يوف له في المدة فسخ فيها وإن خافا شرط كل منهما الخيار لنفسه ثم يجيزان معا .

زيلعي:۵/ هنديه: خلاصه: ۴/ ۴۵۴.

مسئله: او همدارنگه كه دواړو طرفوكي بی اعتمادي وي بيادي دواړه ځان ته خيار شرط ولګوي او بيا دي په يو ځاي دواړه اجازه دبيعي وكړي اوكه په هغه هم سره بيري د ل چي مشتري ويل زه به د بيعي اجازه وركړم بائع به يي نكوي او بائع بيا ويل : چي دی به يي نه وكړي نو دواړه دي وكيل ونسي او دا شرط دي په وكيل ولګوي چي ته به د بيعي اجازه پدي شرط وركوي چي زما ملګری يي وكړي كه هغه اجازه نه وكړه ته به يي هم احازه نه كوي اوس نو كه وكيل اجازه وكړي او هغه بل ملګري يي نه وكړي نو اجازه نسوه ځكه دوكيل اجازه مؤكل

مقيده كړې ده په اجازه دهغه بل ملګري .
٩/٤٠٦. وإن خاف كل منهما إذا أجاز أن لا يجيز صاحبه يوكل كل منهما وكيلا ويشترط عليه أن يجيز بشرط أن يجيز صاحبه زيلعي بزيادة. زيلعي:٥/ هنديه: خلاصه : ٤/٤٥٤.

مسئله : كه دشفعي حق د شفيع يو وار ثابت سي بيا يي ساقطېدل مكروه دي اتفاقا البته لمخه تر ثبوت دشفعي دحق كي اختلاف سته اما م ابو يوسف (رحمه الله تعالى) وايي نده مكروه او امام محمد (رحمه الله تعالى) وايي مكروه ده لكن فتوى د ابي يو سف (رح) په قول ده كه شفيع عادل وي كه فاسق پدي شرط كه شفيع ډير ورته محتاج نه وه بلكي ځني فقهاء ويلي دي : چي اختلاف نسته پكښي .
الشامي: ٩/٤٠٨. تكره الحيلةلاسقاط الشفعة بعد ثبوته وفاقا)كقوله للشفيع اشتره مني ذكره البزازي
وأما الحيلة لدفع ثبوتها ابتداء، فعند أبي يوسف لا تكره، وعند محمد تكره، ويفتى بقول أبي يوسف في الشفعة قيده في السراجية بما إذا كان الجار غير محتاج إليه، واستحسنه محشي الأشباه.
(قوله:ويفتى بقول أبي يوسف في الشفعة) بل نقل في النهاية أن منهم من قال إنه لا خلاف فيها . وفي البزازية: وإن قبل الثبوت لا بأس به عدلا كان يعني الشفيع أو فاسقا في المختار لأنه ليس بإبطال.
عيني:شرح هدايه:١٠/٤٦٤. خلاصه: الفتاوى : ٤/٤٥٤. مبسوط: ١٣/١٣١. زيلعي : ٥/٢٦١.

﴿حيلة في اسقاط الزكاة والحج﴾

او د زكاة اوحج د وجوب لپاره حيله بيا بالكل مكروه ده مثلا پسونه يا اوښان لري چي كال پوره كيدلو ته نيږدې سي په بل شي يي بدل كړي يا يي زوی او ورورته وبخښي يا د كور لپاره مو ټر په واخلي يا بل داسي شی چي په هغه زكوة او حج نه كيږي.

ردالمحتار: ۹/ ۴۰۹. (وبضده) وهو الكراهة (في الزكاة) والحج وآية السجدة كأن يبيع الشائمة بغيرها قبل الحول أو يهب لابنه المال قبله او قبل أشهر الحج. حيلة سجدة تلاوة

بيا داده چي أية دسجدي ووايي او دسجدي كلمه نه ووايي او يا سورة دسجدي ووايي أية دسجدي پريږدي او يا أية سجده ووايي لكن په ځان يي نه واوري.

الشامي: ۴۰۹/۹. (وبضده) وهو الكراهة (في الزكاة) والحج وآية السجدة كأن يبيع الشائمة بغيرها قبل الحول أو يهب لابنه المال قبله او قبل أشهر الحج.

مسئله: شفيع مشتري يا بائع ته قسم نسي وركولاي چي ستاسي دي قسم وي چي زما د حق شفعه اسقاط مو نه و مقصد كه يي بالفرض وركړي او مشتري يا بائع اقراروكړي هم حق دشفعي يي نه ثا بتيږي.

لكن په يو صورت كي ثابتيږي اوقسم هم وركولای سي هغه دا چي ستا سي دي قسم وي چي په تاسي باندي دچا اجبار او فشارنه و وس كه هغه اقرار وكړي بيا يي حق شفعه سا قط دي.

كما في الشامي : ۹/۴۱۵. ۴۰۵. وليس له تحليفه بالله ما أردت به إبطال شفعتي، وله تحليفه بالله إن البيع الأول ما كان تلجئة مؤيد زاده معزيا للوجيز.
كما فی ردالمحتار : ۴۱۹. (قوله وتحليفه إلخ) آي تحليف الشفيع أحد العاقدين في وقت إنكاره التحيل أنكر: أي منكر شرعا لأنه يدعي عليه معنى لو أقر به لا يلزمه، وهو محمول على ما إذا لم يدع أن البيع كان تلجئة وإلا فله التحليف، فلا منافاة بينه وبين ما مر كما نبهنا عليه سابقاهدايه:. ۴/۴۰۶:
زيلعي.

﴿كتاب الشركة﴾

ســوال:......كتاب الشركة
کـه چيري پـه شـركـت عـنـان کي دوه کسان پيسې سره جمع کړي يو بل ته ووايي چي تـه بـه هـم کار کوې زه به هم کار کوم ګټه به مو سره نيمې وي، کـوم وخت چي تـقسـيـم شروع سو دايـو شريک هغـه بل تـه وايي چي زما پيسـې ډېري وې زه د پېسو پر سر تـقسـيـم کـوم هغه بل وايي چي ګټه مو نيمې ده چي اوله ور ځ مو بيان کړې وه دا تقسيم څنګه کيږي؟

جواب:......
دا تقسيم پر ګټه کيږي نصفاً، د پيسو پر سر نه کيږي:
"قال في الفتاوىٰ الكاملية ان الربح يقسم بينهما انصافاً كما شرطا فلا عبرة بكلام من يريد خلاف ذلك كما افتى بذلك شيخ الاسلام على افندى و استدل له الكفوى و لا تشترط المساواة في رأس المال في هذه الشركة عندنا كما في قاضيخان و قال في التنوير تصح مع التفاضل في المال دون الربح" (فتاوى كاملية / ص: ۵۰، الشركة)

سوال:......
کـه دوه کسـان سره شريک وي په ځمکه کي يوه خونه بنا کړه هغه بل شريک وايـي چي دا خـونه زه نړومه دا خونه پورته کړه دا حکم څنګه کيږي، خونه د کوم شريک کيږي؟

جواب:...... دا ځـمکه به سره تقسـيـم کيږي په مابين د دوی دواړو کي بيا چي

خـونـه د هـر یوه په برخه سوه نو که خونه د باني په حصه کي نه سوه نو دا بل شریک لره جائز دي چي و یې نړوي او یا قیمت د بنا ورکړي که د باني رضا وه:

"کما قال فی الفتاوی الکاملیة ان الارض تقسم بینهما فما وقع من البناء فی نصیب غیر البانی یرفع کما فی البزازیة و ذکر فی الخانیة ان الأرض المشترکة إذا بناها أحدهما فقال له صاحبه إرفع بنائك فإن ؛قضي له صاحبه إرفع بناءك فإن القاضی یقسم الأرض بینهما فما وقع من البناء فی نصیب الذی لم یبن فله ان یرفع ذلك او یأخذ البناء بالقیمة إذا رضی صاحبه بذلك و افتی شیخ الاسلام علی افندی فی غرس الاشجار من أجد الشریکین فی الأرض المشترکة بمثل ذلك ۔(فتاویٰ کاملیة / ص: ۵۳)"

سوال:......

که یو له شریکانو دار (سرای) مشترک آباد کړي په مال خپل سره بې اجازې د شریک خپل او بې اذن د قاضي، آیا دا به تبرع بلل کیږي او که له شریک خپل سره حق لري؟

جواب:......

دا تبرع او نیکي کوونکي دي نو د رجوع حق نه لري:

"کما قال فی الکاملیة نعم یکون متطوعاً فلا رجوع له قال فی الخلاصة و فی الدار المشترك إذا استرمت فانفق أحدهما فی مرمتها بغیر اذن القاضی و بغیر اذن صاحبه فهو متطوع اهـ۔" (فتاویٰ کاملیة / ص: ۵۳)

سـوال:......

که دوه کسان په یوه آس کي شریک وو یو شریک خپله حصه خرڅه کړه بې د اجازې د شریک او آس یې تسلیم کړو و مشتری ته او آس مړ سو یا هلاک

سـو د مشتـري سره پـه دا صـورت کـي بـائـع مذکور يعني شريک د شريک د حصې ضامن دی که نه دی ضامن؟

جواب:......

هو، دا سړی يعني بائع د حصې ده شريک ضامن دی:

"کما قال فی الخيرية و هذه عبارتها الشريك بتسليميها للمشتری بدون إذن شريكه ضامن لحصة شريكه و ان كانت قائمة يجب ردّها عليه و ان شاء الشريك ضمن المشتری فی صورة الهلاك" (كاملية / ص: ٥١)

سوال:......

دوه کسـان پـه يـوه سـرای کـي شريکان دي يو حاضر دی بل غائب دی حاضر شـريک سـرای پـه کـرايـه ورکـړ او پيسـې قبـض کړې اوس چي غائب شريک راسي د کرايې حق لري که نه؟

جواب:......

هو! د خپلي حصې حق لري:

"قال فی الهندية دار بين اثنين غاب أحدهما و اجرها الأخر و آخذ الاجرة فللغائب ان يشاركه فی اللاجرة وفی التنقيح الجواب مثل ذلك"(كاملية / ص: ٥٤)

سوال:......

دوه شـريـکـان دي يـو سپـی لـري بـل يې نه لري د سپي خاوند او دا شريک په دواړو د دغـه سپـي په ښکار پسي په شريکه ايله کړو او سپي ښکار ونيوی دا ښکار د دواړو شريک دئ که د سپي د خاوند دی يو ازي؟

جواب:......

دا ښکار د سپي د خاوند دی، دا بل شريک يې حق نه لري .

" قال فی الفتاوی العالمگیریة و لو کان الکل لأحدهما و هو فی یده فارسلاه جمیعاً کان ما أخذ لصاحب الکلب إلا إذا جعل منفعة کلبه لغیره بان أعار الکلب من غیره فیصطاد فالمأخوذ للمستعیر کذا فی المحیط السرخسی۔"(فتاوی عالمگیریة / ص: ۳۳۳)

سوال:......

که یو شریک و بل ته ووایي چي دا مینځه زه د ځان دپاره اخلم هغه بل ساکت سي، خبره نه وکړي دا شریک دا مینځه واخستله په دا صورت کي دا بل شریک حق لري که یې نه لري؟

جواب:......

هو! لري یې ۔

"قال فی الفتاوی عالمگیریة أحد الشریکین إذا قال لصحابه انا ارید ان اشتری هذه الجاریة لنفسی خاصة فسکت الشریك فاشتراها لا یکون له ما لم یقل شریکه نعم کذا فی الخلاصة" (فتاوی عالمگیریة / ص: ۳۵۰)

همدغسي صورت په موټر کي یا سرای کي هم دی لکه په مینځه کي چي دی ۔

سوال:......

که دوه شریکان شرکت وکړي او دا شرط سره ووایي چي د یوه دپاره لس درهمه مزدوري ده یعني تنخواه ده دا شرکت صحیح دی که نه دی صحیح؟

جواب:......

دا شرکت صحیح دی او دا شرط د تنخواه باطل دی ۔

"قال فی الفتاوی عالمگیریة فی المنتقی اشترکا رجلان علی ان لأحدهما

أجر كل شهر عشرة دراهم ليس من مال المشتركة فالشركة جائزة و الشرط باطل كذا فی المحيط" (فتاوى عالمگيرية ص۰ ۳۵)

هـمـدغـسـي صـورت اوس د كـبنسـت پـه گـاډۍ كي دی چي يو شريک يې چلوي كه ډريور د گاډۍ گټه اخلي نه دی جائز او كه مستقل تنخواه وركوي د بل ځايه بيا جائز دی .

سوال :......

كـه سړي وبـل سـړي تـه پيسـې وركړې چي دا پيسـې چي څونه گټه وكړي هغـه مـو سـره نيـمـی ده او دايې ورته وويل چي د بل چا سره به مضاربت نه كـوي ، كـه چيـري تـا د چا سـره مـضـابـت وكړو زه دړ گډيم ، دا سړي دا خبره ورسره ومنله چي هو ، د بل چا سره كار نه كوم ، په دې صورت كي كه چيري دا سـړي د بـل سـړي سـره پـه مضاربت كي شريک سي او گټه وكړي دا شريک حق لري د گټي كه يې نه لري؟

جواب :......

دا سړی د گټي د بل چا د مضاربت حق نه لري .

"قال فی الفتاوی عالمگيرية فی النوازل سئل أبو القاسم عن رجل دفع إلى رجل مالاً يعمل به على أن الربح بينهما و قال لأرضى بان تعمل فی الشركة غيری فان عملت فی الشركة غيری فإنی أريد منه الحصة تراضيا على ذلك فعمل المدفوع إليه فی شركته آخر و ربح قال ليس لرب المال شركة فی الربح ماعمله مضاربة فی غير المال الذی دفع إليه كذا فی التتارخانية "۔(فتاوی عالمگيرية صـ ۳٤٦)

سـوال :......

که یو قصاب لره سامان وي او بل لره قصابه وي یعني دوکان او دواړه سره شریکان سي په داسي طریقه چي دواړه شریکان به کار کوي په سامان د یوه او دوکان د هغه بل کي په دې شرط چي ګټه سره نیمی ده دا شرکت جائز دی که نه دی جائز؟

جواب:......

داجائز دی:

"قال فی الفتاوی عالمگیریة ولو ان قصاراً له اداة القصارین و قصاراً له بیت اشترکا علی ان یعملا باداة هذا فی بیت هذا علی ان الکسب بینهما نصفان کان جائزاً کذا فی السراج الوهاج "(عالمگیریة صـ۳۳٤)

سوال:......

که دوه کسان شریکوي په دواړو کي یومړ سي مال و شریک ته پاته سي ، شریک تجارت په کوي خرخول اخیستل په کوي او ګټه وکړي د دغي ګټي څه حکم دی دا شریک لره روا ده که نه؟

جواب:......

دا شرکت فسخه سو یعني ختم سو په مرګ د شریک سره او دا ژوندی شریک وروسته له مرګه د شریکه غاصب دی په مال کي د شریک: او په مال دشریک چي ئی ګټه کړې ده هغه نه ده ورته روا .

"قال فی الفتاوی کاملیة ان الحکم فی ذلك انفساخ الشرکة بموت أحدهما والعامل بعد الموت کالغاصب فما ربح من حصة نفسه یطیب له و ما ربح من حصة المیت یتصدق به کما فی الانقروی عن النوازل و افتی به فی الحامدیة"(فتاوی کاملیة صـ ۵۳)

سـوال:......

که دوه کسان په یوه کوټه کې شریک وي یعني دا کوټه د دواړو شریکه وي، دا یو شریک خپله حصه خرڅه کړي دا بیعه صحیح ده که نه ده صحیح؟

جواب:......

دا بیعه نه ده صحیح:

"قال في رد المختار لو باع أحدهما حصة من البناء فقط لاجنبي لم يجز و لو باذن الشريك لأن للبائع مطالبةُ بالهدم و كذا لو كان كل البناء له فباع نصفه من رجل لأن المشتري يطالبه بالهدم فيتضرر البائع فيما لم يبعه في رد المحتار (ص ٣٦٦)".

سـوال:......

کـه دیـوه کـور انسـانـان سره را جمع سو په شراکت یې اضحیه واخیستـه آیا تقسیم یې شرط دی کنه، که شرط سي آیا تقسیم په ترازو شرط دی که نه؟

جواب:......

تقسیم یې شرط نه دی ځکه مقصد وینه تویول دي:

"والظاهر انها لا تشترط لأن المقصود منها الاراقة وقد حصلت" (رد المحتار / ص: ٥٢٧ / ج: ٩)

سوال:......

کـه دیـوه کـلـي انسـانـان راجمع سوه او اضحیه یې په شراکت وه تقسیم یې شرط دی کنه؟

جواب:......

تـقسیـم یـې شـرط دی یـعني په ترازو به یې جلا کوي یا به یې کوټې کوټې

کوي:
”ولأنه في معنى الهبة و هبة المشاع فيما يحتمل القسمة لا تصح اهـ“(رد المحتار / ص: ٥٢٧ / ج: ٩)

سوال:......
د دوو کسانو ځمکه سره شریکه ده یو غائب سو یو خوا ته ولاړ هغه بل شریک دا ځمکه کي کښت کرلای سي کنه: بینوا توجروا.

جواب:......
که چیري دا کښت ځمکي ته فائده رسوله بیا یې کښت کولای سي، که یې تاوان رساوه بیا یې نسي کولای:
”ان كان الأرض بحيث ان زرع يفيد قوة جاز له الزرع و ان كان بحيث ان زرع ينقص لا يكون للحاضر ان يزرع منها شيئا اصلا۔“ (فتاوی انقرویه / ص: ٣٨٧ / ج: ٢)

سوال:......
د دوو کسانو ځمکه سره شریکه ده یو مړ سو آیا داژوندی دا ځمکه کښت کولای سي کنه؟

جواب:...... هو کرلای یې سي یعني کښت پر کولای سي.
”و كذا لو مات أحدهما فللحي ان يزرع اه“(فتاوی انقرویه / ص: ٣٨٧ / ج: ٢)

سوال:......
د دوو ورونو سرای سره شریک ده، دواړو ښځي وکړې یعني و دونه یې وکړو آیا دا یو ورور د هغه بل ورور اخوښیان بندولای سي که یې نسي بندولای؟

بينوا توجروا .

جواب :......

کـه چیـري د دوارو ورونو ښځي سره قربانې وي يا سره خوندي وي بيا د هر يوه اخښيـان د هغـه بـل د ښـځـي مـحـرم ګرځي بيا يې نسي بندولای او که چيـري دا ښـځي سره قربانې نه وي يوه له يوه قومه وه او بـه له بله قومه وه بيا يې بندولای سي:

"دار بین اخـوین لـه ان یمنع ان لم یکونوا محرمین لزوجته و ان کانوا من المحرمین فلیس له المنع اه"(فتاوی انقرویه / ص: ۳۸۸ / ج: ۲)

سوال :......

که چيري دوه کسان مثلاً سره شريکان سوه او مال يې سره ګډ نه کړی، آيا دا شراکت صحيح ده او ګټه يې سره نيمی ده ؟

جواب :......

هو ، دا شراکت صحيح ده او ګټه يې سره نيمی ده :

"و تصح الشركة و ان لم يخلطا المالين لأن الشركة فى الربح مستندة إلى العقد دون المال و إذ اتحققت الشركة فى التصرف تحققت فى المستفاد به و هو الربح الخ "(فتاوی قاضیخان و فتاوی انقرویه / ص: ۳۷۹ / ج: ۲)

سـوال :......

کـه د يـوه پيسـې يـولک وي د هـغـه بـل پيسې پنځوس زره وي نو برابري په ګټه کي شرط ده.چي ګټه به د دوی سره نیمی وي؟

جواب :......

نه برابري په ګټه کي شرط نه ده، هر يو به پر قدر د خپلو پيسو ګټه وړي:

”و عند علمائنا الثلاثة لا تشترط المساواة في الربح الخ“(فتاوى انقرويه / ص: ٣٧٩)

سـوال:......

دوه كسان په غوا سره شريكان دي، پنځلس ورځي يې يو لوشي، پنځلس ورځي يې بل لوشي، پر دې يې فيصله كړه، آيا دا فيصله په شريعت كي جواز لري كنه؟

جواب:......

جواز نلري ځكه زيادت و نقصان راځي:

”بقرة بين اثنين اصطلحا على ان تكون عنه كل واحد منهما خمسة عشر يوما يحلب لبنها فهذه مهايأة باطلة و لا يحل لأحدهما“ (مجمع الضمانات ص:٥٥١)

سـوال:......

دوه همسايگان په يوه دېوال سره شريكان دي . دېوال ونړېدى يو و بل ته وايي راسئ چي جوړ يې كړو هغه بل وايي نه يې جوړوم، آيا دى يې مجبوره كولى سي كنه؟

جواب:......

زموږ په زمانه كي يې مجبوره كولى سي:

”و اما في زمننا هذا فلا بد من حاجز في آخر بيوع الواقعات“ (مجمع الضمانات / ص: ٥١٣)

سوال:......

دوه كسان په يوه دېوال سره شريكان دي دېوال ونړېدى يوه د بل بې اجازې جوړ كى اوس د قيمت رجوع په هغه بل كولى سي كنه؟

جواب :......

کـه يې په امر د قاضي جوړ کړی وو بيا د نفقې و قيمت دواړو رجوع کولی سـي او که يې بغير د امرد قاضي جوړ کړی بياد قيمت رجوع کولی سي نه دهِ نفقې:

”**و قال المتأخرون ان بنی بامر القاضی رجع بما انفق وان بنی بغير امر القاضی رجع قيمة البناء عليه الفتوی**“(فتاوی انقرويه /ص: ۳۸٦ / ج: ۲)

سـوال :......

دوه کسان په ځمکه سره شريکان دي يوه ځمکه وکرله هغه بل ورتـه راغلی ورتـه و يې ويـل چې مـا در کـډ کړه هغه ورته وويل چې نيم قيمت د کښت راکه آيا دا جواز لري که يې نلري؟

جواب :......

که کښت شين سوی وو بيا جائز ده که نه وو شين سوی بيا نه دی جائز:

”**أرض بينهما زرعها احدهما و نبت فتراضيا علی ان يعطه الاخر نصف بذر و يکون الزرع بينهما جاز لا قبل ان ينبت**“ (فتاوی انقرويه / ص: ۳۸۷ / ج: ۲)

سوال :......

دوه کسان په يوه دېوال سره شريکان دي دېوال ونړېدی يوه وويل چې زه يې تر اول وار غټ او ښايسته جوړوم آيا دا بل يې منع کولی سي کنه؟

جواب :......

نه يې سي منع کولی:

”**انهدم جدار مشترکا بينهما و اراد ا حدهما ان يرفعه اطول مما کان ليس للاخر منعه**“ (فتاوی انقرويه / ص: ۳۸٦ / ج: ۲)

سـوال:......
دوه ورونه په كډه كار سره كوي يو غټ دى بل كوچنى دى، دكار چي كومه گټه ده هغه خالي د مشر ده كه د دواړو؟
جواب:......
خالي د مشر وروړ ده:په داسي حال كى چي پخوائى مال نه درلودى .
"الاخ الكبير والصغير إذا اكتسبا و لم يكن لهما شى فالكسب كله للاخ الكبير لأن الصغير معين الكبير لأن الاخ الكبير بمنزلة الاب فى جميع الاحكام فصول عمادى "(فتاوى انقرويه / ص: ۳۸۹ / ج: ۲)
سـوال:......
يـو سړي سامان واخيستى و بل سړي ته يې وويل چي دا سامان خرڅ كړه گټه يې زما او ستا سره نيمى ده، آيا دا جائز ده كنه؟
جواب:......
دا شراكت نه دى صحيح ، خرڅونكي لره أجر مثل ده
"رجل اشترى متاع فقال للاخر بعه بالشركة فما يكون ربحا فهو بيننا نصفان فالشركة غير صحيحة فالربح لصاحب المال و للاخر أجر مثل عمله " جواهر الفقه ، فتاوى انقرويه / ص: ۳۸۹ ج۲)
سـوال:......
دوه كسان دي پيسې نلري د اعتبار په وجه يې مال يعني كپړې واخيستې په پور باندې بيا يې په دواړو دا كپړې خرڅې كړې، گټه يې پكښې وكړه آيا دا شراكت صحيح ده كنه؟
جواب:......

هو ، دا شراکت صحیح ده بائع ته دي خپلي پیسې ورکړي ، ګټه چې ده هغه دي سره نیمی کړي:

" شركة الوجوه ان يشتريا بلا نقد الثمن بسبب وجاهتهما و يبيعان فما حصل من الثمن يدفعان منه الثمن إلى بائعها فان فضل شيئ يكون مشتركا بينهما "(فتاوى انقرويه / ص: ٣٧٩ / ج: ٢)

سوال: ......

که دوو شریکانو دا شرط ولګاوه چې کار به دواړه کوو بیا یوه کار کاوه هغه بل کار نه کاوه ، آیا ګټه به نیمی سره وړي ، نیمی د یوه نیمی د هغه بل ؟

جواب: ......

هو ! ګټه به نیمي سره وړي ، برابر :

" و إذا شرط العمل عليهما فالربح بينهما وان عمل أحدهما دون الآخر "(فتاوىٰ انقرويه / ص: ٣٧٩ / ج: ٢)۔

سوال: ......

مکان ده یعني سرای ده د دوو کسانو سره شریک ده یوه دا مکان په کرایه ورکړ د هغه بل اجازه نه وه بې له اجازې د شریک آیا دا غائب په أجرت کي ورکډ ده که نه ؟

جواب: ......

هو ! غائب په أجرت کي ور شریک ده:

" دار بين اثنين غاب أحدهما و أجرها الآخر و آخذ الأجــــرة فللغائب ان يشاركه في الأجرة الخ "(مجمع الضمانات / ص: ٥٠٥)

سوال: ......

دوو كسانو مال سره ګډ كړى چي سره شريكان به سو، آيا يو د دوى په دغه مال سره سفر كولاى سي يعني دوه كسان دي سره شريكان دي آيا دا يو بې له اجازې د هغه بل په دې مال سفر كولاى سي بې له جازې كه يې نسي كولاى؟

جواب:......

بې له اجازې په مال مشترک سفر نسي كولاى:

"ولو كان بينهما شركة في مال خلطاه ليس لوأحد منهما ان يسافر بغير اذن الآخر" مجمع الضمانات / ص: ۵۰۵)

سـوال:......

دوه كسان دي سره شريكان دي په تجارت كي پر يوه سړي يې قرض پور باندي دى دا يو ورغلى خپله حصه يې ځني واخيسته آيا دا بل شريک په دغه حصه كي ور ګډ دى كنه؟

جواب:......

هو! دا بل شريک ور ګډ دى:

"رجلان لهما دين مشترك على رجل فاخذ أحدهما حصته من المديون كان لشريكه ان يشاركه فيما قبض اه" مجمع الضمانات / ص: ۵۰۱)

سوال:......

دوه كسان دي موټر يې سره شريک ده آيا دا يو شريک بې له اجازې د هغه بله په داغه موټر كى يو خواته سفر كي كولاى سي كنه؟

جواب:...... نه يې سي كولاى يعنى بې له اجازې دغه مشتركه موټر نه سى بيولاى.

"وفي الدابة المشتركة لا يركبها أحدهما لأن الناس يتفاوتون في الركوب الخ" مجمع الضمانات / ص: ۵۰۱)

سوال:......

اوښ دی د دوو کسانو سره شریک دی، هغه یوه بار کړ د کلي څخه و ښار ته ئی بار پر وړي په لاره کي وکښي ته ولوېدې،ده حلال کړی، آیا دا سړی د هغه شریک لپاره ضامن ده کنه ده؟

جواب:......

که یې امید د ژوندوو بیا یې ضامن دی او که یې امید د ژوند نه وو بیا یې ضامن نه دی:

"رجلان بينهما بعير حمل أحدهما عليه شيئاً من القرية إلى المصر فسقط البعير في الطريق فنحره قالوا انكان يرجىٰ حياته يضمن حصة شريكه و ان كان لا يرجىٰ لا يضمن الخ-" (مجمع الضمانات / ص: ۵۰۳)

همدا رنګه موټر د دوو کسانو سره شریک وو یو بار کړ د کلي څخه و ښار ته پر لاري یې ټکر کړ بیا یې خر څ کړ که چیري امکان د جوړېدو دموټر وو ده خر څ کړی وو بیا یې ضامن دی او که یې امکان د جوړېدو نه وو بیا یې ضامن نه دی.

سوال:......

دوو کسانو مکان یعني سرای یې په شراکت واخیستی دا یو غائب سو یو خوا ته ولاړی، آیا دا بل شریک سکونت کي کولای سي کنه، او د أجریې ضامن دی کنه؟

جواب:......

هو، سکونت کي کولای سي، کور کي جوړولای سي د أجر يې ضامن نه دی:

"سکن دارا مشترکة بغيبة شريکه لا يلزمه أجر حصته و لو معدة للاستخلال اذ الدار المشترکة فی حق السکنی مملوکة لکل واحد منهما علی الکمال"

(مجمع الضمانات / ص: ٥٠٤)

سوال:......

زيد و عمر جائيداد واخيستی په شراکت بيا زيد مړ سو د زيد وارثانو پر عمر دعوه وکړه چي دا خو ستا او د زيد سره شريک وو عمر ورته وويل چي دا پيسې ما ورکړي دي زيد نه دي ورکړي آيا دا د زيد د وارثانو دعوه صحيح ده کنه؟

جواب:......

هو، دعوه يې صحيح ده:

"بناء علی ان مطلق الشرکة يقتضی التسوية الخ"(فتاوی دار العلوم ديوبند / ص: ٥٩٧)

سوال:......

دوه کسان دي سره شريکان دي يو سړی ولاړ مال يې واخيستی چي دلې راغلی ويل يې چي ما دا مال د شراکت په پيسو نه دی اخيستی، آيا دا دعوه يې صحيح ده کنه؟

جواب:......

هو ! دا دعوه يې صحيح کيږي هلته که يې چيري په وخت د اخيستو کي کواهان نيولي وو چي دا مال زه د ځان لپاره اخلم:

"ان کانت شرکة عنان له بينة انه عند العقد صرح بالشراء لنفسه خصوصاً"(

فتاویٰ انقرویه / ص: ۳۸۵ / ج: ۲)

سوال:......

درې کسان سره شریکان دي په یوه کار کي یعني کار یې په شراکت سره ونیوی، یو مریض سو، او نورو دوو کار وکړی آیا مریض لره حصه سته؟

جواب:......

هو! ده لره خپله حصه سته:

"ثلاثة استؤجروا علی عملٍ بالشركة فمرض أحدهم و عمل الأخران ذلك العمل فالأجرة بينهم" (فتاویٰ انقرویه / ص: ۳۸۵ / ج: ۲)۔

سوال:......

دوه کسان په کبنت سره شریکان دي یوه و بل ته وویل راځه چي اوبه ولګوو هغه ورته وویل چي زه یې نه لګوم آیادا بل یې مجبور کولی سي کنه؟

جواب:......

مجبور کولی یې سي:

"والحرث إذا كان بين شريكين فابى أحدهما ان يسقيه يجبر" (فتاویٰ انقرویه / ص: ۳۸۱ / ج: ۲)

سوال:......

دوه یتیمان دي په یوه سرای سره شریکان دي دواړه یعني هر یو خپل وصي لري، سرای ونړېدی یوه وصي وویل راسه جوړ یې کړو هغه بل وایي زه یې نه جوړوم، آیا دی یې مجبور کولی سي کنه؟

جواب:......

خبره دي قاضي ته پورته کړي قاضي يې مجبور کولی سي:
" يرفع الامر إلى القاضي حتى يجبره علىٰ العمارة"(فتاویٰ انقرويه / ص: ۳۸۵ / ج: ۲)

سوال:......

دوه کسان دي سره شريکان دي په ځمکه يو راغلی بې له اجازې د شريکه يې کمره کي جوړه کړه آيادا شريک يې کمره نړولای سي کنه؟

جواب:......

شريک ته دا جائز ده چي بناء ور خرابه کړي ور ويې نړوي:
" أحد الشريكين إذا بنى في أرض مشتركة بغير اذن شريكه كان لشريكه ان ينقض البناء" (مجمع الضمانات / ص: ۵۱۰، فتاویٰ انقرويه / ص: ۳۸۵ / ج: ۲)

سوال:......

د زيد درې زامن دي دوه بالغ دي يو نابالغ دی، هغه دوه بالغ د زيد سره کار کوي هغوی يو څه روپۍ جمع کړې وروسته دا بل بالغ سو په دې روپو کي دا نابالغ حق لري او کنه؟

جواب:......

"قال العلامة ابن عابدين الاب و ابنه يكتسبان في صنعة وأحدة و لم يكن لهما شيئ فالكسب كله للاب ان كان الابن في عياله الخ"

يعني دې مال مالک پلاردی، زامن يې يو لا هم حق نلري که چيري پلار مړ سو بيا ټول په شريکان دي، حصه کي فرق نسته. (ردالمحتار / ص: ۳٦ / ج: ۳)

سوال:......

د زيد څلور زامن وو دوه تجربه ناک وو هغه نور دوه بې تجربې وو هغه

دوو ډېري روپۍ ګټلي دا دوه بې تجربې وو لږ يې ګټلي، په ټولو يې يو څه روپۍ وګټلي بيا يې يو شی په رانوی بيا يې خرڅ کړی، اوس يې تقسيم کوي هغه هوښيار و تجربه ناک ورته وايي چې زموږ حصه ډېره ده ولي موږ ډېري ګټلي دي، هغه نور ورته وايي چې په حصه کي فرق نسته، ددوی تقسيم په شريعت کي څنګه دئ؟

جواب:......

"قال فی التنوير و ما حصله أحدهما فله و ما حصلاه معاً فلهما نصفين الخ و كذا قال لو اجتمع اخوة يعملون فی ترکة ابيهم و نما المال فهو بينهم سوية الخ"

يعني په شريعت کي د دې تقسيم د دوی په مابين کي په حصه کي فرق نسته . (رد المحتار / ص: ۳٦ / ج: ۳)

سوال:......

د زيد دوه زره روپۍ وې او د بکر يو زر روپۍ وې، دوی دوو کار په کاوه بيا کاروبار تاوان وکړ، آيا دا تاوان پر زيد دی او که پر بکر دی؟

جواب:...... دا تاوان به په هغه روپو پوره کوي چې دوی په ګټلي وي، که چيري په هغو نه پوره کېدی بيا دوې حصې پر زيد دي يوه حصه پر بکر ده . (احسن الفتاوی / ص: ۳۹۸ ج٦)

سوال:......

که چيري د زيد سره شريکان په يو کاروبار کي وو بيا يې يو دوکان رانيوی بيا عمر و زيد ته وويل چې ما درسره شريک کړه عمر ورسره شريک سو د زيد روپۍ ډيري وې د زيد شريکان د زيد په خيانت پوه سول، زيد خيانت کاوه چې زه جلا کېږم، د زيد دپاره دا جلاوالی جائز دی او کنه، او دوکان يې

په څلوېښت زره رانیولی، بیا یې قیمت ډېر سو، زید ورته وایي چې دوکان ماته په هغه قیمت راکړه، چې موږ مخ کي رانیولی دی، شریکان یې نه ورکوي، آیا د زید دپاره دا جائز ده او کنه؟

جواب:......

"قال العلامة اشترکا و اشتریا امتعته ثم قال أحدهما لا اعمل معك بالشرکة و غاب فباع الحاضر الامتعة فالحاصل للبائع و علیه قیمت المتاع الخ"

یعني شریک هر وخت چي وغواړي هغه جلا کېدای سي اوپر دوکان به قیمت ږدي هر څومره چي داوس قیمت وو، بیا هر چا چي غوښتی دا دوکان د هغه دی. (ردالمحتار / ص: ۳۶۲/ ج: ۳)

سوال:......

عنایت الله و محمد علي یو موټر په ۲۵ زره کالداري په شراکت رانیوی ۱۶ زره کالداري یې ورکړې ۱۹ زره کالداري یې دوې میاشتي قرض وکړ چي هغه وخت پوره کېدی محمد علي ولاړی ایران ته هغه چي پوره سو د موټر خاوند راغلی د عنایت الله څخه یې پور غوښتی، عنایت الله روپۍ نه درلودې، عنایت الله یې ډېر مجبور کړی، بیا یې موټر په ۳۰ زره کالداري خرڅ کړی بیا محمد علي راغلی اعتراض یې شروع کړ ویل یې چي تا دا موټر ولي ورکاوه، خو ۵ زره دي تاوان وکړ، دا تاوان پر چا دی او دا بیع صحیح ده او کنه؟

جواب:......

"قال فی التنویر نحو حمام و طاحون وعبد و دابة حیث یصح بیع حصته اتفاقاً" یعني دا بیع په حصه کي د عنایت الله صحیح ده او محمد علي و

خريدار سره شريكان دي كه چيري دوى راضي نه وي بيا دي بيع فسخ كړي . (رد المحتار / ص: ٣٤٦ / ج: ٢)

سوال :......

د زيد په لاس كي يو سراى د پلار په ميراث كي ور پاته وو دا سراى دوه د ورثؤ په مابين كي تقسيم نه وو يوه حصه يې په كرايه وركړه زيد ، دا پيسي يې ټولولې پټولې يې ، په مابين كي دېوالونه خرابه سوه چي دېوالونه يې خرابوي په نيم قيمت خرڅيږي ، زيد په دې روپو دېوالونه جوړولى سي او كنه ، او كه چيري دېوالونه جوړولى سي بيا د شريكانو څخه اجازه به اخلي او كنه؟

جواب :......"قال العلائی والضابطة ان كل من اجبران يفعل مع شريكه إذا فعل أحدهما بلا اذن فهو متطوع و إلا لا ، و لا يجبر الشريك على العمارة الخ"

يعني كه چيري سراى قابل د تقسيم وو خو زيد هغه روپۍ په مصرف كولى سي ، په اجازه د شريكانو .

سوال :......

پنځه (٥) ورونه اويوه (١) مور او ځلور خوندي دي په پنځو ورونو كي يو مُلا دى . د دوى پلار مړ دى د پلار له مرګه بعد مور ته يو ټريكټر او غوا او نور شيان يې پاته سوي دي او ملا صاحب خپل علمي زده كړي سره سره دنياوي چاري هم تر سره كولې . له ورونو څخه اوس مولوي صاحب د وراثت غوښتنه كړې ده ځكه ملا صاحب د پلار د وراثت څخه خالي لاس را وتلى دى د ورونو څخه ، اوس ورونه ورته وايي چي ستا هيڅ حق هم نسته ، وايي چي تا خپل سبقان ويل خو مولوي صاحب امامت هم كړى دى سره د

کښت کاري، او د پنځوس او شپېتو شا وخوا زره يې هم کور ته راوړي دي، او د کور جوړ ناجوړه او نور خرچه يې هم خپله کوله . د پلار ميراث د تر يکټر څخه يوه مزدا او بيا دوې سولې سرايونه سول، بيا يې کاروبار هم سو . بيامولوي صاحب چې په کومه ور ځ راوتی، د وروڼو څخه مشر ورور يې کښېنوی چې راسره حساب وکړه ده ورته وويل چې بيا يې درسره کوم . مولوي صاحب په ګډ وېش کي دوه سرايه په شراکت درلودل .بيا د شريک له وجهي څخه سرايونه ارزانه خر څ سول ځکه شريک يې په هر حال کي خرڅول . بيا مولوي پر وروڼو باندي غاړي خلاصي کړې وې چې سرايونه زما د شريک څخه راوکرزوئ تاسي زما د شريک حصه ورکړئ خو بيا وروڼو ورته ويل چې موږ کار نه درلرو، ته پوه سوې هسي دي سرايونه خر څ کړه . بيا مولوي صاحب خر څ کړل پيسې يې هم موجودي دي او وروڼو ته يې هم د هر کاروبار اجازه ورکړې وه . مولوي صاحب د وروڼو څخه د راوتلو پر محال دا خبره ور ته کړې وه چې ستاسي حساب ما سره ستــه د سرايو زه درڅخه جلا کېږم ما سره حساب وکړئ خو وروڼو يې حساب ته غاړه نه وه ايښې . مولوي صاحب ورته ويل چې کوم حساب له ما سره موجود دی هغه درکوم خو له تاسي څخه هم حساب غواړم او که يې نه راکوئ زما د ګټي او تاوان څخه تاسي خلاص ياست . او ستاسو په ګټه در شريک يم او د تاوان څخه خلاص يم او په دا مذکوره بيان کي زما حق ثابتيږي که يا که په خبرو کي غلطي يا کوتاهي سوې وي دې نمبر ته رابطه وکړئ .

جواب :......

"لما قال العلامة سليم رستم باز رحمه الله : فاذا كان سعيهم وأحدا و لم يتميز ما حصله كل وأحد منهم بعمله يكون ما جمعوه مشتركا بينهم بالسوية ، إن اختلفوا في العمل والرأى " (شرح مجلة الاحكام تحت المادة ١٣٦١ : / ص: ٧٢٥، الكتاب العاشر۔)

و قال العلامة ابن عابدين رحمه الله : لو اجتمع أخوة يعملون في تركة ابيهم و نما المال فهو بينهم سوّية و لو اختلفوا في العمل والرأى ۔ (رد المحتار / ج: ٤ / ص: ٣٢٥ ، كتاب الشركة ، فصل في الشركة الفاسدة ، و مثله في تنقيح العامدية ، / ج: ۱/ ص: ٩٥ ، كتاب الشركة)

نو لـه مذکوره عباراتو څخه دا ثابته سوه چي د مولوي صاحب حق د پلار په موروثه کي سته .

سـوال :......

دوو (۲) کسانو موټر په شراکت واخيستی او بيا يو د شريکانو څخه په کي ډرئيور سو ، آيا دا شراکت جائز دی او کنه؟

جواب :......

دوه صورتـه لـرن کـه چيري مزدوري د دوارو اخيستـه کېده بيا فاسد دی او کـه حاصل د رأس المال پـه نيمايي وو او د ډرئيور مزدوري جلا وه بيا جائز دی ، يعني څلور زره روپۍ مزدوري وه او د جانب مقابل څخه يې دوه زره غوښتي بيا صحيح ده (او که يې حاصل د رأس المال سره حصې کاوه مثلا دوې حصې ډرئيور ورې يوه حصه شريک بيا فاسده ده) (رد المختار / ج: ۳/ ص: ۸۴)

" لو كانت الدابة بين اثنين دفعها أحدهما للأخر على ان يؤجرها و يعمل عليها على ثلثي الأجر للعامل والثلث للأخر و هي كثيرة الوقوع و لا شك في

فسادها لأن المنفعة كالعروض لا تصح فيها الشركة ، و حينئذ فالأجر بينهما على قدر ملكها و للعامل أجر مثل عمله ـ (و كذلك السفينة و البيت اى مثل الدابة) له سفينةٌ فاشترى مع أربعةٍ على ان يعملوا بسفينة وآلاتها ، والخمس لصاحب السفينة و الباقي بينهم على السوية فهي فاسدة ـ والحاصل لصاحب السفينة و عليه آجر مثلهم " (كتاب الشركة الفاسدة ، و كذا في التح القدير / ج: ٥ ، / ص: ٤١١ ، فصل في الشركة الفاسدة)

لو دفع دابة إلى رجلٍ ليؤجرها و ما اطعم الله تعالىٰ بينهما نصفان كان الاجر كله لمالك الدابة (و كذا السفينة والبيت) و للعاقد أجر مثله لأنه لم يرض ان يعمل مجاناً ـ



﴿كتاب القسمة﴾

سوال :......

كه څو كسان په ځمكه كي شريكان وو وېش يې نه وو كړى دا يو شريك راغلى بې د اجازې د شريكانو يې يوه كوټه بناء كړه شريكان چي خبر سوه جګړه يې شروع كړه په دا صورت كي څه حكم دئ؟

جواب :......

كه اجازه شريكانو نه وه وركړې دا ځمكه دي تقسيم سي په مابين د شريكانو كي .

"قال فى الفتاوى كاملية إذا لم يجيزو الشركاء ما فعل تقسيم بينهم فان وقع نصيبه فيما بنى فيه و غرس بقى وان لم يقع فيما بنىٰ فيه بل فى نصيب الشركاء قلع و ضمن ما نقصته الأرض بذلك" (فتاوى كاملية ٢٢٤)

سـوال :......

كه شريكانو تقسيم وكړى بغير د اجازې د قاضي په دا صورت كي تقسيم صحيح دى كه نه دى صحيح ؟

جواب :......

هو، صحيح دى :

"قال فى الفتاوى كاملية قال فى المنتقى و صح الاقتسام بانفسهم بلا آمر القاضى و فى الخيرية القسمة بالتراضى آكدَ منها بقضاء القاضى " اه ـ والله اعلم (كاملية / ص: ٢٢٤)

سوال:......

كـه دوه شـريكان تقسـيم د محٔكي وكړي بيا دا يوه دعوه شروع كړه چې زما د محٔكي حصه كمه ده په دا صورت كې د ده دعوه چليږي كه نه چليږي؟

جواب:......

هو، د دغه شريک د تقسيم دعوه چليږي:

"قال في التتارخانية نقلا عن الخيرية قاسم قسم دار بين اثنين و اعطى أحدهما اكثر من حقه غلطاً و بنىٰ أحدهما في نصيبه قال تستقبل القسمة فمن وقع بنائه في قسمة غيره رفع نقضه و لا يرجعون على القاسم بقيمة البناء و لكن يرجعون عليه بالأجر الذى اخذ منهم"

سـوال:......

كـه وارثانو د قاضي څخه د تركې د تقسيمولو طلب وكړ او يوه له شريكانو څخـه اقـرار وكـړو چـې پـر مـړي پور باندي دى قاضي دا پور له ټولي تركې وركوي او كه يې د دغه مقر نو له حصې څخه وركوي؟

جواب:......

قاضي به يې د مقر له حصې وركوي يعني مقر به امر كوي په ادا د پور سره:

" قال في الفتاوى كاملية نعم و يؤمر المقر باداء الدين من حصته قال في الخانية إذا طلب الورثة القسمة من القاضى سألهم القاضى هل عليه دين ان قالوا لا كان القول قولهم وان اقر أحد الورثة بدين على الميت و جحد الباقون قسمت التركة بينهم و يؤمر المقر بقضاء كل الدين من نصيبه عندنا ـ"(فتاوى كاملية / ص: ۲۲۵)

سـوال:......

کـه يـو سړی مړ سي او وارث يې ښځه وي حامله او نور وارثان يې هم وي دا نـور وارثـان تقسيمول غـواړي فی الحال او نه دریږي تر حمل پيدا کېدو پور نـو آيـا قـاضـي به د دوی خبره مني او تقسيم به کوي د حمل برخه به ږدي که بې نه ږدي؟

جواب:......

کـه وارثـانو د بـچـي تـر پيـدا کېدو پوري انتظار نـه سوای کولای نو کـه د پيـداکېـدونكي بچي زمانه ليري وه تقسيم دي کړي او ديوه بچي حصه دی کښيږدی او که نژدې وه بيا دي انتظار وکړي:

"قـال فـي الـفتـاوى كـامـلية ان فـي الـمسئلة تفصيلا ذكره فى الخانية و هذه عبارتها لو مات رجل و ترك امرأة حاملاً و ابناً فان القاضى لا يقسم الميراث حتى تلدفان كان الوارث اكثر من واحد ولم ينتظروا الولادة ان كانت الولادة بعيدة يقسم و ان كانت قريبة لا يقسم و مقدار القرب والبعد مفوض إلى رأى القاضى ، و إذا قسـمـت التـركة يـوقف نـصيب الحمل واختلفوا فى مقدار ما يوقف للحمل قـال الـفقيه أبو جعفر يوقف نصيب ابنين و يقسم الباقى و ذكر الخصاف عن ابى يوسف انه يوقف نصيب ابن واحد و عليه الفتوى۔"

سوال:......

کـه يـو سړی مړ سي او وارثه يې يوه ښځه حملداره وي او نور وررنه وي نور څوک يـې نـه وي او دوی طـلـب د تقسيم وکړي آيا د دوی خبره به منل کيږي که نه؟

جواب:......

ددوی خبره به نه منل کيږي تقسيم به نه کوي:

"قال فی الکاملیة نعم لا یجابون إلی ذلك قال فی الخانیة هذا اذ کان الورثة ممن یرثون مع الحمل ان کان ابنأ فان کانو لا یرثون مع الابن بأن مات عن اخوة و امرأة حامل توقف جمیع الترکة و لا تقسم لأن فی حق الاخوة فی طلب القسمة شکاً فلاتقسم ـ "(خانیة ، کتاب الشرکة)

سوال:......

که یو له شریکانو غائب وي او دوی شریکان وي په ځمکه کي چي هغه قابله د تقسیم وي نو دا یو شریک چي حاضر دی تقسیم غواړي قاضي به تقسیم کوي که نه؟

جواب:......

قاضي به تقسیم نه کوي تر څو چي غائب شریک راغلی نه وي:

"قال فی الفتاوی کاملیة نعم و قد افتی بذلك شیخ الاسلام علی افندی رحمه الله تعالی ، و استدل بما فی الخانیة من قولها و لو کانت الشرکة بالشراء و بعض الشرکاء غائب لایقسم عقاراً کان او عروضا حتی یحضر الغائب "(خانیة ، کتاب الشرکة)

سوال:......

که په وارثانو کي یو وارث کوچنی وي نو دوی تقسیم وکړي د ترکې بیا دا کوچنی بالغ سي او پخپله حصه کي تصرف وکړي آیا دا تصرف اجازه ده د تقسیم یعني دا تصرف د ده د راضي کېدلو دی په دې تقسیم کي که نه دی؟

جواب:......

دا رضا ده:

"کما فی الفتاوی الکاملیة نعم یکون اجازة کما فی جوهر الفتاوی من

الخيرية ۔"

سـوال :......

کـه يو فـضـولـي يـعـنـي پـردی سـړی تـقـسیم وکړي دا موقوفـه تر اجـازې د شريکانو دی او که اجازه د شريکانو غواړي؟

جواب :......

دا تقسيم د فضولي موقوفه تر اجازې د شريکانو دی:

" قـال فـی الفتوی نعم تتوقف علي الاجازة وتكون بالفعل كما تكون بالقول و قـد صرح عـلـمـاء نـا بان كل عقد يصح التوكيل فيه و يتوقف عقد الفضولی فيه على الاجازة والقسمة مما يصح التوكيل فيه ۔"(فتاوی کاملیة / ص: ۲۲۵)

سـوال :......

کـه د مـړه ښـځـه دعـوه وکـړي چي زه حمل لرم نودا به قابلي ښځي ته عرض کيـږي يعني دا به يوه ښځه کوري چي ددې رښتيا معلوم سي چي دا رښتيا وايي او که ناحقه دعوه کوي او که نه عرض کيږي قابلي ته؟

جواب :......

هـو ! دا دي يـوه ديـنـداره ښـځـه يـا دوې ښځي وګوري او اړ خ د دې دي مسح کـړي کـه د حمـل عـلامه وي بيا دي انتظار وکړي او کـه د شي عـلامه نه وي او حمل نه وي تقسيم دي وکړي:

" قـال فـی الـکـامـلية انها تعرض على امرأة ثقة او امرأتين حتى تمس جنبها فان لم تقف على شيئ من علامات الحمل يقسم الميراث و ان وقفت على شيئ من امارات الحمل تربصوا حتى تلد۔ افاده قاضی خان و نقله بهجة الفتاوی۔"

سوال :......

که دوه شرکان یو باغ سره جلا کړی دیوه شریک د درختو ښاخلې د بل شریک په حصه کې ځړیږي دا شریک د ښاخلو د پرېکېدو حق لري که یې نه لري؟

جواب:......

دا شریک د ښاخلو د کاټېدو د درختو حق نه لري:

"قال فی الفتاوی کاملیة لا یجبر علی قطعها إلا أن یکون مشروطا فی القسمة" (فتاویٰ کاملیة / ص: ۲۳۰)

سوال:......

مزدوري د قاسم یعني د تقسیم ورکونکي د مځکي پر حصه ده که ده د شریکانو پر سر ده؟

جواب:......

مزدوري د قاسم د شریکانو پر سر ده:

قال فی در المختار"و ینصب قاسم برزق من بیت المال لیقسم بلا أجر منهم و هو أحب و أن نصب بأجر المثل صح و هو علی عدد الرؤس مطلقاً أی سواء تساوو فی انصباء أملا و سواء طلبوا جمیعا أو أحدهم من البرد"

سوال:......

که دوه کسان حیوانان سره جلا کړي په خوشحالي سره او یو و بل ته پیسې یا روپۍ ور زیاتي کړي دپاره د برابرېدو د تقسیم دا تقسیم صحیح دی او که نه دی صحیح؟

جواب:......

هو! دا تقسیم صحیح دی:

"قال فی الـخيرية فی جواب عن مثل هذا السوال نعم تصح القسمة و يلزم المال"

سوال:......

.کـه ينو د وارثـانو غائب وي او دا نور حاضر تقسيم غواړي د قاضي څخه آيا قاضي به د دوی خبره مني او تقسيم به کوي او کنه؟

جواب:......

هـو! قـاضي دي تقسيم وکړي او انتظار د غائب دي نه کوي که حاضرين دوه زامـن يـا ورونـه وي يـا لويان يا يو کوچنی او بل لوی وي نو له کوچني څخه دي وصي ودروي او حصه د غائب دي له يوه عادل سړي سره کښېږدي:

" قـال فـی الفتوی نعم قال فی الخلاصة فان کان فيهم غائب يقسم و لا ينتظر حضور الغائب بعد ان يکون الحاضر ابنين کبيرين اوأحدهما صغير فينصب عن الصغير وصياً و يقسم لأن أحد الـورثة خصم عن الباقين و يضع حصة الغائب تحت يد عدل ـ" (فتاویٰ کاملية /ص: ٢٢٦)

سـوال:......

که ورثاء وو تقسيم و کړ بيا يوه وارث دعوه د پور وکړه چي زما پر مړي پور بـاندي دی او دليل يې وي نو آيا دعوه يې قبليږي، وروسته د تقسيم او که نه قبليږي؟

جواب:......

دعوه يې قبليږي ځکه تقسيم بري کېدل د مړي نه دی له پوره:

"کقوله نعم تقبل دعواه و لا يکون الاقتسام ابراء عن الدين کما فی البزازية"

سـوال:......

کـه یـو سړی مـړ سـو یوه ښځه او نور یې بچیان وي واړه او ښځه دعوه کوي چې ټـول سامـان پـه کـور کې چې دی هغه زما دی آیا قاضي لره دا ستـه چې تعرض وکړي و ښځي لره او أمینان ور ولیږي او کنه؟

جواب:......

قاضي لره دا نستـه:

"قال فی الفتاوی کاملیة لیس للقاضی ذلك والحالة هذه قال فی بهجة الفتاوی نقلا عن القنیة وکذا لو مات عن امرأة وصغار وسئل الجیران ختم الابواب للصغار وقالت المرأة جمیع ما فی البیت لی لم یتعرض لها القاضی ولا یبعث آمینا فی اشباه ذلك رجل یموت عن صغار ولیس أحد یدعی شیئا مما فی البیت فیبعث فی ذلك امینا یحفظ للصغار ذکره صاحب القنیة فی منع الدعوی۔ من کتاب القضاء۔"

سوال:......

کـه سرای مشتـرک وي پـه مـابین د دوو کسانو کې نصیبه د یو ډېره وي تر حصې د بـل شـریک او صـاحب د ډېري حصې تقسیم غواړي او ده لږ حصې مالک منع کوي، قاضي به تقسیم کوي که نه؟

جواب:......

هو! تـقسیـم بـه کـوي خـواه د ډېري حـصې مـالک تقسیـم غـواړي او کـه د لږ حصې:

"قال فی الفتاوی عالمگیریة دار بین رجلین نصیب أحدهما اکثر فطلب صاحب الکثیر القسمة وأبی الأخر فان القاضی یقسم عند الکل وان طلب صاحب القلیل القسمة وابی صاحب الکثیر فکذلك وهو اختیار الإمام الشیخ

المعروف، خواهر زاده و علیه الفتوی فتاوی عالمگیریه (ج ۱ ص:۶۰۲، کتاب القسمة)"

سوال:......

که یوه ویالـه وه ددوو کسانو سره شریکه وه ایو شریک وایي چي زه بیاله تقسیمومه دا دوهم وایي چي زه یې نه تقسیمومه اوس اول شریک حق د تقسیم لري او کنه؟

جواب:......

که دا تقسیم دوهم شریک ته نقصان وي د لاري د اوبو حق نه لري:

" قال فی الفتاوی عالمگیریة و ان کان مسیل ماء بین رجلین أراد أحدهما قسمة ذلك و ابی الأخر فان کان فیه موضع یسیل منه ماؤه سوی هذا قسمة و ان لم یکن له موضع إلا بضرر لم اقسمه و هذا و الطریق سواء کذا فی المبسوط"

(فتاوی عالمگیریة / ص: ۲۰۸)

سوال:......

که باچا د ملک پر یوه کلي تاوان کنبیږدي او دا د کلي خلك دا تاوان تقسیموي دا تقسیم به د ملکیت د مځکي پر سر کیږي که دا تقسیم د انسانانو پر سر کیږي؟

جواب:......

دا تقسیم که چیري فائده د مځکي وه د مځکي پر سر تقسیم کیږي که فائده د انسانانو د بدن وي دا تقسیم به د انسانانو پر سرو کیږي:

"قال فی الفتاوی عالمگیریة ان کانت الغارامة لتحصین أملاکهم یقسم ذلك علی الاملاك لأنها مؤنة الملك فتتقدر بقدر الملك و ان کانت الغرامة لتحصین

الابدان يقسم ذلك على عدد الرؤس لأنها مؤنة الروس و لا شيئ على النسوان ولاصيان في ذلك لأنه لا يتعرض لهم كذا في المحيط " (فتاوى عالمگيرية / ص: ٢٠٨)

سـوال :......

کـه د دوو کسـانـو انـګور سره ګډ وي داتقسیم به څنګه کوي په ترازو سره يا په پيمانه سره؟

جواب :......

دا تقسیم به په تول او په پیمانه سره هم جائز دی .

"قال في الفتاوى عالمگيرية قسمة العنب بين الشريكين بالوزن بالقبان والميزان والمكليال تصح كذا في الظهيرية" (فتاوى عالمگيرية ، كتاب القسمة / ص: ٢٠٧)

سـوال :......

دوه کسان په لار کي سره دعوه کوونکي وي يو وايي چي دا لاره زماحق ده دا بل وايي چي زما حق ده، دا تقسیم صحیح دی که نه دی صحیح؟

جواب :......

دا تقسیم صحیح نه دی دا لاره د يوه هم نه کيږي:

" قال في الفتاوى عالمگيرية و لو اختصم أهل الطريق فادّعى كل واحد منهم أنه له فهو بينهم بالسّوية إذا لم يعرف أصله لاستوائيهم في اليد على الطريق والاستعمال له و لا يجعل على قدر ما في ايديهم من ذرع الدار و المنزل حاجة صاحب المنزل الصغير إلى الطريق كحاجة صاحب الدار الكبير "(فتاوى عالمگيرية / ص: ٢٠٤)

سـوال :......

کـه دوه کسـان په غنمو کي سره ګډ وي غنم یو قسم وي فرق نه وي پکښې دا یـو شـریک خپله حصه جلا کړي هغه بل نه وي دا تقسیـم صحیح دی که نه دی صحیح؟

جواب :......

دا تقسیم صحیح دی:

"قال فی الفتاوی عالمگیریة و لو کانت بینهما حنطة أو دراهم أو ثیاب من جنس وأحد فمیّز أحدهما نصیبه جاز کذا فی السراجیة ـ "(فتاوی عالمگیریة / ص: ۲۰٤)

سوال :......

کـه وارثـان بـالـغ وي د ټولو پـه رضـا یو دوکـان او ځمکـه وه یو وارث تـه ورکړي دا تقسیم صحیح دی او که نه دی صحیح؟

جواب :......

دا تقسیم صحیح دی:

"قال فی الفتاوی عـالـمگیریة و إذا کانت فی الترکة دار و حانوت والورثة کلهم کبار و تراضوا علی ان یدفعو الدار و الحانوت إلی وأحد منهم عن جمیع نصیبه من الترکة جاز عند ابی حنیفةؒ ـ "(فتاوی عالمگیریة / ص: ۲۰۵)

سـوال :......

قـران مـجیـد او ځیـن د آس او ټوپک تقسیم کېدلی سي او که نه سي تقسیم کېدلی، تقسیم یې صحیح دی که نه دی صحیح؟

جواب :......

دغه تقسیم صحیح نه دی:

"قال فی الفتاوی عـالـمگیریة و فی مختصر خواهر زاده و لا تقسم القوس

والسرج والمصحف كذا فی التتارخانية "(فتاویٰ عالمگيرية / ص: ٢٠٨)

سوال:......

كه يو سړی وصيت وكړي چي دا وړى او شيدې د ميږي په غولانځ كي يا دا وړى د ميږي پر شا باندي د دغه دوو كسانو شيركي دي دا تقسيم صحيح دی كه نه دی صحيح؟

جواب:......

دا تقسيم صحيح نه دی:

"قال فی الفتاوی عالمگيرية فان اوصی بصوف علی ظهر غنمه لرجلين فأراد قسمة قبل الجزاز لم أقسمه وكذا لبن فی الضرع لأن ذلك مال الرباء فأنه موزون او مكيل لا تمكن قسمة إلا بوزن أو كيل و ذلك بعد الحلب وا لجزاز اه فأما الولد فی البطن فلا تجوز قسمة بحال كذلك و لو قسما ذلك بينهما بالتراضی لم يجز كذا فی المبسوط فی باب مالا يقسم "(فتاویٰ عالمگيرية / ص: ٢٠٨)

سوال:......

ديوه لرگي يا ديوې دروازې يا ديوه حيوان تقسيم صحيح دی او كه نه دی صحيح؟

جواب:......

صحيح نه دی:

"قال فی الفتاوی عالمگيرية والخشب و الباب والرحی والدابة و للؤلؤ لم تقسم إلا برضاهما و فی التجريد و كذا القصب و كل شيئ يحتاج إلی الخشبة الواحدة اذ كان فی قطعها ضرر شقه وكسره و فی ذلك ضرر و كذا فی الخلاصة"(فتاویٰ عالمگيرية / ص: ٢٠٨)

سوال:......

دوه کسـان پـه خوشحالي او په رضا سره کېږه سره جلا کړي او پر مابين يې دوه ځايه کړي بيا دا يو شريک دا خبره کوي چې زما دا تقسيم نه دی خوښ، دا دعوه د دا شريک چليږي که نه چليږي؟

جواب:......

دا شريک لره د تقسيم وروسته حق نسته:

"قال فـی الفتاوی عالمگيرية و ليس لوأحد منهما أن يرجع بعد تمام القسمة هكذا فی المبسوط فی باب القسمة الحيوان والعروض "(فتاویٰ عالمگيرية / ص: ٢٠٩)

سـوال:......

کـه يو سړی مړ سي او وارثان يې تقسيم غواړي، ښځه يې حامله وي او نور داسـي کسـان وي که چيري دا ښچي چې د مور په نس کي دي نارينه وي نو دا کسان به ميراث نسي وړی نو آيا دا کسان ترکه تقسيمولی سي او که به تر وضع د ولده انتظار کوي؟

جواب:......

دا کسان به تر زېږېدلو د حمله انتظار کوي:

"قال فـی الفتاوی الكاملية ان التركة توقف حينئذ و لا تقسم ففی الخانية بما فی الكفوی ما نصه هذا إذا كان الورثة ممن يرثون مع الحمل ان كان ابن فان كانوا لايرثون مع الابن بان مات من اخوة و امرأة حامل يوقف جميع التركة و لا يقسم لأن فی حق الاخوة فی طلب القسمة شكاً فلا يقسم ـ"(فتاوی كاملية / ص: ٢٢٦)

سوال:......

کـه دوو کسـانو سرای تقسیم کړو او هر یوه خپله نصیبه واخیستله خو یوه نفر لره لاره نه وه د وتلو په یوه طریقه نو آیا دا تقسیم صحیح دی او که نه دی صحیح؟

جواب:......

کـه چیري دا سړي بله لاره پرېکولی سي نو دا تقسیم صحیح دی او که بله لاره ممکنه نـه وي نـو اوس کـه دا سړی عالم وو په وخت د تقسیم کي چي زما حصه لار نه لري او ده تقسیم کړی وي نو دی پخپله په راضي وي نو بیا دا تقسیم صحیح دی او که دی خبر نه وي نو دا تقسیم نه صحیح کیږي:

"کما قال صاحب الکاملیة انه ان امکنه ان یفتح باباً آخر جازت القسمة و ان لم یمکنه ان علم وقت القسمة جازت القسمة و ان لم یعلم بذلك لا تجوز القسمة کذا فی البزازیة" (فتاوی کاملیة / ص: ٢٢٦)

سـوال:......

کـه کاریز یا ویاله یا چینه یا کوهی د شریکانو سره ګډ وي او ځیني شریکان وایي چي دا مذکوره شیان بـه تقسیم کـړو پـه دا صورت کي دا تقسیم صحیح دی که نه دی صحیح؟

جواب:......

دا تقسیم صحیح نه دی:

"قال فی الفتاوی عالمگیریة و إذا کان المشترك قناة أو نهراً أو بئراً أو عیناً و لیس معه أرض و طلب الشرکاء القسمة فالقاضی لا یقسم و ان کان مع ذلك أرض لا شرب لها الامن ذلك قسمت الأرض و ترکت النهر و البئر والقناة علی الشرکة لـکل وأحد منهم شربة منها کذا فی المبسوط اه" (فتاویٰ عالمگیریة / ص:

۲۰۹).

سوال:......

که دوه کسان تقسیم وکړي دیوه شریک لرګي یا بانسونه یا تیران د بل پر دېوال باندې پراته وي، د دېوال خاوند وایي چې دا لرګي واخله دا پربل د پورته کېدو حق لري که یې نه لري؟

جواب:......

د دېوال د خاوند حق نسته چې ورته ووايي چې دا لرګي پورته کړه:

"قال في الفتاوى عالمگيرية وإذا وقع الحائط لأحد في القسمة وعليه جذوع الأخر واراد صاحب الحائط أن يرفع الجذوع عن الحائط ليس له ذلك الاأن يكونا شرطا في القسمة رفع الجذوع سواء كان الجذوع لأحدهما على الخصوص قبل القسمة والحائط بينهما اوكان السقف والجذوع والحائط بينهما اوكان السقف والجذوع مع الحائط مشتركاً بينهما ثم صار الحائط لأحدهما بالقسمة والسقف والجذوع للأخر كذا في الذخيرة" (فتاوىٰ عالمگيرية / ص: ۲۱۱)

سوال:......

که د دوو کانو څمکه شریکه وي او تقسیم وکړي په رضامندۍ سره په تقسیم شرعي سره او هر یو تصرف وکړي په خپله حصه کې او اقرار وکړي هر یو له دوی په استیفاء د خپلې حصې سره بیا یو له دې شریکانو دعوه وکړي د ډېرتاوان په قسمت کې او اراده لري د ماتولو د تقسیم نو آیا ده لره دا سته او که نه؟

جواب:......د دغه سړي دعوه نه اورېدل کیږي:

"قال فی الکاملیة ان مثل هذا السوال رفع إلی المحقق الرملی فاجاب عنه بقوله لا تسمع دعواه بعداقراره بالاستفاء لمناقضته کما صرحت به علماؤنا رحمه الله ـ"(فتاوی کاملیة / ص: ۲۲۷)

سوال:......

که ځمکه مشترکه وه په مابین د دوو شریکانو کي چي یو یتیم وي بل وصي د ده، نو آیا وصي له د تقسیم کولو اجازه سته او کنه؟

جواب:......

وصي لره اجازه د تقسیم نسته مګر خو بیا سته که په تقسیم کولو کي نفعه وي د یتیم:

"کما قال فی الکاملیة لیس له القسمة الاان یکون فیه منفعة ظاهرة للصغیر عند ابی حنیفةؒ و عند محمدؒ لا یجوز وان کان فیه منفعة ظاهرة و قسمة تجوز و ان لم یکن للصغیر فیه منفعة ظاهرة" (فتاوی کاملیة / ص: ۲۲۷)

سوال:......

که دوه قسمه جامې یعني کپړې وي یو قسم ښه کپړه وه یو قسم کمزورې وه دا دوو شریکانو دا خبره سره وکړه چي دا ښه کپړه که د هر یره سوه دابل به لس روپۍ ورکوي که داکمزورې جامه د هر چا سوه پنځه روپۍ به ورکوي دا تقسیم جائز دی که نه دی؟

جواب:......

هو دا تقسیم جائز دی:

"قال فی ال فتاویٰ عالمگیریة و لو اقتسما الثیاب علی أن من أصابه هذا ردّ درهما ومن أصابه هذا ردّ درهمین جاز کذا فی محیط السرخسی"(فتاویٰ

عالمگيرية / ص: ۲۱۲)

سوال :......

كتابو نه تقسيم كېدلى سي كه نه سي تقسيم كېدلى؟

جواب :......

كتابو نه نه سي تقسيم كېدلى:

"قال في الفتاوىٰ عالمگيرية لاتقسم الكتب بين الورثة و لكن ينتفع بها كل واحد بالمهاياة و لو أراد أحد من الورثه أن يقسم بالاوراق ليس له ذلك و لا يسمع هذا الكلام منه و لا تقسم بوجه من الوجوه "(فتاوىٰ عالمگيرية / ص: ۲۱٤)

سوال :......

كه دوه شريكان د سراى دروازه وكاږي بيا يې ولگوي بيا تقسيم سره وكړي دا دروازه د چا كيږي؟

جواب :......

دادروازه د يوه هم نه كيږي تر څو چي بيان يې نه وي سره كړې د دواړو سره شريكه ده:

"قال في الفتاوىٰ عالمگيرية و لو كان بين شريكين دار فرفعا بابا منها و وضعاه فيها ثم قسما الدار فالباب الموضوع لا يدخل في القسمة إلا بذكر كما في البيع ـ كذا في الذخيرة "(فتاوىٰ عالمگيرية / ص: ۲۱۸)

سوال :......

حوض يا تالاب تقسيم كېدلى سي كه نه سي تقسيم كېدلى؟

جواب :......

هو ا حوض یا تالاب نه سي تقسیم کېدلی:

"قال فی الفتاویٰ عالمگیریة والحوض لا یقسم سواءً کان عشراً فی عشرٍ أو أقل کذا فی خزانة "(فتاویٰ عالمگیریةص۲۱۸)

سـوال:......

کـه دوه کسـان پسـونـه ولـري، تـقسـیم سره وکړي په قرعـه یعني په هڅکه سره، دا یـوه حـصـه ورغـلـه بیـا دا یـو شریک پښېمانـه سي او دا وایي چي زه رجوع کوم، په دا صورت کي د ده رجوع صحیح ده که نه ده صحیح؟

جواب:......

دا رجوع د ده د خپلي حصې څخه صحیح نه ده:

" قال فی الفتاویٰ عالمگیریة واذا کانت الغنم بین رجلین فقسمها نصفین ثم أقرعا فأصاب هذا طائفة و هذا طائفة ثم ندم أحدهما فاراد الرجوع فلیس له ذلك لأن القسمة قد تمت بخروج السهام وکذلك لو رضیا برجل فقسمها و لم یأل أن یعدل فی ذلك ثم أقرع بینهما فهو جائز علیهما کذا فی المبسوط "
(فتاویٰ عالمگیریة / ص: ۲۱۸)

سـوال:......

کـه یـو څـو کسانو تـه په میراث کي اوښان او غوایان او پسونه پاتـه سوو نو دوی اوښـان جلا و درول او پسـونـه یې جلا و درول بیـا یې هڅکـه پر وکړه او هـڅـکـه یې پـه دې شرط پر وکړه چي که هر یوه شریک ته اوښان په حصه کي ورغله دا شریک به دا نورو شریکانو ته دومره پیسې ورکوي هغه به یې تقسیموي په خپل مابین کي، دا تقسیم صحیح دی که نه دی صحیح؟

جواب:......

دا تقسیم صحیح دی:
"قال فی الفتاویٰ عالمگیریة و ان کان فی المیراث ابل و بقر و غنم فجعلوا الابل قسما و البقر قسما و الغنم قسما ثم تساهموا علیها و أقرعوا علی أن من أصابه الابل ردّ کذا درهما علی صاحبیه نصفین فهو جائز کذا فی المبسوط "(فتاویٰ عالمگیریة / ص: ۲۱۷)

سوال:......

که دوه کسان په یوه سرای کي سره شریک وو او سرای یې سره تقسیم کړو په داسي طریقه چي دریمه د سرای به د دغه شریک وي په ټول حق سره دده او دا بل شریک ته یې دویمه حصه ورکړه د سرای د مخ طرف په ټول حق سره د دا شریک اوس دا شریکان د رجوع حق لري که یې نه لري؟

جواب:......

دا شریکان که د سرای حدود معلوم نه کړي د رجوع حق لري:
"قال فی الفتاوی عالمگیریة و ان کانت الدار بین رجلین فاقتسما علی أن یأخذ أحدهما الثلث من مؤخرها بجمیع حقه و یأخذ الأخر الثلثین من مقدمها بجمیع حقه فلکل وأحد منهما أنّ یرجع عن ذلك ما لم تقع الحدود بینهما و لا یعتبر رضاهما بما قالا قبل وقوع الحدود و انما یعتبر رضاهما بعد وقوع الحدود کذا فی الذخیرة"(فتاویٰ عالمگیریة ص۲۱۸)

سوال:......

پر مړي پور باندي دی بل سړی راغلی د مړي پور یې و قرضداره ته ورکړ، تبرعاً یعني نېکي کوونکي، د مړه سره دا قرضداره دویم واره حق د ماتولو د قسمة نه لري که یې لري؟

جواب :......

دا قرضداره حق دماتوالي د تقسيم د وارثانو نه لري:

"قال في الفتاوىٰ عالمگيرية ولو تبرع انسان بقضاء دين الميت لا يكون للغريم حق نقض القسمة كذا في الدخيرة" (فتاوىٰ عالمگيرية / ص: ۲۲۲)

سـوال :......

كه بعضي وارثان دعوه وكړي د پور وروسته له پوره كېدو د تقسيم، دا دعوه يې صحيح ده كه نه ده صحيح ؟

جواب :......

دا دعوه يې صحيح ده:

"قال في الفتاوىٰ عالمگيرية واذا ادعى بعض الورثا دينا في التركة بعد تمام القسمة صحت دعواه و سمعت بينته و له ان ينقض القسمة كذا في المحيط "(فتاوىٰ عالمگيرية / ص: ۲۲۲)

سوال :......

دوو كسانو تقسيم سره وكړو په حضور د دوو تقسيم والا كي، بيا دغه دوه شريكان په اختلاف كي سوه يو وايي چي زما تقسيم نه دى خوښ، دا بل ورته وايي چي تقسيم صحيح دى، زه شاهدان لرم پر تقسيم د ځمكي باندي، او هغه دوه تقسيم كوونكي شاهدان چي دا شهادت يې قبول دى كه نه دى قبول؟

جواب :......

دا شهادت يې قبول دى:

"قال في الفتاوىٰ عالمگيرية و لو اختلف المتقاسمون فشهد القاسمان قبلت

شهادتهما قال رضی الله تعالی عنه هذا الذی ذکره قول ابی حنیفة و ابی یوسف رحمهما الله تعالی "(فتاویٰ عالمگیریة / ص: ۲۲۷)

سوال:......

که دوه کسان په دوو خونو کي شریک وي او تقسیم غواړي، قاضي لره دا حق سته چي د یوه حصه یوه خونه کښېږدي او د بل دپاره بله خونه کښېږدي؟

جواب:......

هو! قاضي لره دا حق سته:

"قال فی فتاویٰ عالمگیریة و ان کان بین الرجلین بیتان له أن یجمع نصیب أحدهما فی بیت وأحد متصلین کانا أو منفصلین ولو کان بینهما منزلان ان کانا منفصلین فهما کالدارین لایجمع نصیب أحدهما فی منزل وأحد و لکنه یقسم کل منزل قسمة علی حدة ولو کانا متصلین فهما کالبیتین له ای للقاضی أن یجمع نصیب أحدهما فی وأحد و هذا کله قول ابی حنیفةؒ و قال صاحباه الدار والبیت سواء والرأی للقاضی کذا فی قاضیخان"(فتاویٰ عالمگیریة ۲۰۵ / ج: ۵)

سوال:......

یو کوچنی سرای د دوو کسانو سره ګډ دی، که یې دواړه سره جلا کړي د هر یوه په حصه کي ګذاره نه سي کېدلی دا دواړه شریکان قاضي ته وایي چي موږ ته تقسیم را وکړه قاضي حق د تقسیم لري او که یې نلري؟

جواب:......

قاضي د تقسیم حق لري:

"قال فتاویٰ عالمگیریة و ذکر الخصاف دار بین رجلین نصیب کل وأحد لا ینتفع به بعد القسمة و طلب القسمة من القاضی فان القاضی یقسم وان طلب أحدهما القسمة و أبیٰ الأخر لا یقسم لأن الطالب متعنت و ان کان ضرر القسمة علی أحدهما بأن کان نصیب أحدهما أکثر ینتفع به بعد القسمة فطلب صاحب الکثیر القسمة و أبیٰ الأخر فان القاضی یقسم وان طلب صاحب القلیل لا یقسم وحکی الجصاص علی عکس هذا کذا فی فتاوی قاضیخان و الاصح ما ذکر الخصاف کذا فی التبیین "(فتاویٰ عالمگیریة / ص: ۲۰۸ / ج: ۵)

سوال:......

که دوه کسان په یوه کلی. یا کوڅه کي په یوه دوکان کي خرڅول کوي دا یو شریک تقسیم غواړي دا بل شریک منع د تقسیم کوي، قاضي دا تقسیم څنګه کولی سي؟

جواب:......

قاضي لره حق د تقسیم سته که د دوی تاوان نه وو:

"قال عالمگیریة قال محمد رحمة الله تعالی فی الاصل دکان فی السوق بین رجلین یبیعان فیه بیعاً أو یعملان فیه بأیدیهما فأراد أحدهما قسمة و أبیٰ الأخر و صاحب الأرض غائب فان القاضی ینظر فی ذلك ان کان لو قسم أمکن لکل وأحد منها أن یعمل فی نصیبه العمل الذی کان یعمله قبل القسمة قسم و ان کان لا یمکنه ذلك لا یقسم کذا فی المحیط " فتاویٰ عالمگیریة / ص: ۲۰۸ ج۵)

سـوال:......

که یو سړی غنم و کري دبل په ځمکه کي غنم ورسیږي دا سړی مړ سي

وارثان تقسيم غواړي دا تقسيم صحيح دى كه نه دى صحيح؟

جواب:......

دا تقسيم د مخه تر بوكولو يعني تر رېبلو نه دى صحيح

"قال عالمگيرية و إذا كان الزرع بين ورثة فى أرض يغيرهم فارادوا قسمة الزرع فان كان قد أدرك لم أقسمه بينهم حتى يحصد لا بالتراضى و لا بغير التراضى لأن الحنطة مال الربا فلا تجوز قسمة مجازفة إلا بالكيل و لا تمكن قسمة بالكيل قبل الحصاد و ان كان بقلا لم أقسمه إلا أن يشترطوا فى البقل أنه يجد كل وأحد منهم ما اصابه فاذا اقتسموه على هذا بتراضيهم أجزته كذا فى المبسوط"(فتاوىٰ عالمگيرية / ص: ۲۰۸ ج۵)

☆☆☆

باب فيما يتعلق بالاطيان الاميرية، من التصرفات و احكامها قبل صدور الاوامر والموانع المصرية:

باب فيما يتعلق بالاطيان الاميرية، من التصرفات و احكامها قبل صدور الاوامر والموانع المصرية:

﴿سرکاري مځکي﴾

سـوال:......

يو سړي د دې لپاره اطيان يعني ځمکه ده او ددې سړي لپاره زامن او لوڼې دي نو دغه پلار دغه ځمکه دوې حصې کړه يوه حصه د زامنو لپاره او يوه حصه د لوڼو لپاره، زامنو دغه خپله حصه وکرله او لوڼو هم خپله حصه په واسطه د وکالت د خپل ورور چې د مور يې دی وکرله او هميشه والی وکړ په دې سره څو کاله بيا مړ سو هغه سړی چې معطی وو او استمرار يې وکړ په هغه طريقه دېرش کاله نو اوس نزاع وکړه هغه نرو د ښځو سره په اطيان او نرو وويل چې داخو ترکه ده دا خاص تر نرو پورې ده نو اوس و ښځو ته ئی نه ورکوي دغه لوڼو خو د پلار څخه په طريقه د اعطا په حال حيات او د صحت، او بيا کرلې ده ډېره زمانه په حال د حيات د پلار کې او پس له موته په واسطه د خپل ورور چې د مور يې ده او د هغه څخه بعد بيا د هغه د زوی په واسطه؟

جواب :.......

نسته د ذکور لپاره معارضه د بناتو په هغه شي کي چي ثابت سوی اسقاط داب د دوی لپاره د اطیان طائعا او مختارا اوینبي دي لاسونه په هغه باندي په حال د حیات کي کما هو مذکور . و الله اعلم (فتاوی مهدية / ص: ٣٢/ ج: ٢)

سوال :.......

یو سړی مړ سو او د ده لپاره اولاد خپلي ملا څخه ذکور او اناث او د اولاد اولاد هم سته نو ولي شی نسته د اولاد اولاد لپاره په وخت د وجود د اولاد کي او کله چي مړ سي رجل مذکور د دغه سرکاري مځکي څخه چي خالي وي له درختو او د بناء څخه نو نه کیږي د اناثو لپاره حق په دغه اطیان او کیږي حق داولاد الذکور خاص معنی په خوشي کا به مځکي تقسیم چي بابا یې نه وي دنرو پر سر تقسیم؟

جواب :.......

نه جاري کیږي توارث په أرض الامیریة کي اوډیر حق دار په دې ځمکه کې پس له مرګه مال د منفعت د دې ځمکي اولاد الذکور دی چي هغه قادر دي په زراعت یې او په دفع د مؤن د دې ځمکي دپاره د بیت المال او هغه شی چي پاته سوی د میت څخه چي په هغه کي توارث جاري کیږي هغه دي تقسیم کړي په مابین د ورثه کي په طریقه د فریضه سره او شی نسته دپاره د اولاد اولاد په طریقه د میراث . والله اعلم . فتاویٰ مهدیه ج٧ص٣٢ .

سوال :.......

یو سړی وو یو جریب ځمکه یې درلوده د پلار او نبیکه څخه بیا یې ساقط کړی خپل حق و بل چاته په اختیار سره شل کاله په مقابل د ......١ کلدارو کي

او هغه بل سړي قبض کړه او انتقال يې هم ورکړی چې د قاضي دستخط هم پر وو او هغه کړلې هم وه درختي يې کې ايښي وې، وروسته بيا اصلي مالک دعوه وکړه دا ځمکه يې زما څخه په زوروراکي راښيولې ده او شاهدان هم نلري، آيا دغه قول يې صحيح دی که نه؟

جواب: ......

"اذا لم يثبت الاكراه الشرعى على الاسقاط المذكور لا يكن للمسقط معارضته المسقط له والحال هذا" يعني خبره يې نه ده قبوله: (مهدية / ص: ۳۲/ ج: ۲)

سـوال: ......

يو سړی وو د هغه سره سرکاري ځمکه وه ډېره زمانه خاصتًا د ده دپاره په اجازه د حاکم بيا دا سړی مړ سو اولاد يې پاته سو او ورونه يې پاته سو، آيا دغه د مړي ورونه د مړي د زامنو سره حق لري که نه؟ چې په دا سرکاري ځمکه خو مورږ هم شريک يو او دا ځمکه خاصتًا د مړي وه او د ده په لاس کې .ه، اوس ورونه حق لري که نه؟

جواب: ......**"لا حق للاخوة فى الاطيان المذكورة والحال هذا"** يعنې څوئی نه ده قبوله فتاوىٰ مهديه ج ۲ص۳۳۔

سـوال: ......

دوه ورونه وو په يوه يوه ئی گذاره سره کوله يوه تو ته ځمکه يې، او يوه له دوی څخه يوه قطعه ځمکه وه هغه يې دا بل ورور ته ورکړه او هغه تصرف پکښي کاوه، ۲۲ کاله په کښت کرلو سره لس کاله د ورور په ژوند او ديارلس کاله د ورور تر مرګه وروسته او د دغه سړي زوی هم وو او د اکا تصرف يې ليدی د پلار په ژوند، اوس يې زوی دعوه کوي، آيا کولای سي

که نه؟
جواب :......
"اذا ثبت اسقاط الاخ حقه لاخیه فی الایطان الامیریة و ترکه لها اختیاراً لا یکون لابنه انتزاعها من ید مسقط له و یمنع من معأرضة عمه"
معنی حق نه لري چي طلب و کړي د مځکي . (مهدیة ص ۳۴/ ج: ۲)
سـوال :......
یـو سړي خپـل حق دمنفعت د مځکي و بل چا ته ور کړی چي دا ځمکه کره، فـایـده یـې ستـا ده او یو شرعي‌قواله یې هم ورکړه او شاهدان هم وه . ۲۵ کاله بـعـد د هغـه سړي ځـځـه قـوالـه ورکـه شوه او دا بل سړي دعوه وکړه چي دا د مـځـکـې مفاد تا ته نه دي درکړي که وي خط ښکاره کړه او هغه بل شاهدان تېر کړه ځمکه د چا ده؟
جواب :......
"اذا تحقق الاسقاط والترك اختیاراً بالبینة العادلة لا یکون للمسقط انتزاع الأرض التی اسقط حقه فیها من المسقط له ولا یتوقف ذلك علی وجود الصك"
یعني قباله یعني شاهدان کافي دي ضرورت و قبالې اویا انتقال ته نسته
سـوال :......
یو سړي د خپل پلار نیم سرای واخیستی او بیا یې وروسته دا نور نیمی هم واخیستـی او یو ځه کار پلار پکښې کړی وو نور بیا د هغه کار یو ځه روپۍ ور ځـځـه واخیستې یو ځه یې پر ښـودی او سرای یې تسلیم کړی، وثیقه یې ور ځـځـه واخیستـه او تـصـرف یې کي کاوئ پلار مړ سو دا نورو ورونو ورته ویل چي موږ هم حق لرو په دې سرای کي د میراث په وجه یې را تقسیم کړه .

جواب:.......

"اذا ثبت البيع والاسقاط لايكون لوارث البائع والمسقط منازعة المشترى و يمنع من ذلك شرعاً"

معنى د نورو ورونيو دعوه بې فائدې ده.

سوال:.......

دوو ورونيو سركاري ځمکه درلوده دا يوه د حکومت ټيکس نه سو و رکولى او كرلى يې نه سوى، له وجهي د عجز هغه بل ورور يې كرله او پالل يې ٣٥ كاله. او سركاري خراج يې هم وركاوه او هغه بل ورور يې په خبر وو چي دى ځمكه كري او منفعت پر اخلي اوطلب د حق يې هم نه كاوه په دا ځمكه كي دغه مذكوره مدت آيا بيا تر دغه مودې وروسته دعوه كوى سي كه نه؟ وايي دا زموږ د پلار ځمكه ده زه حق لرم او دومره موده يې په اختيار پرېيښې وه خو دا يې نه وو ورته ويلي چي دا ځمكه ستا ده.

جواب:.......

"حق المزارع فى الاراضى الاميرية يسقط بالترك والاعراض اختياراً لغيره فاذا تحقق الاعراض والترك اختياراً من الاخ المذكور لاخيه لا يكون له معارضة اخيه فى ذلك ـ والله اعلم (مهدية / ص: ٣٦ / ج: ٢)"

سوال:.......

يو سړي ځمكه ٢٠ كاله كرله يعني سركاري ځمكه بيا يو چا دعوه په وكړه او تصرفات يې هم كړي وو باغ يې كي جوړ كړى وو اويو بل چا دعوه وكړه پس له ٢٠ كالو چي په دې ځمكه كي د زوى ميراثي حق دى سره د مدې مذكوري او تصرف؟

جواب :......

"لا یجری التوارث فی الاراضی الامیریة و یسقط الحق بالترک اختیاراً "(مهدیة / ص: ۳٦ / ج: ۲)

سـوال :......

دوه ورونـه دي يـو لـوى دى بـل كـوچـنـى دى د پـلار ځـمكـه يې پـاتـه سوه مشـر تصرف كاوى او مفاديې په كور خرڅوى او كور يې په ساتى بيا چي دا بـل لـوى سو هغه اراده د وېش وكړه خو مشر ورور ورته وويل چي ځمكه ما ګـرو كـړې ده او روپـى مـي په مشترک كور كي خرڅي كړي دي چي ته هم پكښې يې نو په ځمكه كي ته حق نه لرې او شاهدان شرعي هم نه لرې؟

جواب :...... "رهن الاطیان الامیریة غیر صحیح و ما لزم لأخ الکبیر من الدیون لا مطالبة بها علی اخیه بدون ما یوجب ذلك علیه"

سوال :......

د يـو سـړي پـه لاس كي يوه ټوټه ځمكه ده د كښت، د پلار څخه، ۴۰ كاله او يا زيات پـلار ور پرېښې وه يو مناز ع هم نه وو .نه د پلار له طرفه نه د بل چا، اوس يـو لـه قريبانو را ولاړ سو دعوه يې وكړه د نيمي مځكي او مالک منكر سو آيا دادعوه صحيح ده كه نه؟

جواب :......

"نعم لایجاب لانتزاع الأرض المذکورة ممن هی تحت یده لمجرد دعواه"

سـوال :......

يو سړى پر سر كاري ځمكه قابض دى په زراعت سلطانى معنى په امر د باچا يـا يو بل ولي الامر سره ، دا سړى دا ځمكه كري بيا دا سړى مړ سو يو زوى او

لوني يې پاته سوې اوس لوني حق غواړي د پلار د ميراث ؟

جواب :......

”لا يجر التوارث في الأرض الزراعة الاميرية فليس لبنت المتوفى عنها رفع يد الممكن من قبل ولي الامر او نائبه و تمنع من معأرفتح“(مهدية / ص: ۳۹ / ج: ۲)

يوه فائده: عـامه سر كاري مځكي د هغه چا دي چي آبادي يې كړي او ملک ته يې فائده ورسيږي او يا كښت پر كوي آبادوي يې، نو ځكه د ښځو حق په كي نشته او نه ميراث ورلى سي ولي دوى يې نسي آبادولاى .

☆ ☆ ☆

﴿کتاب الشرب﴾

سـوال:......

کـه یـو سـړي ځـمکه واخیسته او ذکر داوبو یې ونه کړو او نه یې د بهېدلو د اوبـو ځـای ذکـر کړی لکه لښتي، ویاله نو اوبه په بیع کې داخلیږي او که نه داخلیږي؟

جواب:...... اوبه او ویاله په بیع د ځمکې کې نه داخلیږي:

"قال فی الفتاوی عالمگیریة و إذا اشتر أرضا و لم یذکر الشرب و لا مسیل الماء لم یدخلا فی البیع"(فتاویٰ عالمگیریة / ص: ۳۹۳)

سـوال:......

که ځمکه یې واخیستله او اوبه یې ذکر کړې او بیاله یې نه کړه ذکر نو ویاله داخلیږي که نه داخلیږي؟

جواب:......

اوبه په بیع کې داخلیږي او ویاله نه داخلیږي .

"کـما قـال فـی الـعالمگیریة وان ذکر الشرب و لم یذکرالمسیل دخل الشرب فی البیع و لم یدخل المسیل" (فتاویٰ عالمگیریة / ص: ۳۹۳)

سوال:......

کـه یـو سړی ځمکه واخلي سره له ټول حقه ددې ځمکې او ویاله داخلیږي او که نه؟

جواب:......

داخلیږي:

"قال فی ال فتاویٰ عالمگیریة و لو اشتراها بکل حق هو لها کان له الشرب و مسیل الماء جمیع و کذا لو اشترا بمرافقها کذا فی المحیط "(فتاویٰ عالمگیریة / ص: ۳۹۳)

سوال:......

کـه یـوه سړی و بل سړي ته ووایي چي یوه ورځ ته او بېدل کوه ستا له بیالې مالره او بله ورځ به زه او بېدل کومه تا لره زما له بیالې دا جائز دی که نه؟

جواب:...... دا نه دی جائز :

"قال فـی الـفتـاویٰ عـالمگیریة ولو قال لرجل اسقنی یوماً من نهرك علی ان اسقیك یـومـاً مـن نهری لـم یـجـز و کذا لو جعله مقابلا بثوب و لو اخذ الثوب او العبد ردّه ولا شیئ علیه بما انقض کذا فی السراجیة "(فتاویٰ عالمگیریة / ص: ۳۹۳)

سوال:......

که یو سړی و بل سړي ته ووایي چي ته ما او به کړه یوه ورځ په بدل کي د دې بـه زمـا مـرییـی سـتـا یوه میاشت خدمت وکړي یا به ته زما پر اوبن یا غوایي یوه میاشت سپور سې او دا جائز دی او که نه؟

جواب:......

دا باطل دی:

"قال فـی الـفتاویٰ عالمگیریة و إذا قال اسقنی یوما بخدمة عبدی هذا شهراً او قـال برکوب دابتی هذه شهراً او قال کذا و کذا یوماً فهذه کله باطل کذا فی الذخیرة"(فتاویٰ عالمگیریة / ص: ۳۹۳)

سوال:......

که د يو قوم وياله وه او د بل سړي ځمکه د وياله پر څنګ وي او ددغه سړي د چينلو دپاره نوري اوبه نه وي بې له دغه وياله ځخه، دا سړی د چينلو د اوبو حق لري که يې نه لري؟

جواب:......

هو! لري يې:

"قال في الفتاویٰ عالمگيرية نهرٌ لقوم و لرجل أرض بجنبه ليس له شرب من هذا النهر كان لصاحب الأرض أن يشرب و يتوضأ و يسقى دوابة من هذا النهر و ليس له أن يسقى منه أرضا او شجراً او زرعا "(فتاویٰ عالمگيرية / ص: ۳۹۱)

سوال:......

که يو سړي اور بل کړ په خپله ځمکه کي په داسي حالت کي چي هوا چليږي او دا معلوميږي چي دا هوا اور وړي و مځکي د بل چا ته نو په دې صورت کي که دا اور تاوان د بل ملکيت ته ورسوي نو آيا دا سړی ضامن دی که نه دی ضامن؟

جواب:......

دا سړی ضامن دی:

" قال في الفتاویٰ عالمگيرية فان يكون ضامناً بمنزلة ما لو اوقد النار في ملك غيره ألا ترى ان من صب في ميزابه مائعاً و هو يعلم أن تحت الميزاب انساناً جالساً فافسد ذلك المائع ثيابه كان الذى صبه ضامناً و ان كان صبه في ملك نفسه كذا في المبسوط "(فتاویٰ عالمگيرية / ص: ۳۹۸)

سوال:......

که يې خرخي کړې او به پر مرييي يا پر مينځه بيا يې ازاد کړ مرييی، دا

از ادول د مرېيي صحيح دي كه نه؟

جواب :......

دا از ادول صحيح دي د مرېيي د قيمت ضامن دى:

"قال عالمگيرية ولو باع الشرب بعبد او أجره و قبض العبد و اعتقه جاز عتقه و ضمن قيمة العبد و كذلك لو كانت أمةً فعلقت منه فهي أم ولد له و عليه قيمتها و عقرها و في رواية البيوع لا عقر و هو الصحيح كذا في محيط السرخسي "(فتاوىٰ عالمگيرية / ص: ٩٤ / ج: ٥)

سوال :......

كه يو سړى ځمكه خرڅه كړه په دا شرط چي اوبه د بلي ځمكي دركوم دا بيع صحيح ده كه باطل ده؟

جواب :......

دا بيع صحيح نه ده:

" قال في الفتاوىٰ عالمگيرية ولو باع الأرض بشرب أرض أخرى اختلف فيه المشايخ كذا في فتاوى قاضيخان و الصحيح أنه لا يجوز كذا في التتارخانية "(فتاوىٰ عالمگيرية / ص: ٣٩٣)

سوال :......

كه يو سړى په خپله ځمكه كي اور بل كړي او وچ و ابنه اور و اخلي يو طرف او بل طرفته اور تجاوز وكړي د بل شريک تاوان وسي دا سړى ضامن دى كه نه دى ضامن ؟

جواب :......

دا سړى يې ضامن نه دى:

"قال فی الفتاویٰ عالمگیریة و لو أحرق كلأ أو حصائد فی أرضه فذهبت النار يمينا و شمالا و أحرقت شيئا لغيره لم يضمنه لأنه غير متعدٍ فی هذا التسبيب فان له أن يوقد النار فی ملك نفسه مطلقا و تصرف المالك فی ملكه لا يتقيد بشرط السلامة" (فتاویٰ عالمگيرية / ص: ٣٩٨)

سوال :......

كه يو سړي اوبه سره له بيالې خرڅې كړې او ځمكه يې نه كړه خرڅه او په دغه كلي كي خراج وي پر اوبو باندي او خرڅيږي اوبه سره له بيالې نو دا بيع جائز ده او كه نه؟

جواب :......

دا بيع جائز ده خو پر مشتري خراج نسته . فتاویٰ عالمگيرية .

"كما قال باع ماء له بجاريه بغير أرض و فی تلك القرية الخراج علی الماء و تباع المياه بجاريها فالبيع جائز و لا خراج علی المشتری "(فتاویٰ عالمگيرية / ص: ٣٩٣)

سوال :......

كه چيري شرط كی خراج پر مشتري باندي په عقر د بيع كي په دغه صورت كي چي اوبه سره له بيالې خرڅې كړي وي نو آيا پر مشتري باندي خراج راځي او كه نه؟

جواب :......

چي په دې صورت كي بيع فاسد سي :

"كما قال فی العالمگيرية و لو شرطا الخراج علی المشتری فی عقر البيع ينبغی ان يفسد البيع و ان لم يشترط فالخراج علی الباعء علی حاله ولا معتبر

بـالـعرف فـى الـخـراج لأن ذلك حـكـم مـن الإمـام فـلا يمكن نقضه بالعرف ـ"(فتاویٰ عالمگیریة / ص: ٣٩٣)

سوال:......

کـه يـوه سړي ځـمـکـه پـه اجاره واخيستـه او او به يې ذکر نه کړې نو اوبه په اجاره کي داخليږي که نه؟

جواب:......

هو! داخليږي:

"قال فـى الـفتاوىٰ عـالـمـگيرية و إذا استأجـرا أرضاً ولم يذكر شربها دخل الشرب فى الاجارة استحسانا"(فتاویٰ عالمگیریة / ص: ٣٩٣)

سـوال:......

کـه ديوه سړي ځمکه د نورو خلګو د ولې سره نژدې وه دی له دغه ولې څخه اوبـه را پورته کوي، دا خلګو لره داحق سته چي دغه سړی د مځکي د اوبو څخه بند کړي؟

جواب:......

هو! دا خلګو لره دا حق سته چي دا سړی بند کړي:

"قال فـى الـفتاوىٰ عـالـمـگيرية و ان اراد صاحب الأرض ان يرفع الماء منه بـالـقرب و الأوانـى و يسقى زرعه او شجره اختلف المشايخ والاصح انه ليس له ذلك و لأهـل الـنهر ان يـمـنعـوه كذا فى الفتاوى قاضيخان وا لو جيز "(فتاویٰ عالمگیریة / ص: ٣٩١)

سوال:......

يـو نهـر د څو کسانو سره شريک وو بل سړی د نهر په څنګ کي ځمکه لري دا

سرى د اوبو چيښلو حق لري كه يې نه لري؟

جواب :......

هو ! دا سرى د چيښلو حق لري:

"قال فى الفتاوىٰ عالمگيرية كان لصاحب الأرض ان يشرب و يتوضأ و يسقى دوابه من هذا النهر و ليس له ان يسقى منه أرضا او شجراً او زرعاً و لا ان ينصب دولاً باعلى هذا النهر لأرضه" (فتاوىٰ عالمگيرية / ص: ٣٩١)

سوال :......

يو نهر دى د خلكو په ځمكه كي روان دى دانهر مات سو دا اوبه د خلكو مځكي خرابي كړې اوس د نهر خاوند د خلكو د تاوان ضامن دى كه نه دى؟

جواب :......

د نهر مالكان ضامن د خلكو د مځكي د خرابېدو نه دي:

"قال فى الفتاوىٰ عالمگيرية و فى النوازل نهر يجرى فى أرض قوم فانشق النهر و خرب بعض أرض قوم لأصحاب الأرضين أن يأخذا أصحاب النهر بعمارة النهر دون عمارة الأرض كذا فى الخلاصة"(فتاوىٰ عالمگيرية / ص: ٣٩٨)

سوال :......

يوه بيالـه ده په كوڅه كي د خلكو دا بياله په كال كي دوه واره صفا كيږي، د صفا كېدو په وخت كي چي دا خاوره يا ختـه جمع سي په دا كوڅه كي د كوڅې والا د بندېدو د خاوري يا د ختې حق لري كه يې نه لري؟

جواب :......

د كوڅې خاوندان د بندېدو د ختې حق نه لري كه د بيالې حريم وو:

"قال فى الفتاوىٰ عالمگيرية فإن كان التراب على حريم النهر ليس لأهل

السكة أن يكلفوا أرباب النهر نقل التراب و ان كان التراب جاوز حريم النهر فلهم ذلك"(فتاویٰ عالمگیریة / ص: ٤٠٠)

سـوال :......

یـوه ویاله ده دیو څو شریکانو په ګډه د، یوه سړي په څمکه کي کار کوي ئی یعـني کـډی کـوي ئـی، خاوري یې غورځوي یو طرف بل طرفته دا سړی دا حق لري چي دا خاروه بند کړي که یې نه لري؟

جواب :......

که خاوره په حريم کي د بیالې وي حق نه لري:

"قـال فـی ال فتاویٰ عـالمگيرية نهر لقوم يجری فی أرض رجل حفر والنهر و ألقـوا التراب فی أرضه ان كان التراب فی حريم النهر لم يكن لصاحب الأرض ان يأخذ أصحاب النهر بنقل التراب"(فتاویٰ عالمگيرية / ص: ٤٠٠)

سوال :......

د یـوه سـړي د کـوز لـه څـنـګـه څا ده دا څـاه له اوبو ډک سو د باران او خاوند د سرای لره دا او به ضرر دي دی حق د څا ډکېدو لري که یې نه لري؟

جواب :......

که څا اول وو یعني قدیم وو حق د ډکېدو نه لري:

"قال رضی الله تعالی عنه ينبغی ان يكون الجواب علی التفصيل ان ان البئر بئرا قـديمـا لـم يكن لـه ذلك و ان كـان محدثا كـان لـه ذلك "(فتاویٰ عالمگيرية / ص: ٤٠٠)

سوال :......

کـه د یـو سـړي څـا د بل په سرای کي وي نو خاوند د څا لره غور ځېدل د ختو د

ځا په سراى کي د دا بل سړي حق لري که يې نه لري'

جواب :......

حق د غور ځېدلو د ختمو په سراى کي د بل چا نه لري:

"قال في الفتاوىٰ عالمگيرية بئر لرجل في دار غيره لم يكن لصاحب البئر حق القاء الطين في داره إذا حفر البئر كذا في الفتاوى قاضيخان "(فتاوىٰ عالمگيرية / ص: ٤٠٠)

سوال :......

يو سړي بيـالـه خرابه کړه په دا بيالـه کي په دغه حالت او به نه بهېدې بيا او به راغـلـې لـه ځـاى د خـرابېدلو د بيـالـې په ځمکه د بل چا کي و بهېدې او د دغه سـړي ځمکه يې خرابه کړ يا يې کښت خراب کړو په دا صورت کی دا سړى د خرابېدو د مځکي ضامن دى که نه دى؟

جواب:......

که او به پخپله بهېدلې وې د ده په خرابېدو سره دا سړى ضامن دى:

"قال في الذخيرة ينظر ان جرىٰ الماء بنفسه يضمن المخرب إذا كان النهر للعامة لأنه مسبب متعد و ان "(فتاوىٰ عالمگيرية / ص: ٤٠٠)

سوال :......

کـه يـو سړي اراده د اوبېدو د کښت وکړه له ځاى د اوبو د بيالې څخه بل سړي دى مـنـع کړ، تر دې حده پوري چي کښت يې خراب سو، په دا صورت کي دا منع کوونکی سړى ضامن دى که نه دى د کښت د خرابېدو ؟

جواب :......

دا سړى ضامن نه دى:

”قال فی الوجیز اراد سقی أرضه او زرعه من مجری مائه فمنع الرجل حتی ضاع الزرع لا یضمن المانع کما لو منع الراعی حتی هلك المواشی“(فتاویٰ عالمگیریة / ص: ٤٠١)

سوال:......

یوه عـامـه بیـالـه ده د ټـولـو خـلـکو دپـاره یوه سړي اراده وکړه چي درختي ولګوي دپاره د فایدې د خلکو، دا سړی د لګېدوحق لري که نه؟

جواب:......

هو! جواز لري:

”قال فی الفتاویٰ عالمگیریة وعن شدّاد فی النهر العام إذا أراد الرجل أن یغرس لمنفعة المسلمین له ذلك کذا فی المحیط“(فتاویٰ عالمگیریة / ص: ٤٠١)

سوال:......

که یوه بیـاله خرابه سي او احتیاج پیدا کړي و کېږي کولو لره په ځمکه د بل چا کـي، دپـاره د دې چـي دا بیـالـه جـوړه کـړي، دا خـلـک به مجبوره کیږي پر اخیستلو د دې ځکي که نه؟

جواب:......

دا خلک نسي مجبوره کېدی:

”قال فی عـالـمگیریة ولـو خرب النهر فاحتاجوا إلی الحفر فی أرض رجل لیصلحوا نهرهم لم یجبر علی بیعه بکل حال “(فتاویٰ عالمگیریة / ص: ٤٠١)

سوال:......

کـه دیـو سـړي په ځمکه کي بیاله تېره سوي وي دیو قوم دپاره دا سړي لره دا

حق سته چي خپله ځمکه په اوبه کړي که حق نه لري؟

جواب:......

دا سړی حق لري که دا قوم ته تاوان نه رسېدی:

"قال في المحيط و إذا كان في أرض رجل نهر لقوم فله أن يسقى منه أرضه ان لمْ يضر بأصحاب النهر و لهم أن يمنعوه و ان كان بطنه و حافتاه له فله ذلك و ان أضر "(فتاویٰ عالمگیریة / ص: ٤٠١)

سوال:......

يـوه بيالـه ده د قوم د اوبېدو دپاره په يوه باغ کي د يو سړي، خاوند د باغ لره دا حق سته چي د دې بيالې پر غاړه درختي ولګوي که حق نلري؟

جواب:......

داسړی دا حق لري چي درختي ولګوي که دې بيالې ته تاوان نه رسېدی:

"قال في خزانة المفتين نهر ساقية لقوم في بستان رجل فلصاحب البستان أن يغرس على حافتيه و إذا ضاق نهرهم بسببها فحينئذ يؤمرُ بقلعها إلا أن يوسع النهر من الطرف الآخر بقدر ما كان على وجه لا يتفاوت في حق أصحاب النهر"(فتاویٰ عالمگیریة / ص: ٤٠١)

سوال:......

بيـالـه ده د يو سړي په ځمکه کي د بل سړي، دې سړي دعوه وکړه د چيبنلو د اوبو په بياله کي د يوې ورځي په هره مياست کي او شاهدان يې ودرول پر دا خبره باندي د دې سړي دعوه منل کيږي که نه؟

جواب:......

منل کيږي دعوه د ده:

” قال في الفتاوى قاضيخان نهر لرجل في أرض رجل فادعى رجل شرب يوم من النهر في كل الشهر و اقام البينة على ذلك فانه يقضى به و كذلك مسيل الماء “(فتاوىٰ عالمگيرية / ص: ٤٠٣)

سوال :......

كه يو نهر مات سي لو لوبه يې بهېږي و بلې خواته له دغه لوبو څخه خلک تنکسو داخلک حق لري چي د نهر خاوند امر كړي پر جوړولو د نهر، كه حق نلري؟

جواب :......

د جوړولو د نهر حق لري:

”قال في عالمگيرية لو انشق ضفة النهر و يسيل الماء عنه فيتضرر الناس به فأصحاب النهر يؤمرون باصلاحه كذا في خزانة المفتين “(فتاوىٰ عالمگيرية / ص: ٤٠٠)

سوال :......

كه يو نهر د كوڅې په څنګ كي روان وي يو سړى دا غواړي چي خپل باغ په اوبه كړي، دا مالكان د نهر دا حق لري چي دا سړى بند كړي كه دا حق نلري؟

جواب :......

د بندولو د بيالې حق لري:

”قال في الفتاوى ابي الليث نهر في سكة غير نافذة ادر ارجل من اهل سكة ان يدخل الماء في داره و يجرى إلى بستان فللجيران أن يمنعوه و له أيضاً أن يمنع الجيران من مثل ذلك“(فتاوىٰ عالمگيرية / ص: ٤٠١)

سوال :......

كه شاهدي ادا كړه يوه سړي چي دا سړي دا ځمكه اخيستې ده په ۱۰۰۰ زر روپۍ دويم سړي شاهدي ادا كړه چي دا سړي دا ځمكه اخيستې ده په ټول حق سره د

مځکي چي د مځکي کم حق دی دا شاهدي صحیح ده او که نه؟
جواب :......
دا شاهدي صحیح ده :
"قال فی الفتاویٰ عالمگیریة ولو شهدا أحد الشاهدین انه اشتریٰ هذه الارض بالف والاخر أنه اشتری الأرض بکل حق هو لها بالف جاز لأنهما اتفقا علی شراء الأرض والشرب هکذا فی المحیط السرخسی "(فتاویٰ عالمگیریة / ص: ٤٠٤)
سوال :......
که یو شاهد دا ګواهي ورکړي چي دا ځمکه دې سړي اخیستې ده په ۱۰۰۰ زر روپۍ بل شاهد دا ګواهي ورکړي چي دې سړي دا ځمکه اخیستې ده سره له اوبو ، دا ګواهي صحیح ده که نه ده صحیح؟
جواب :......
دا ګواهي یا شهادت صحیح نه دی :
"قال فی الفتاویٰ عالمگیریة ولو شهد أحد الشاهدین انه اشتری هذه الأرض بالف و الاخر شهد انه اشتری الأرض والشرب بالف لم یجز"(فتاویٰ عالمگیریة / ص: ٤٠٤)
سوال :......
که دیو سړي دوه ځایه ځمکه وه د نهر په سر او په پای کي او دا سړي دعوه وکړه چي دغه دواړي مځکي اوبه په دا نهر کي لري او شریکان یې منکر سو چي دواړي مځکي په دا نهر کي حق نه لري قول د چا معتبر دی؟
جواب :......

قول دمالک د مځکي معتبر دی که یې دا ځمکه په بل نهر نه اوبوله:

"قال عالمگيرية رجل له أرضان على نهر أحداهما فى اعلى والاخرى فى أسفل فادعىٰ أن شربهما من هذا النهر و أنكر الشركاء شرب أحداهما بعينها ان لم يكن يسقى تلك الأرض من نهر آخر فالقول لصاحب الأرض "(فتاویٰ عالمگيرية / ص: ٤٠٤)

سوال:......

یوه بیاله ده د ډېرو کسانو شریکه ده دا شریکان یو بل سړي ته د اوبهدو د مځکي اجازه ورکړي په دا شریکانو کي یو شریک و دغه سړي ته د اوبهدو د مځکي اجازه نه ورکوي دا نور شریکان دا حق لري چي بغیر د شریک د اجازې اوبه ورکړي که یې نه لري؟

جواب:......

دا شریکان بغیر د اجازې د شریکه حق نلري چي اوبه ورکړي:

"قال هشام قلت لا بى يوسفؒ فى النهر بين قوم فاذنوا كلهم رجلا ليسقى الماء إلا رجلا منهم لم يأذن له أوفىٰ أصحاب النهر صبى قال لا يسّعه يعنى لا يجوز ان يسقى حتى يأذن كلهم جميعا كذا فى التتارخانية "(فتاویٰ عالمگيرية / ص: ٤٠٦)

سوال:......

یو لوی نهر دی له دا نهر څخه یو سړي خپل ځان ته کوچنی نهر جوړ کړی دی ددغه کوچني نهر پل ونړېدو یا داکوچنۍ ویاله خرابه سی اوس دا بیاله په سمیټ جوړوي ددغي مزدوري حق د لوی نهر پر شریکانو لري که یې نلري؟

جواب :......

حق د مزدوري نه لريِ د لوی نهر خلک:

"قال عالمگیریة نهر کبیر ینشعب منه نهر صغیر فخربت فوهة النهر الصغیر فأرادوا اصلاحها بالأجر والجص فالاصلاح علی صاحب النهر الصغیر کذا فی خزانة المفتین "(فتاویٰ عالمگیریة / ص: ٤٠٧)

سـوال :......

د یـوه سړي دېوال دی پر بل سړي یې نیمی خر ځ کړی دا مشتري دا حق لري چي پر عام نهر بانديِ د خلاصېدو د تېرېدو ځای جوړ کړي که یې نه لري؟

جواب :......

هو ، لري یې ، که عام نهر نه خرابیږي:

"قال عالمگیریة حائط لرجل باع نصفه فأراد المشتری ان یتخذ لنصفه فی النهر العام مفتحا کان له ذلك إذا فعل ذلك فی ملکه و لا یضر بالعامة و ان أضر بأن ینکسر النهر لیس له ذلك کذا فی الفتاوی قاضیخان"(فتاویٰ عالمگیریة / ص: ٤٠٧)

سوال :......

کـه یـو سـړی وصیت وکړي چي زما د نهر د اوبو چي کوم حق جوړیږي هغه دي زما د مرګه وروسته مسکینانو ته ورکړئ دا وصیت صحیح دی که باطل؟

جواب :......

دا وصیت باطل دی:

"قال فی الفتاویٰ عالمگیریة و لو أوصیٰ أن یتصدق بشربه علی المساکین فهذا باطل لأن حاجة المساکین إلی الطعام دون الماء و انما یحتاج إلی الشرب من له أرض ولیس للمساکین ذلك و لا بد للشرب حتی یصرف بدله إلی

المساكين لأنه لا يحتمل البيع و الايجارة فكان باطل و لو اوصى بأن يسقى مسكيناً بعينه في حياته فذلك جائزٌ فيه باعتباره عينه كذا في المبسوط"(فتاویٰ عالمگیریۃ / ص: ٤٠٧)



«كتاب المزارعة»

د مزارعت احکام :

مزارعت پر دوه قسمه دی يو قسمدا دی چې ځمکه ديوه سړي وي دوهم قسم چې ځمکه د دوارو وي که چيري ځمکه ديوه وي دا پر دوه قسمه دی:

(۱) قسم دا دی چې تخم ديوه وي .

(۲) قسم دا دی چې تخم د دوارو وي، که چيري ځمکه ديوه وي او تخم د بل وي دا پر (٦)شپږ قسمه دی (۳) درې قسمه جائز دي(۳) درې قسمه فاسد دي .

هغه درې اول چې جائز وي هغه يو دا دي چې ځمکه ديوه وي تخم او غويی او عمل دبل وي او دا شرط ولکوي چې د محٔکي د مالک دپاره معلومه حصه ده دا قسم جائز دی .

(۲) قسم دا دی چې عمل ديوه وي او باقي شيان د بل وي دا قسم هم جائز دی .

(۳) قسم دا دی چې ځمکه او تخم ديوه وي او عمل او بقر يعني غويی د بل وي دا هم جائز دی دا اقسام جائز دي .

او هغه درې (۳) اقسام چې فاسد وي هغه دا دي:

﴿۱﴾ ......دا چې ځمکه او بقر ديوه او تخم او عمل دبل وي دا فاسد دی .

﴿۲﴾ ......دا چې تخم ديوه او ځمکه او بقر او عمل د بل وي دا فاسد دی .

﴿۳﴾ ......قسم دا چې تخم او بقر ديوه وي او عمل او ځمکه د بل وي دا فاسد

دی . دغه اقسام خپل دلائل لري دلائل يې په (فتاویٰ عالمګیریة / ص: ۲۳۸ / ج: ٥، الباب الثانی فی بیان انواع المزارعة)کي دي .

سوال:......

یو سړیٰ دی خپله ځمکه یې بل سړي ته ورکړه چي کښنت پر وکړه په دې شرطً چي حاصل یې وکړه زما او ستا سره نیمی دي ، او دا خبره یې نه وکړه چي غویی پر عامل دی یا یې شرط ولګوی چي غویی پر عامل دی په داصورت کي دا کښنت کرل صحیح دي که نه دي صحیح ؟

جواب:......

دا شرط لګول چي غویی پر عامل دی یا نه دی پروانلري:

"قال فی عالمګیریة و إذا دفع الرجل أرضه إلی رجل لیزرعها علی أن ما رزق الله تعالی من شی فهو بینهما نصفان و سکتا عن شرط البقر علی العامل او اشترطا البقر علی العامل سواء کان البذر منه أو من صاحب الأرض لان البقر آلة العمل فیکون علی من علیه العمل هکذا فی خزانة المفتین "(فتاویٰ عالمګیریة / ص: ۲٤۱)

سوال:......

که یو سړي تخم ورکړ و بل سړي ته او ورته وې ویل چي دا تخم وکره پخپله ځمکه کي او حاصل به یې ټول ستا وي دا جائز دی او که نه ؟

جواب:...... دا جائز دی او خاوند د تخم قرض ورکوونکي دی د تخم و خاوند ته د مځکي او هغه په خپل لاس قبض کړی دی:

"قال فی الفتاویٰ عالمګیریة / ص: ٤۱ وإذا دفع الرجل بدراً إلی رجل و قال ازرعه فی أرضك لیکون الخارج کله لك أو قال ازرع أرضك ببذری لیکون الخارج

كلـه لك فهـذا جائز و يصير صاحب البذر مقرضا للبذر من صاحب الأرض ليزرعه في أرضه و قد قبضه رب الأرض بيده حقيقة۔" (فتاویٰ عالمگیریة / ص: ۲٤۱)

سوال :......

که چیري شرط کړي په عقد د مزارعت کي دا چي ځمکه او تخم به د زید وي او غـویـی به د عـمرو وي او عـمل به دواړه کوي او کوم شی چي خارج سي له مـځـکـي هغـه بـه د دواړو سره نیـمـي وي او وروستـه له تمام د عقد پر دغه طریقه عمل دواړو وکړ تر دې چي کښت ورسېدی نو بیا کوم حکم دئ.

جواب :......

پـر زیـد بـانـدي چي د مځکي مالک دی مزدوري ده، غویی د عمر ده او د عمر مـزدوري بـه هـم ورکـوي مثـلا أجر مثل د دواړو به ورکوي: او حاصل ټوله دزید دی .

"کـما قال فی الفتاوی کاملیة ان علی زید أجر مثل بقر عمرو وعمله والخارج کله له کما افتی به فی النتیجة و استدل له ان من شرط المضارعة ان یخلی رب الأرض بینها و بین العامل حتی لو شرط عمل رب الأرض یفسد العقد "(لفوات التخلیة فتاوی کاملیة / ص: ۲۳۲)

سـوال :......

کـه یو سړي ځمکه د چا په بزګري واخیستله په دې شرط چي تخم او غویی او عـمـل به د دې سړي وي چي بزګر دی او په دې شرط چي مثل د تخم اخلي لـه حاصله نو د مځکي باقي به د مالک او بزګر په ما بین کي سره نیمی وي دا صحیح دي او که نه؟

جواب :......

دا عقد نه دی صحیح:

"قال فی الکاملیة لا تجوز هذه العقدة کما فی بهجة الفتاوی واستدل بما فی الخانیة و هو هذا و کذا لو شرط أن یرفع صاحب البذر بذره من الخاج والباقی یکون بینهما کان فاسداً من أیهما کان البذر اهـ و الله تعالی اعلم "(فتاوی کاملیة ص ۲۳۳)

سوال:......

که مځکه د دوو کسانو شریکه وي او پر یوه شریک باندي دا شرط کښېږدي چي عمل پر تا دی او کومه غله چي حاصله سي هغه د دواړو سره نیمی ده، آیا دا جائز ده که نه؟

جواب:......

دا جائز ده:

"قال فی الفتاوی کاملیة نعم یجوز ذلك قال فی الخانیة و لو کان الأرض بینهما و شرط العمل علی أحدهما ان یکون الخارج بینهما نصفین یجوز و یکون غیر العامل مستعیناً فی نصیبه اه و الله اعلم"(فتاوی کاملیة / ص: ۲۳۳)

سوال:......

که دوه کسان کښت وکري او دا کښت آفت ووهي او خراب سي د مخه تر پخیدو، په دې صورت کي څه حکم دی؟

جواب:......

د یوه دپاره حق د دعوې نسته:

"قال فی الذخیرة و ان هلك الخارج قبل الادراك بأن اصطلم الزرع آفة فلا شیئ لوأحد منهما علی صاحبه"(فتاویٰ عالمگیریة / ص: ۲۳۷)

سوال:......
كه تخم په مځكي كي واچوي د مزارعت يعني كښت كرل لازم سو، حق د فسخ نه لري؟
جواب:......
”قال في ال فتاوىٰ عالمگيرية ولو ألقى البذر في الأرض تصير لازمة من الجانبين حتى لا يملك أحدهما الفسخ بعد ذٰلك إلا بعذر كذا في المحيط“(فتاوىٰ عالمگيرية / ص: ۲۳۷)
سوال:......
كه تخم د مځكي مالك وركړي مزارع ته بيا مزارع حق د فسخ لري كه يې نلري؟
جواب:......
نه يې لري:
”وفي المنتقى عن ابي يوسفؒ إذا كان البذر من قبل رب الأرض و دفعه إلى المزارع فليس لواحد منهما ان يبطل المزارعة فان لم يدفع البذر إلى المزارع فلرب الأرض أن يبطلها و ليس للمزارع أن يبطلها كذا في الذخيرة“(فتاوىٰ عالمگيرية / ص: ۲۳۷)
سوال:......
يو سړى بل ته وايي چي زه دا ځمكه په اجاره دركوم د يو كال دپاره په نيمي حصه يا په دريمه حصه د دغي مځكي تخم به پر چا وي؟
جواب:......
دا تخم به پر مزارع وي:
”قال محمدؒ في نوادره أن من قال لغيره أجرتك أرضي هذه سنة بالنصف

أو قال بالثلث يجوز ، والبذر على المزارع "(فتاویٰ عالمگیریة / ص: ۲۳٦)

سوال :......

که یې شرط کړو په مزارعت کي چي ټول هغه چي را ووزي له غنمو هغه به د مالک او د بزگر سره نیمی وي او هغه چي را ووزي له اوربشو هغه به د یوه وي او تخم چي له هر یوه وي که له بزگره وي که له مالکه وي، نو آیا دا صحیح ده که نه؟

جواب :......

دا نه ده صحیح:

"قال في الفتاویٰ عالمگیریة ولو شرطا في المزارعة أن جميعما خرج من الحنطة فبينهما نصفان وما خرج من الشجر فهو لأحدهما بعينه أو شرط أن تكون الحنطة لأحدهما بعينه والشعر للأخر من ايهما كان البذر لايجوز كذا في التتارخانية"(فتاویٰ عالمگیریة / ص: ۲٤۳)

سوال :......

که یې ځمکه په مزارعت ورکړه و عامل ته او دا یې ورته وویل چي بیالې به صفا کوې په دا شرط یې عقد فاسد کړ او ځمکه یې و کرله او عامل بیالې صفا کولې که تخم د عامل وي دا حصل د مځکي د چا کیږي؟

جواب :......

دا حاصل د م ځکي د عامل کیږي:

"قال في الفتاویٰ عالمگیریة ولو شرطا على العامل كرى النهار واصلاح المسناة حتى فسد العقد ان كان البذر من قبل العامل كان الخارج كله للعامل لأنه نما بذره و لصاحب الأرض عليه أجر الأرض و للعامل على صاحب الأرض

أجر عمله وکری الانهار فیتقاصان و یترادّان الفضل" (فتاویٰ عالمگیریةص ۲٤۳)

سوال :......

کـه یې ځمکـه ورکړه مزارع ته اودایې ورته وویل چي غنم او اوربشي په وکه غنم به دیوه سی او اربشي به د بل سي، فصل یې مـ ـلوم کړ، دا صحیح ده که نه؟

جواب :......

دا فاسد دی:

"قال فی عالمگیریة لو دفع أرضا لیزرع حنطة و شعیراً علی أن الحنطة تکون لأحدهما والشعیر للأخر بعینه کان فاسداً" (فتاویٰ عالمگیریة / ص: ۲٤۵)

سـوال :......

کـه یې یوه سړي ته ځمکه ورکړه او غنم یې ورکړو په دا شرط چي پوره کال بـه یـې کـري حـاصل به موسره نیمی وي، عامل دا تخم وکری او اوبه یې کړ تـر دا وخته پوري چي فصل شین سو دا د مځکي مالک پر ودرېدی او خدمت د مـځـکـي یـې پـخپله شروع کړ او پخپله یې ځمکه اوبوله تر داسی وقته چـي فـصل ورسدی بغیر د ـامله د اجازې څخه په دې صورت کي داحاصل د دوی نیمی دی که د مځکي د مالک دی؟

جواب :......

دا حاصل د دواړو سره نیمی دی:

"قال فی الفتاویٰ عالمگیریة و إذا دفع إلی رجل أرضاً و بذراً علی أن یزرعها هـذه السنة بالنصف فبذره العامل و سقاه حتی نبت فقام علیه رب الأرض بنفسه أو بأجرائه و سقاه حتی استحصد الزرع بغیر أمر المزارع فالخارج بینهما نصفان و رب الأرض متطوع فیما صنع"(فتاویٰ عالمگیریة / ص: ۲٤۹)

سوال :......

کـه یـو سړی مـړ سـي اولاد او ښځه پرېږدي اولاد یې بالغان وي نو اولاد یې کښت وکړي په ځمکه مشترکه کي او یا په ځمکه دبل چا کي او دا اولاد ټول پـه عیـال د مـور کـي وي او مـور یـې غـمخوردني کوي او دوی غلې کړي او حاصلات را جمع کوي په یوه کوټه کي او نفع اخلي له دغه غلې ټول نو آیا دا غـلـې د مـور او اولاد سـره شـریـکـي دي او کـه د اولاد دي چي کښت ئی کړی دی؟

جواب :......

کـه چیـري دوی کښت کړلی وي له تخمه مشترکه په مابین د دوی کي، په اجـازه د ټولو سره که چیري ټول لویان وي یا په اذن د وصـي سـره . که چیري بعضي نابالغه وي نو بیا غله سره شریکه ده د ټولو . او که لویان و ده خپله تخمه کړلی وي نو بیا غلې د هغه کسانو دي چي عمل یې کړی وي:

”کـمـا قـال فـی الفتاویٰ کاملیة ان هذه المسألة صارت واقعة الفتوی فاتفقت الاجوبة علی انهم ان زرعوامن بذر مشترك بینهم باذن الباقین ان کانو اکبارا او باذن الـوصـی ان کان للبعض صغارا کانت الغلات کلها علی الشرکة و ان زرعوا مـن بـذر انـفسهـم کـانـت الـغلات للذارعین کذا فی البهجة والله اعلم“(فتاویٰ کاملیة / ص: ۲۳٤)

سوال :......

یـو سړی ځـمـکـه لـري اراده یـې دا وي چـي لـه بـلـه سړي څخه تخم واخلي او ځـمـکـه پـه وکـري او بیـا چـي حـاصـل وکړي هغه به یې نیمي وي د دا سړي حیله څنګه جوړېدی سي؟

جواب :......

دا سړی دي تخم له دا بله سړي څخه واخلي او دا سړی دي خلاص کړي له پيسو څخه بيا دي ورته ووايي چي دا ځمکه وکره حاصل به مو سره نيمی وي:

"قال عالمگیریة رجل له أرض أراد أن يأخذ بذرا من رجل حتى يذرعها و يكون الخارج بينهما نصفين فمن الحيلة له في ذلك أن يشترى نصف البذر منه و يبرئه البائع من الثمن ثم يقول له ارزعها بالبذر كله على أن الخارج بينهما نصفين كذا في خزانة المفتين"(فتاویٰ عالمگیریة / ص: ۲۳۹)

سوال :......

يوه سړي و بل سړي ته وويل چي دا تخم واخله و يې کره ستا په ځمکه كي، حاصل يې ستا دی دا جواز لري که يې نه لري؟

جواب :......

دا جواز لري خاوند د تخم قرض ورکوونکی دی:

"قال عالمگیریة وإذا دفع الرجل بذرا إلى رجل و قال ازرعه في أرضك ليكون الخارج كله لك او قال ازرع أرضك ببذرى ليكون الخارج كله لك فهذا جائز و يصير كله لك فهذا جائز و يصير صاحب البذر مقرضا للبذر من صاحب الأرض ليزرعه في أرضه وقد قبضه رب الأرض بيده حقيقة"(فتاویٰ عالمگیریة / ص: ۲٤۱)

سوال :......

يوه سړي ځمکه وبل سړي ته ورکړه چي دا ځمکه وکره هغه سړي دا ځمکه وکرله او حاصل يې واخيستل مالک د ځمکي چي راغلی پر ځمکه هيڅ شی نسته چي د مزارع پوښتنه يې وکړه هغه مړ دی په دا صورت کي

دمځکي د مالک حق جوړيږي که حق نه لري؟

جواب:......

د مځکي د مالک حق په ترکه د مړي کي کيږي:

"قال عالمگيريه و إذا مات المزارع بعد ما استحصد الزرع و لم يوجد في الأرض زرع و لا يدرى ما فعل فضمان حصة رب الأرض في مال المزارع من أيهما كان البذرلان نصيب رب الأرض كان أمانة في يد المزارع فاذا مات مجهلاً له كان ديناً في التركة كالوديعة تصير ديناً بموت المودع في تركته إذا كان لا يعلم ما صنع بها"(فتاویٰ عالمگيرية / ص: ۲٦۱ / ج: ٥)

سوال:......

که يو سړي و بل سړي ته ځمکه ورکړي چي دا ځمکه و کره هغه سړی دا ځمکه و کري بيا په دا شريکانو کي يو يا دوړاه مړه سي وارثان يې اختلاف شروع کړي په حصه د هر يوه کي په دا صورت کي قول د چا معتبر دی؟

جواب:......

قول د خاوند د مځکي د وارثانو معتبر دی په حصه کي د کښت شاهدان د مزارع معتبر دي:

"قال عالمگيرية و لو مات أحدهما او كلاهما فاختلف ورثتهما في شرط الانصباء فالقول لورثة صاحب الأرض والبينة للآخر وان اختلفوا في صاحب البذر كان القول قول المزارع و وارثة والبينة للآخر و ان اختلفا في البذر و في الشرط و أقاما البينة فالبينة بينة رب الأرض لأنه خارج والزارع صاحب اليد كذا في محيط السرخسي"(فتاویٰ عالمگيرية / ص: ۲۸۱ / ج: ٥)

☆☆☆

سوال:......

كه مزارعت په دا شرط باندي وكړي چي پر يوه دشريكانو غورځول د انبار يا د خوشايو به وي په دا شرط مزارعت صحيح دی كه نه دی صحيح؟

جواب:......

په دا شرط انبار اچولو يا د انبار پاشلو پرښول جواز نه لري:

"قال عالمگيرية و لو شرط في المزارعة على أحدهما القاء السرقين ان شرط على المزارع فالمزارعة فاسدة من أيهما كان البذر والخارج كله للمزارع ان كان البذر منه و عليه أجر مثل الأرض و لا يغرم رب الأرض شيئا للمزارع من قيمة السرقين الذى طرحه في الأرض و ان كان البذر من رب الأرض فالخارج له و عليه أجر مثل عمل المزارع في أرضة و قيمة طرح من السرقين وان شرط السرقين على رب الأرض ان كان البذر من المزارع فالمزارعة فاسدة والخارج للمزارع و عليه أجر مثل الأرض و قيمة السرقين" (فتاوىٰ عالمگيرية / ص: ۲۴۴ / ج: ۵)

سوال:......

كه يو سړي ځمكه وركړه او دا شرط يې ورته بيان كړ و مضارع ته كه دي غنم و كرل په ځمكه كي دوې حصې دركوم كه دي وربشي و كرلې په ځمكه كي درې حصې دركوم په دا شرط مزارعت صحيح دی نه دی صحيح؟

جواب:......

دا شرط په مزارعت كي جواز نلري:

"قال عالمگيرية ولو دفع الأرض مزارعة على أن ما يزرع فيها حنطة فكذا و ما يزرع فيها شعيراً فكذا فسد العقد لأن المزروع فيه مجهول و كذا لو قال على أن

يزرع بعضها حنطة و بعضها شعيرا لأن التنصيص على التبعيض تنصيص على التجهيل " (فتاویٰ عالمگيرية / ص: ٢٣٦ / ج: ٥)

سوال:......

که یو سړی و بل سړي ته ځمکه ورکړي او وخت لږ ورته معلوم کړي چې په هغه وخت کې فصل نه رسيږي دا لږ وخت جواز لري که نه؟

جواب:......

دا لږ وخت معلوموول جواز نلري:

"قال عالمگيرية و ان بينا وقتا لايتمكن فيه من الزراعة فسدت المزارعة و صار ذكره و عدم ذكره سواءً و كذلك اذ بينا مدة لا يعيش أحدهما إلى مثلها غالبا لا تجوز كذا في الذخيرة"(فتاویٰ عالمگيرية / ص: ٣٣٦ / ج: ٥)

سوال:......

که یو سړي و بل سړي ته ځمکه په حصه ورکړه او دا ئې ورته وويل چې دا ځمکه په اجاره درکوم د کال دپاره په نيمي حصې، تخم پر مزارع جواز لري که نه؟

جواب:......

جواز لري:

"قال عالمگيرية وقد ذكر ابن رستم عن محمدؒ من قال لغيره أجرتك أرضى هذه سنة بالنصف او قال الثلث يجوز وللبدر على المزارع ولو قال دفعت اليك ارضى مزارعة او اعطيتك ارض مزارعة۔

☆☆☆

كتاب الاجاره

مسئلة ﴾

كه يو سړي اراده وكړه داجاره كولو دمځكي او مځكي والا ووائي دا مځكه په دوه لكه دركوم مستاجر ووائى يا په يو لك ئى در څه اجاره كوم دو ى په دغه خبره سره جلا سي ددې څه خكم دى؟

جواب ﴾

دا مځكه په دوه لكه سوه .

رجل اراد ان يستاجر المستاجر هو بعشرة وافترقا علىٰ ذلك فانه يكون بعشرين .قاضيخان الجز الثانى كتاب الاجارة ص:۱۹۴

مسئلة ﴾

كه صاحب دمځكى والا وويل په دوه لكه ده او مستأجر وويل يو لك او مځكه مستأجر قبض كړه يعني كار ئى پر شروع كړي ددې څه حكم دى؟

جواب ﴾

دا مځكه په يو لك ده .

ولو قال المستأجر بعشرة وقبض الغلام قال بعضهم يجب اجر المثل لايزاد على عشرين ولا ينقص عن عشرة والصحيح انه يلزم الاجر الذى صرح به المستأجر .قاضى خان الجز الثانى كتاب الاجارة

ص:۱۹۴

مسئلة ﴿

كوم شيان نارو ا دي په اجاره كې هغه څلور شيان چي نارو ا دي ۱:اول اجاره نـه خرڅيږي ۲:اجاره نه هبه كيږي ۳:اجاره نه ګرو كيږي ۴:پهٔ اجاره باندي صدقه نه كيږي .

او هغـه څـلور شيان چي روادي ۱: اجاره په امانت وركول كيږي او ۲: پـه خـواست وركـول كيږي او ۳: اجـاره مستـعـمـليـدلى سي ۴: پـه اجر وركـول كيږي كـه چيـرى اجـاره مـرسله په مثل دهغه چي ده اجاره كړې وي او كـه ئي په اجاره وركړه دا اجاره زياته تر هغه چي ده اجاره كړې ده دا جائـز ده پـه قـول دامـام مالكؒ او په قول دامام شافعيؒ او په قول دامام ابو حنيفـهؒ او اصـحـابـو دده دا نـارو ا ده مـګـر كه ئى شيء پر زيات كړې وي دخپـل ځانـه او چـي دخپل ځانه څخه ئى شيء په كي زيات كړى وي كه څه هم كم وي صحيح كيږي زيات والى ئي په اجر كي .

اجـاره لاتـجـوز فيهـا اربـعة احـكـام وتـجوز اربعة اخرىٰ ام الاربعة الاولىٰ فالاجارة لاتباع ولا توهب ولا ترهن ولا يتصدق بها واما الاربعة الـجـائزة فانها تودع وتعار وتستـعـمل وتؤجر اذاكانت مرسلة فى مثل مـا استـأجـر هـا فيـه واذا اجرهـا بـاكثر مما استأجر ها فانه جائز فى قول مـالک وشـافـعـى وفـى قول ابى حنيفة واصحابه لايجوز ذلک الاان يزيد شيئاً من عنده فان زاد شيئاً من عـنده ولو كان قليلاً جاز استزادة الاجرة النتف فى الفتاوىٰ كتاب الاجارة ص:۳۳۹ .

مسئلة ﴿

که ئی مځکه اجاره کړه په دراهمو سره او بیا ئی اجر ور کړه په دینارو سره یا په کیلی شیانو سره یا په وزني شیانو سره چي ددغو شیانو قیمت زیات وي تر دراهمو ددې څه حکم دی؟

جواب﴾

دا رواده اتفاقاً

ولـو استـأجر هـا بالدراهم ثم اجرها بالدنانیر او بالکیلی او بالوزنی وکان اکثر قیمة من الدراهم جاز متفقاً النتف فی الفتاویٰ کتاب الاجارة ص:۳۳۹ .

مسئلة﴾

کـه یـو سړی مـزدور نیسـي دتالاب دکیندلو لپاره لس په لس کي او دتالاب غـوچوالی ئی هم ورښولی وو یعنی ورمعلوم ئی کړی مزدور تالاب پنـځـه په پنځه کي وکیندی اوس دلته دمزدور څو حق جوړیږي ددې څه حکم دی؟

جواب﴾

مزدور له څلرمه حصه داجر ده . .

استـأجر لحفرة حوض عشرة فی عشرة وبین العمق فحفر خمس فی خمس کان لـه ربع الاجر لان العشـرة فی العشـرة مأة والخمسة فی الخمسة خمسة وعشرون فکـان لـه ربع العمل (الاشباه والنظائر کتاب الاجارة ص:۲۳۱ .

مسئلة﴾

اجر دبیت الخلاء دکښلو پر موجر واجبیږي که نه پر واجبیږي یا

مثلاً ناوه جوړول يا خوني كلول ددې څه حكم دى؟

جواب ﴾

اجر دكتبنلو دبيت الخلاء پر مؤجر نه واجبيږي او سيدونكى اختيار من دى دوجهى دعيبه او دغه رقم اصلاح دناوې او كلول دچت ځكه مالک نه مجبوره كيږي پر اصلاح دملک خپل او ايستل دخاوري دليترين پر مؤجر باندي .

اجر نزح بيت الخلاء لايجب علىٰ المؤجر ولاكن يخير الساكن للعيب وكذا اصلاح الميزاب وتطيين السطن ونحوهما لان المالک لايجبر علىٰ اصلاح ملكه واخرج تراب المستأجر عليه وكناسته ورماده لاتفريغ البالوعة (الاشباه والنظائر ص:۲۳۲كتاب الاجارة.

مسئلة ﴾

كه يو شپانه چي دډيرو خلكو پسونه كوري بيا ليوه بعضي پسونه ځيني وخوري اوس پر شپانه ضمان سته كه نه ددې څه حكم دى؟

جواب ﴾

دامام ابو حنيفةؒ په نزد ضمان نسته او په نزد دامام ابو يوسفؒ او امام محمدؒ ضمان سته او فتوىٰ وركړې ده امامانو دسمر قند په صلحه كولو پر نصفؤ باندي په اجير مشترک كي او مختاره كړى دى ابو جعفر او ابو الليثؒ دا قول كه چيري شپانه صالح و برى كيږي په قسم سره او كه چيري صالح نهؤ بيا ضامن كيږي او كه مستورؤ نو بيا امر كيږي په صلحه سره .

لايضمن عند ابى حنيفةؒ وعند ابى يوسفؒ وامام محمدؒ يضمن

وافتیٰ ائمة سمر قند بالصلح علی النصف فی الاجیر المشترک واختار ابو جعفر وابو اللیث فیه ان کان صالحاً یبرئ بیمینه وان کان مستوراً یؤ مر بالصلح وافتیٰ بذلک کثیر من المتأخرین وهو اولیٰ من غیره واسلم و بمثله افتیٰ الخیر الرملی تنقیح الحامدیه الجز الثانی کتاب الاجارة ص ۱۱۳

مسئلة﴾

که کلیوالو یو سړی دپوره کال لپاره کرایه کړی وي چي زموږ غواوي را اوبه وه او هغه شیان چي اوبو ته احتیاج لري او دکرائي والا سړی اوبه دغو ځاه څخه راباسي په الاتوه سره او کلي والو شرط کړی وي دغوائي په سر باندي مقدار معلوم دا مستأجر لره اوس داکلیوال دا اراده لري چي اوس خپل شرط پرځای کړي ددې څه حکم دی ؟

جواب﴾

دلته داوبو قیمت لازمیږي .

اللازم قیمت الماء لانه قیمی علی الاصح فینظر الی ما یأخذ الآخذ منه ویقوم فیعطي اخذه المتنفع به قیمته قلیل کان او کثیراً ولا یصح الشرط المذکور للجهل فی ذلک والله اعلم الفتاویٰ خیریه کتاب الاجارة ص:۱۸۵ .

مسئلة﴾

که یه سړي یوه چاته موټر ورکړی چي دا چلوه کته ئی زما او ستا نیمی ده ددې څه حکم دی؟

جواب﴾

دا اجاره فـاسده ده هغه پيسې چې ئی په کټلي دي هغه دموټر والا دي وهغه بلسرې ته به اجر مثل ورکوي .

اجاب لايصح ذلک وجميع المتحصل لصاحب الجمل وللاخر اجرة موله فتوىٰ خيرية کتاب الاجارة ص:١٨٦

مسئلة ﴾

کـه څوک مځکه اجاره کړی دکبنت لپاره او معلوم ئی نه کړي چې داشئ پر کرم او مځکي والا هم ورته ونه وائي چې هر شئ پر کړې په کره ئی ددې څه حکم دی؟

جواب ﴾

دا عقد نه صحيح کيږي .

وكذا اذا استجار ها للزراعة فلابد من بيان ما يزرع فيها ما شاء والا فلا يجوز العقد لان المنافع الارض تختلف باختلاف البناء والغرس والزراعة (بدائع الصنائع کتاب الاجارة ص:٣٠

مسئلة ﴾

که يو سړی مځکه اجاره کړي چې هغه مځکه کي دمؤجر کبنت وي يا درختي وي يابانسونه وي يا دانګورو تاکان وي ددې څه حکم دی؟

جواب ﴾

دا اجاره نه ده جائز .

وان استأجر ارضاً فيها زرع للآجر او شجر او قصب او كرم او ما يمنع من الزراعة لم تجز لانها مشغولة بمال المؤجر فلا يتحقق تسليمه (بدائع الصنائع کتاب الاجارة ص:٣٨

مسئلة﴾

که یو سړی موټر اجاره کړي وکور ته ئی ودروي دپاره ددې چي خلک ووائي چي دا موټر دده دی ددې څه حکم دی؟

جواب﴾

دا اجاره ئی نارواده .

وکذا لو استأجر دابة ليجنبها بين يديه او ليربطها علىٰ باب لينظر الناس ان الدابة لايجوز خلاصة الفتاوىٰ جلد الثانی کتاب الاجارة ص:۱۱۱

مسئلة﴾

که زید دعمرو سرای اجاره کړي بیا زید خونه پکښې بناء کړي بی له اجازې دعمرو اوس زید اجاره پریږدي زید وعمرو ته وائي که دکوټې قیمت راکوې دجوړولو بیا کوټه نه خرابومه او که ئې قیمت نه راکوې بیا ئی خرابومه اوس به دلته څه کوي؟

جواب﴾

عمرو دي روپۍ ورکړي او که روپۍ نه ورکوي بیا دي زید خښتې لرګي جني واخلي او پخسه دي نه خرابوي .

رجل استأجر داراً او بنا فيها بيتاً من التراب الذى كان فيها بغير امر صاحب الدارٌ ثم اراد الخروج عنها وان يأخذ البناء فما كان من لبن فانه يرفع ويدفع قيمة وما كان رهصاً يقال بالفارسية باخسه ليس له فى ذلک شئ لانه اذا نقض يصير تراباً (خلاصة الفتاوىٰ كتاب الاجارة جلد ثالث ص:۱۱۹ .

مسئلة﴾

که زید له عمرو څخه موټر اجاره کړی موټر دزید څخه ضائع سو بې لا تفریطه عمرو دموټر تاوان له زید څخه واخیستی وروست له یو څه وخته موټر والا خپل موټر وپیژندی دعوه ئې وکړه شاهدان ئې پر ودرول اوس زید خپل روپی دعمرو څخه اخیستی سي که نه ددې څه حکم دی؟

جواب﴾

اخیستلای ئی سي.

سئل فی رجل استأجر حماراً فضاع منه من غیر تفریط فغرصه رب الحمار ثمنه فبعد مدة عرف رب الحمار حمار عند الرجل وادعاه واقام بینه تشهد له ان الحمار حماره فهل للمستأجر الرجوع علی رب الحمار بما دفع اجاب لایضمن المستأجز ما ضاع بیده من غیر تعد ولا تفریط وله الرجوع بما اخذ منه المالک والحال هذه والله اعلم (فتاویٰ المهدية جلد الخامس کتاب الاجازة .

مسئلة﴾

که زید دعمرو څخه مځکه اجاره کي او نهالان په کي ولګوي خپل په پیسو دخپل ځان لپاره وروسته دمدې تر تیریدو داجارې مالک سي دمځکی بې له مؤجره بل څوک بیا اراده وکړی مالک دمځکی داخیستلو د درختو بلا وجهی شرعي ددې څه حکم دی؟

جواب﴾

درختي نه سي ځني اخیستلای او زید دی امر کړه سي په کښلو

ددرختو .

اجاب للمستأجر اخذه شجرة التی غرسها بعد اثبات ذلک و یؤجر بقلعها تفریغاً لارض الغیر فتاویٰ المهدیه جزء الخامس ص:۳۲ .

مسئلة﴾

که یو مؤجر له مستأجر څخه مځکه اجاره کړه او یا مستأجر دغه مځکه بیرته مؤجر ته په اجاره ورکړه دا اجاره صحیح کیږي که نه ددې څه حکم دی؟

جواب﴾

دا نه صحیح کیږي .

الاجارة من المستأجر والمستأجره للمؤجر لا تصح ولا تنقض الاولیٰ (الاشباه والنظائر کتاب الاجارة ص:۲۳۲

مسئلة﴾

که یوه سړی موټر اجاره کړي چې سل کونۍ اوړه پکښې وړم او داسړی یو نیم سل کونۍ پکښې یو سي او موټر ئی وړلای نه سي بیا موټر خراب سي دموټر دخرابیدو خرچه په مستأجر سته که نه ددې څه حکم دی؟

جواب﴾

دموټر دخرابیدو قیمت پر مستأجر دی .

سئل فی مستأجر دابة لیحمل علیها مقداراً معلوماً من الزرع فحمل اکثر منه وهی لاتطیق فعطبت بذلک فهل یلزم المستأجر جمیع قیمتها الجواب نعم . (تنقیح الحامدیة الجز الثانی کتاب

الاجازة ص:۱۴۹

که یوه سړي ډم اجاره کړی یعني ډاله والا ته روپۍ ورکوي دا صحیح دی که نه څه حکم دی؟

جواب﴾

یا دا اجاره نه صحیح کیږي .

وعلىٰ هذا يخرج الاستجار على المعاصي انه لايصح (بدائع الصنائع كتاب الاجارة الجزء الرابع ص:۳۹

مسئلة﴾

که زید مځکه اجاره کړي دعمرو څخه او کښت په وکړي زید او به پیدا نه کړې چې کښت او به کړي کښت وچ سو ددې څه حکم دی؟

جواب﴾

پر زید باندي اجر نسته که ئی مځکه اجاره کړې وه داوبو سره او که بیله اوبو وي .

رجل استأجر ارضاً ليزرعها فزرعها فلم تجد الماء ليسقيها فيبس الزرع سقط الاجر عنه سواء استأجر ها بشربها (خلاصة الفتاوىٰ جلد الثالث كتاب الاجارة ص: ۱۲۰

مسئلة﴾

که زید دعمرو څخه مځکه اجاره کړه دپاره دیوه کال او کښت پر وکړي کښت ئی چینجیانو وخوړی زید نور کښت په ونه کړی ددې څه حکم دی ؟

جواب﴾

که دونه وخت و چي زید بیا کښت پر کرلی وای په مثل دده او یا کم تر ده په ضرر کي نو اجر دمځکي پر زید باندي سته .

اجاب الاجر علی المستأجر فیما بقی من المدة بعد هلاک الزرع الا اذا تمکن من اعادة زرع مثله او دونه فی الضرر (الهندیة کتاب الاجارة جلد الخامس ص:۴۱

مسئلة﴾

که دنانوای څخه ډوډۍ وسوځي مزدوری نانوائی لره ستة که نه ددې څه حکم دی؟

جواب﴾

که ئی چیري ډوډۍ سمه له تنوره راوایستله وروسته وسوځل سوه بې له فعله دده بیا ئی اجر ستة او که ئی چیري له تنوره سمه راونه ایستله په تناره کی ځیني وسوه بیا ئی اجر نسته .

وللموجر طلب الاجر للخبز بعد اخراجه من التنور لان تمامه بذلک فاذا احترق الخبز بعد ما اخرج من التنور من غیر فعله فله الاجر لوجود تمام العمل واذا اخترق قبله ای اخرجه من التنور لا ای لا اجر له لعدم وجوده تمام العمل (فتاویٰ الملا علی القاری، جلد الثالث کتاب الاجارة ص:۳۲۴ .

مسئلة﴾

که زید ددوکاندار څخه ګینه اجاره کړه یا کپړې ئی ځیني اجاره کړې دپاره دلسو ورځو لپاره چي واده به پکښې تیر کړم ګینهاو کپړې ځیني قبض کړې مستعمل ئی نه کړې اوس پر زید باندي اجر

واجبيږي كه نه ددې څه حكم دى؟

جواب﴾

هوكه پر زيد باندې اجر سته .

لو استـأجر حليا يزين به عروسة عشرة ايام وقبض الحلى ولم يزين العـروس قـال يلـزم الاجر كـذا فـى المحيط (فتاوىٰ العالمكيرية الجز الرابع كتاب الاجارة ص:۴۱۴ .

مسئلة﴾

كـه زيـد سـراى ورکړ دمحرم په مياشت كې په اجاره وعمر ته بيا ئى دصـفرى پـه ميـاشـت كـي وبـكـر تـه وركړې اوس بـه زيد سراى وچا تـه تسليموي ددې څه حكم دى؟

جواب﴾

سراى به وعمروته تسليموي .

لـو آجـر داره شهـراً وهـو المحرم ثم آجرها من آخر الشهر صفر والعقد فـى المحرم فانه يسلم الدار اولا لصاحب المحرم فاذا انسخ يسلمها الى الـذى استـأ جر فـى صـفـر فتـاوىٰ عـالمكيـرية كتاب الاجارة جلد الرابع ص:۴۱۵

مسئلة﴾

كه زيد عمرو اجاره كړى چي وماته غزلي راوليكه ددې څه حكم دى ؟

جواب﴾

اجاره ئى صحيح ده .

رجـل استـأ جـر رجلاً ليـكتـب لـه غـنـاءً بالفارسية او بالعربية يجوز

ویطب له اجر . (فتاویٰ ولوجیة الجز الثالث کتاب الاجارة ص:۳۲۵ .

مسئلة﴾

که زید له عمرو څخه وچه واله اجاره کړه چې زه په دې واله کې اوبه تیروم خپلې مځکې ته ددې څه حکم دی؟

جواب﴾

که ئې موقته څیني اجاره کړه صحیح کیږي او که موقته نه وه بیا نه صحیح کیږي .

لو استأجر نهراًیابساًلیجري فیه الماء الی لرضه فهو فاسد ولو استأجر مؤ قتاً واجري جاز . (فتاویٰ الولوالجیة الجز الثالث کتاب الاجارة ص:۳۲۷ .

مسئلة﴾

که زید دعمرو موټر ورجوړ کړی او موټر خراب وي عمرو وزید ته روپۍ نه ورکوي دموټر دجوړیدو زید موټر څیني وګرزوی موټر دزید په لاس کې ضائع سي اوس دلته پر زید ضمان سته که نه او پر عمرو اجر سته که نه ددې څه حکم دی؟

جواب﴾

په نزد دامام صاحب پر زید ضمان او پر عمرو اجر نسته او په نزد دیارانو ضمان سته او که ضمان دمعمول ورکړی بیا پر عمرو اجر سته او که ئې ضمان دغیر معمولي ورکړی بیا پر عمرو اجر نسته .چې زید ئې ورکړي .

ومن الاثر لعمله کالحمال والملاح لا یحبس لاجر لان المعقود علیه نفس العمل وهو غیر قائم فی العین فلا یتصور حبسه فلیس له

ولا يه الحبس فاذا انه لو حبسها ضمنها ضمان الغاصب وصاحبها بالخيار ان شاء ضمنه قيمتها محمولة وله الاجر وان شاء غير محمولة فلا اجر له .

بحر الرائق الجزء السابع كتاب الاجارة ص:۵۱۵

مسئلة﴾

كه زيد عمرو ته موټر وركړى كه دى تر دوه لكه زيات خرڅ كړي هغه دوه لكه ئى زما دي هغه زياتي تر دوه لكه ستا دي ددې څه حكم دى

جواب﴾

دا اجاره فاسده ده .

وعن الثانى دفع الىٰ آخر ثوباً ليبعه على ان مازاد علىٰ كذا فهو اجارة فاسدة ولو ضاع الثوب من يده يضمن ويكون هذا الرجل بنمزله الاجير مشترک . (البزازية كتاب الاجارة الجز الثانى ص:۱۴

مسئلة﴾

كه زيد عمرو ته سراى وركړى دپاره دمعلومو مياشتو زيد اراده وكړي چى له عمرو څخه بل شى رانيسي په اجر دسراى سره مخته تر قبض كيدو ددې څه حكم دى؟

جواب﴾

دا صحيح ده .

استأجر داراً شهوراً معلومة ثم اراد رب الدار ان يشترى من المستأجر بالاجر شيئاً آخر قبل القبض جاز . بزازيه كتاب الاجارة الجزء الثانى ص:۳۳

مسئلة﴾
كـه پـلار بـالغ زوى اجاره كړى دپاره دخپل كار اوس دلته پر پلار اجر سته دزوى لپاره كه نستـه ؟
جواب﴾
پر پلار دزوى لپاره اجر نستـه.
استـأجر ابنه البالغ فعمل للاب لا اجر له (بزازية كتاب الاجارة الجزء الثاني ص:۲۵
سوال﴾
كـه زيد يوه ټوټه مځكه اجاره كړي دمستـحق دمځكي څخه دمعلوم وخت لپـاره وروستــه تر تيـريـدو دمـدې دمـځكي مځكـه تسليم كړي ومستـحق ته مځكي مګر مستـأجر كښت كرلى وي پر مځكه مذكوره بـانـدې وروستـه تـر تيـريـدو دمـدې يو څه حصه بيله عقده داجارې اراده وكړي مستـحق دمځكي داخيستلو دكښت دكښت كر څخه بيله رضاء دكښت كره ددې څه حكم دى؟
جواب﴾
مستـحق دمـځكي كښـت نـه سي اخيـستلاى دمستـأجر څخـه چي مستـأجـر دځـان لپـاره كـرلـى وي پـر مستـأ جر واجب دى اجر مثل بيله عـقـده داجـارې كـه چيـرى مـځـكـه وقـفـى وه يا ديتيـم يا برابره وه دپاره داستـغـلال كـه چيـري دارقـم نـه وه بيـا جاري كيـږي عرف پر اخيـستلو دحصې خارج كي دكښت څخه بيله اجازې دكښت كر څخه .
مسئلة﴾

څه حکم دی داجرت اخیستلو پر آذان باندي او پر امامت باندي او پر تعلیم دقرآن باندي ؟

جواب﴿

نن ورځ فتویٰ ورکول سوې ده پر اخیستلو داجرة پر امامت او پر اذان باندي .

ولا تصح للعبادة كالاذان والامامة وتعليم القرآن ويفتي اليوم بصحتها اى الاجارة على الاذان والامامة وتعليم القرآن لان المتقدمين انما منعوا منها بلا شرط فى زمانهم فى فعلها احتساباً فى مجازلة فاعلها بلا احسان بلا شرط فى هذه الزمان قد زال المعنيان ففى عدم صحة الاجارة عليها تضييعها ولا يبعد ان يختلف الحكم باختلاف الازمنة الا ترىٰ ان النساء كن يخرجن الى الجماعات فى زمنه عليه الصلوٰة والسلام وابى بكر حتىٰ منعهن عمر عن ذلك فى الهداية وبعض مشائخنا استحسنوا الاستنجار على تعليم القرآن اليوم وعليه الفتوىٰ فى النهاية يفتي بجواز الاستئجار على تعليم الفقه ايضاً فى زماننا فى المجمع وقيل يفتي بجواز اى الاستئجارة على التعليم والامامة والفقة وفى الذخيرة والروضة عن بعض اصحابنا يجوز فى زماننا للامام والمعلم اخذ الاجرة (فتاویٰ الملا على قاري جلد الثالث كتاب الاجارة ص:۲۳۴

مسئلة﴿

که زید وعمرو ته سرای ورکړی هره میاشت په یوه درهم سره داعقد صحیح په یوه میاشت کي دی او که په ډیرو میاشتو کي دي ددې څه

حكم دى؟

جواب﴾

دا عقد په يوه مياشت كي صحيح دى .

وان آجر داروً كل شهر بدرهم صح العقد فى شهر واحد وفسد فى بقية شهور واذا تم الشهر الاول فلكل واحد منهما ان ينقض الاجارة لانتهاء الغقد الصحيح ولو سنىٰ جملة الشهور جاز فى ظاهر الرواية لكل واحد منهما الخيار فى الليلة الاولىٰ من شهر الداخل ويومها هكذا فى الكافى والفتوىٰ علىٰ ظاهر الرواية .عالمكيرية الجز الرابع كتاب الاجارة ص:۴۱٦

مسئلة﴾

كه زيد دعمرو څخه دوكانونه اجاره كړل په نيمه ګټه سره دا اجاره خو فاسده ده نو اوس به په داپيسو يا په ګټه څه چم كوي ؟

ګټه ئى دسامان والاده او پر سامان والا باندي اجر مثل ددكانو دى .

استأجر حانوتا بنصف مايربح فيه فسد والربح كله لصاحب المتاع وعليه اجر مثل الحانوت .

(بزازيه الجز الثانى كتاب الاجارة ص:۲۹)

مسئلة﴾

كه زيد د سامان موټرپه دښت كي ودروى او زيد سامان انتقالولاى سي ددښت څخه او سامان نقل نكړي تر هغه وخته چي آخر سامان خراب سي په باران سره يا په غلا سره دديې څه حكم دى؟

جواب﴾

زید ئی ضامن دی که چیری باران غالبه وي یا غله غالبه وي .
الحمال اذا نزل فی مفازة وتهیأ له انتقال فلم ینتقل حتیٰ فسد المتاع بمطر اوسرقة فهو ضامن اذا کانت السرقة والمطر غالباً (مجمع الانهر الجز الثالث کتاب الاجارة ص:٥٢٨)

سوال﴾

که عمرو دزید څخه مځکه اجاره کړی دوه کاله په معلوم قدر سره بیا زید مځکه خرڅه کړي یو کال ورسته په اجازه دعمرو سره او په رضا دعمرو سره عمرو کښت په ونه کري او تسلیم ئې کي او بل څوک هم کښت په ونه کري مشتری اراده وکړه ددوهم کال داجر اخیستلو دعمرو څخه اوس دلته پر عمرو باندي اجر سته او که نه او اجارة په بیعه سره فسخه کیږي که نه ددې څه حکم دی؟

جواب﴾

په عمرو باندي اجر نسته ځکه اجاره فسخه کیږي په بیعه په رضا دمستأجر او په اجازه دمستأجر .
اجاب نعم تنفسخ الاجارة باجازة مستأجر البیع ورضائه به وینفذ البیع فی حق الکل (فتویٰ المهدیه کتاب الاجاره جلد خامس ص: ٦٠

سوال﴾

که زید ودلال ته یو شی ورکړی چي داشئ راخرڅ کړه او دلال خپل اجر وجوباً اخلي او دغه شی دلال خرڅ کړی بیرته مشتری داشی رد کړي په وجه دعیب سره اوس زید ددلال څخه هغه اجر بیرته اخیستلای سي که نه ددې څه حکم دی؟

جواب﴾
یا زید بیر ته د دلال څخه هغه اجر نه سي اخیستلای .
وفـی کـل مـوضـوع یـجـب اذا اخـذ الـدلال الاجر ثم ان المشـتـری رد المشتری بالعیب بطریق فسخ او لایکون فسخا لا یسترد من الدلال ما دفع الیه من الاجر .
(خلاصة الفتاویٰ الجلد الثالث كتاب الاجاره ص: ۱۲٦

سوال﴾
که زید عمرو او بکر دواړه اجاره کړل دپاره دبوټو راوړلو دزید وکور ته په زر روپۍ عمرو ډیر بوټونه راوړي او بکر لږ بوټونه راوړي عمرو او بکر تر مخه یو ځای مزدوري نه وي سره کړیدې څه حکم دی؟
جواب﴾
دعمرو دپاره هم پنځه سوه روپۍ دي او دبکر دپاره هم پنځه سوه روپۍ دي .
رجل استأجر رجلین لیحملا له خشبة الیٰ منزله بدرهم فیحمل احدهما دو ن الاخر فله نصف درهم ان لم یکونا شریکین فی العمل قبل ذلک .
(خلاصة الفتاویٰ الجلد الثالث كتاب الاجاره ص: ۱۲۹
سوال﴾
که زید وخیاط ته ووائي چي داکپړه وګوره که زما دکالو بسیږي کاټ ئی که او جوړ ئی که په پنځه سوه روپۍ خیاط ئی کاټ کړي

يعـنـى پرې ئى كړى بيا وروستـه خياط ووائي چي دا خو ستا كفايت نه كوي ددې څه حكم دى؟

جواب﴾

پر خياط دكپړې ضمان سته .

رجـل قـال للخياط انظر لى هذا لثوب ان كان قميصاً فاقطعه بدرهم وخطة فقطعه ثم قال انه لايكفيك يضمن الثوب .

(خلاصة الفتاوىٰ الجلد الثالث كتاب الاجاره ص: ۱۳۷)

سوال﴾

كـه زيد وخيـاط تـه كپړې وركړي او خيـاط تـه ووائي ووائي چي داكپړه وګوره آيا زما دكالو كفايت كوي خياط ورته ووائي ۇ كفايت كـوي زيـد ورتـه ووائـي پـرې ئى كړه خياط ئى كاټ كړي يعنى پرې ئى كـړى بيـا وروستـه خيـاط ووائـي چي دا خو ستا كفايت نه كوي ددې څه حكم دى؟

جواب﴾

ددې ضمان پر خياط نسته .

ولـو قـال انـظـر ايـكفينى قميضاً فقال نعم فقال اقطعه فقطعه ثم قال لايكفيك لايضمن .

(خلاصة الفتاوىٰ الجلد الثالث كتاب الاجاره ص: ۱۳۷

سوال﴾

كـه زيـد يـو شـئ اجـاره كـړى پـه هـغـه شي كى عيـب وي زيد لره خيار سته كه نه ددې څه حكم دى؟

جواب﴾
هـوكـې زيـد لـره اختيـار ستـه كى په اسيدو كى ضرر رسوي يـا پـه سپريدو كي يا په خدمت كبني كه ئې عيب ضرر نه رسوي بيا ئى اجاره جائز او لازمـه ده .
وان وجد بها عيباً فان كان ذلك العيب يضربا السكن وان شاء رضى وان لا يضر فالجاتة لازمة .كتاب الاجارة ص: ۳۴۷
سوال﴾
کـه زيد عمرو ته مځکه وركي چې درختي پر وكره بيا به مځکه زما او ستا نيمائى وي ددې څه حکم دى؟
جواب﴾
دا نـاروا ده او كـه چيـري دا فـعـل وكـى نو بيا درختي دمځكي والادي وهغه بل ته به قيمت د درختو وركوي او اجر دعمل به وركوي .
اذا دفـع ارضـه الـى رجـل ليـغرس فيـهـا اشجار اعلىٰ ان تكون الارض والشـجــــرة بيـنـهـمـا نـصفين لم يجز فان فعل فالشجر للرب الارض وعليه قيـمـة الشجرة واجر ما عمل .
(فتاوىٰ سراجيه كتاب الاجارة ص:۴٦۵
سوال﴾
کـه زيـد ښځـه اجاره کـړي چي زما واولاد ته تى وركوه هغا ښځه ودا كـوچـنـي تـه دميـړي شيدې وركوي اوس دا ښځي ته اجر ستـه كه نه ددې څه حکم دى؟
جواب﴾

یا دا ښځي لره اجر نسته .
الظئر اذا ارضعت بلبن الشاة لا اجر لها (الفتاویٰ السراجیه کتاب الاجارة ص: ٤٦٦
سوال﴾
که زید په اجاره کړي دسنتولو ډاکټر او ډاکټر کو چنیان سنت کړي یا حجامه والا حجامه ولګوي یا رګ وهلو والا رګ ووهي او هلاکت ځیني ثابت سي اوس پر ډاکټر ضمان سته که نه ددې څه حکم دی؟
جواب﴾
ددې ضمان پر ډاکټر حجامه والا او رګ والا باندي نسته .
ختان او حجام حجم او ختن او فصاد فصد فحصل الهلاک لم یضمن .
(الفتاویٰ السراجیه کتاب الاجاره ص:۴۷۰)
سوال﴾
که په ګورم کي غویی مریض سي دمړ کیدو وهم ئی وي که ګوروان غویی حلال کړي اوس پر دا ګوروان ضمان سته که نه ددې څه حکم دی؟
جواب﴾
پر ګوروان باندي ضمان نسته .
اذا مرضت البقرة فخاف البقار علیها الموت فذبها لایضمن .
(فتاویٰ السراجیه کتاب الاجارة ص:۴۷۰
سوال﴾

کـه زيـد دعـمـرو څخـه كلا شينكوف يا چره ئي تپک اجاره کړی دپاره دويشتلو ديوې مياشتي لپاره ددې څه حكم دی؟

جواب﴾

دا اجاره صحيح ده .

ولو استأجر قوساً يرمي به شهراً او سيفاً يتقلده شهراً صح .

(فتاثي البزازيه الجز الثانى كتاب الاجارة ص:۴۸

سوال﴾

که زيد موټر له عمرو څخه اجاره کړي دکوټي څخه تر چمن پوري په پنځه زره روپۍ چي تيل پر ما يعني زما پر ذمه دا اجاره صحيح ده كه نه ددې څه حكم دی؟

جواب﴾

دا اجاره فاسده ده ځکه دا معلومه نه ده چي تر چمنه به موټر څو تيل وخوري او تيل معلوم کړي چي پنځوس ليټره ډيزل درکوم او پنځه زره روپۍ درکوم دا اجاره بيا صحيح ده .

استأجر دابة من خوارزم الىٰ بغداد بكذا علىٰ ان علفها على المستأجر لايجوز قدر العلف ويزيد فى الاجر .

(بزازيه كتاب الاجارة ص:۳٦)

سوال﴾

كـه زيـد مـزدوران پـه روزانـه ونيـول اوس دامـزدوران ځانونه په بل شي مشغولولای سي که نه ددې څه حكم دی ؟

جواب﴾

ما سوا لـه فرض لمانځه او لـه سنتو نـه پـه بل شي ځانونه نه سي مشغولولای .

استأجر رجلا یوماً لیعمل کذا فعلیه ان یعمل ذلک العمل الی تمام المدة والا یشغل بشئ آخر سوی المکتوبة في فتاویٰ اهل سمر قند قال بعض مشائخنا ان لـه ان یؤ دی السنة ایضاً واتفقوا انه لایؤدی نفلاة وعلیه الفتویٰ .

(عالمکیریه جز الرابع کتاب الاجارة ص:۴۱٦)

سوال﴾

کـه زید پـه بـازار کـي سـودا وکړي او دعمرو څخـه کومک وغواړي عمرو کومک ورسره وکړي بیا عمرو دزید څخه طلب داجرة وکړي اوس پر زید باندي حق سته چی ورئی کړي که نسته ددې څه حکم دی؟

جواب﴾

وعادت ته داهل بازار کتل کیږي که عادت داجرة اخیستلو وي بیابه اجر ورکوي او که عادت داجر اخیستلو نه وي بیا به اجر نه ورکوي .

رجل یبیع شیئاً فی السوق فاستعان علیٰ ذلک برجل من اهل السوق فاعانه علیه ثم طلب منه الاجر ة فالعبـرة فی ذلک عادة اهل ذلک السوق فان کانوا یعملون باجر یجب اجر المثل وان کان یعملون بغیر اجر فلایجب الاجر .

(فتاویٰ ولوجیه کتاب الاجارة جلد الثالث ص:۳۴۰)

یادونه: هر څوک چي والو الجیة لیکي غلط دي (ولوجیه) په هرات کي دیوې ولسوالی نوم دی .

سوال﴾
کـه زیـد وعـمـر تـه خپـل دوکان ورکړي چې شراب پکښې خرڅوه یا زید عـمـرو تـه ووائـی چې زه شـراب درسره وړم په دونه روپۍ ددې څه حکم دی؟

جواب﴾
په نزد د امام صاحب دا اجاره مکروه ده او په نزد دیارانو فاسده ده .
واجـارة مسلم بیته لیباع فیه خمراً ونفسه لحملها مکروه عند ابی حنیـفة وفاسد عـندهـما لا الـحـمـل سبب الـمعصیة فکانت معصیة والـعـقـد عـلـی الـمـعـصـیة لایصح وقد لعن النبی ﷺ فی الخمر منهم حـامـلهـا ولـه ان الـعـقـد واقع علی الفعل وانه معلوم فیصح العقد فیه والـمـعـصـیة والـحـرام هـو لـلشرب والبیع وهو منفصل عما وقع علیه الـعـقـد فـلـم یوجد الفساد فیه بل الکراهیة لان اللعن متعلق به لمعنی جـاوره کـالبیـع وقـت الـنـداء والله اعـلـم (فتـاویٰ الملا علی قاری کتاب الاجارۃ جلد الثالث ص:۳۳۷)

سوال﴾
اجـاره کـول دیـوې مـځکي په بله مـځکه سره ددې لپاره چې بل کښت په وکړي ددې څه حکم دی؟

جواب﴾
دا ناروا ده ځکه بیعه دشي په خپل جنس سره راغله .
وامـا استجارة الارض بالارض اخریٰ لیزرعها الآجر یکون بیع الشئ بجنسه نسئة وهو حرام (بحر الرائق الجز السابع ص:۴۳

سوال﴾

که زید عمرو اجاره کړی دولې دکیندلو دپاره یا دپاره دڅاه اوږد والی او دڅا پسور او دڅاه غوچ والی عمرو ته ورښئي که ئی چیري یو ګز وکیندی بیا غر په مخه ورغی اوس به عمرو څه کوي ؟

جواب﴾

که چیري طاقت و دکیندلو او بیا عمرو مجبوره کیږي پر کیندلو او که چیري طاقت نه و دکیندلو بیا دا عذر بلل کیږي او پر زید باندي اجر دهغه سته چي عمرو څومره کیندلی وي .

استأجره لحفر البئر اوالنهر لابد من بیان الطول والعرض والعمق فان حفر ذراعاً فوجده جبلاً ان یطق حضـــره یجبر علی الاتمام والا لالانه عذر ویجب اجرة ماحفر '

(بزازیه جزء الثانی کتاب الاجارة ص:۷۴)

سوال﴾

مینده غوایي والا ته روپی ورکول چي دا غوایی پر غوا را وخیژوه ددې حکم څه دی؟

جواب﴾

دا اجاره ناروا ده او اجر هم نسته ورته .

اجـــارة الفحل لینزیه لایجوز ولا اجرة له فی ذلک (النتف فی الفتاویٰ کتاب الاجارة ص:۳۴۹

سوال﴾

که اجیر مشترک وي غوایي ګوري بیا غوایي جنګ سره وکړي په دا

غـوایـو کـي نـیـمـایـي مـړ ح سـي اوس پـه دا وقت کي پر اجیر مشترک ضمان سته که نه ددې څه حکم دی؟

جواب﴾

هـو کـه پـر اجیـر مشتـرک ضمان سته او که اجیر مشترک نه وه بیا ضمان نسته وربادي .

الاجیـر الـمشتـرک اذا ساق الـدابة فتـنـاطحت ففتلت بعضها بعضاً او وطئی بعضها بعضاً ضمن وان کان اجیر واحد لا .

(فتاویٰ السراجیه کتاب الاجارة ص:۴۷۰)

سوال﴾

کـه زید په بازار کي چوکیدار وي او غله راولاړ سي دوکان ته سوری ورکړي اوس ددې ضمان پر چا دی ددې څه حکم دی؟

جواب﴾

ددې ضمان پر زید نسته .

وفیـه حارس یحرس الحوانیت فی السوق فنقب حانوت رجل فسرق منه شئ لایضمن لان الاموال فی ید اربابها وهو حافظ للابواب .

(خلاصة الفتاویٰ جلد الثالث کتاب الاجارة ص:۱۲۸)

سوال﴾

کـه زیـد دعـمرو څخه مځکه اجاره کړه دمعلوم وخت لپاره په معلوم قدر سره چي دزید مده تیره سوه بیا عمرو مځکه وبکر ته په اجاره ورکړه او دزید کبنت په مځکه کي وي او بکر په زید باندي په زوره کبنت کبنلی سي که نه عمرو پر زید باندي دا ملزومه کړی وي که دی

کبنـت پـاتـه وه بیا به اجر ورکوې او یا بکر او یا عمرو زید ته ووایي چي مونږ به شریکوې ددې حکم څه دی؟

جواب﴾

عـمـرو او بـکـر پـه زیـد بـانـدي کبنـت نـه سي کبنلی خلاف حکم دی درختـو لـره او هـغـه شـی لـره چي ده لره معلومه نهایه نوي یا نهایه ورته وي خـو اوږده وي او نـه زیـد مـجبوره کولی سي پـه ورکړه دیو څه حصې دکبنـت بـانـدي پـه مقابله دکبنت باندي په مقابله داجر کبنـي نو دلتـه به زید اجر مثل ورکوي دمځکي .

اذا مـضت مدة الاجارة وفی الارض زرع لم یدرک لایکلف المستأجر قـلـعة بـل یبـقـیٰ الـزرع الـی الادراک بـاجر مثل خلاف الشجر والرطبة التـي لانهـایة لهـامعـلـومة اولهـا نهایة طویلة فانها تقلع وعلیٰ کل لا یجبر المستأجر الاول علی اعطاء جزء منه فی مقابلة الاجرة .

(فتاویٰ المهدیة جز الخامس کتاب الاجارة ص۴۱)

سوال﴾

کـه زیـد عـمـرو مـوټر ته په زوره ورواچوی او موټر عمرو بل ځای ته یوورې دلتـه کرایه پر زید باندی ده که پر عمرو باندي ؟

جواب﴾

دلتـه کرایه پر زید باندي ده ولي خلک په زوره موټر ته وراچوي .

حـمـل رجلاً کـرهـا الـی الـبـلاد فـعـلـي الحامل کرائوه حتی یرجع الی موضوع حمله (بزازیه جزء الثانی کتاب الاجارة ص:۴۴)

سوال﴾

کـه زیـد مـوټر اجاره کړی دکوټې څخه چې چمن ته ځو موټر بیایو او بیـا دچـمنه سامان راوړو چې موټر ئې بوتلی سامان نه و دی اوس دلتـه زید باندې دموټر کرایه ستـه که نه ددې څه حکم دی؟

جواب﴿

پر زید باندې دموټر دتللو اجر ستـه .

استـأجـر دابة مـن بغداد لیذهب بها الی المداین ویحمل علیها طعاماً من المداین فذهب ولم یجد الطعام یلزم اجر الذهاب .

(بزازیه جزء الثانی کتاب الاجارة ص:٦۴)

سوال﴿

که یوه مسلمانه ښځه دکافر وزوی ته تی ورکړي په اجر سره ددې څه حکم دی؟ .

جواب﴿

دا اجر صحیح دی .

مسـلمة ارضـعـت ولـد الـکـافـر بـالاجـر فلا بأس به لما روی ان علیا رضـی الله عـنه اجر نفسـه من کافر علی ان یستقی له الماء من البئر کل دلو بتمرة .

(فتاویٰ ولوجیه جزء الثالث کتاب الاجارة ص:۳۸٦)

سعوال﴿

کـه زیـد عـمرو پـه اجاره واخلي دپاره دخدمت بیا عمرو مریض سي اوس دلتـه زید اجاره فسخه کولی سي که نه ددې څه حکم دی؟

جواب﴿

هو کې زید دا اجارة فسخه کولی سي .

ولواستأجر عبداً ليخدمه فمرض العبد فللمستأجر ان يفسخ الاجــارة لا ن مرض العبد يوجب نقصانا فی الخدمة (فتاویٰ ولوجيه كتاب الاجارة جزء الثالث ص:۲۸۱

سوال﴾

که یو سړی بل سړي ته کوټه په اجاره ورکړي چي دا کوټه رارنګ کړه او رنګ دمستأجر وي اوس دلته مستأجر مزدوري سته که نسته ددې څه حکم دی؟

استأجر رجلاً ليزخرف له بيتاً بتماثيل والاصباغ من قبل المستأجر فلا اجر له .

(فتاویٰ السراجيه كتاب الاجاره ص:۴٦۷)

سوال که ژرندي والا دژرندي غاړه ورخلاصه کړه او اوړه صائع سوه نو اوس ضمان پر ژرندي والا سته که نسته ؟

جواب﴾

هو کې داوړو ضمان پر ژرندي والا باندي سته .

لو انفتح حلقوم الطاحونة وضاعت الحنطة ضمن الطحان .

(الفتاویٰ السراجيه كتاب الاجار ح ص:۴۷۱)

سوال﴾

اجاره کول دحمام جائز دي که نه او که په حمام کي یو شئ ورک سي دیو چا څخه ددې شي ضمان پر حمام والا باندي سته که نه ددې حکم څه دی؟

جواب﴾

دحمـام اجاره کـول نـاجـائـزه دي او پـه حمام کي که يو شئ ورک سي ددې شي ضمان پر حمام والا باندي نستـه .

اجـارـة الـحـمـام لا تـجـوز ولـو سرق ثوبه فلا صمان علیٰ رب الحمام لانه يعطه اجراً علیٰ حفظ الثوب .

(النتف فی الفتاوی کتاب الاجاره ص:۳۴۸)

سوال﴾

که تيکدار يو کار اجاره کړی بيائی نور مزدوران ونيوله اوس که يو مزدور کار خراب وکی يعني يو تاوان په دا کار کي ورسوي ددې ضمان پر تيکدار دی که پر مزدور ددې څه حکم دی؟

جواب﴾

ددې ضـمـان پـر تيـکدار دی پـه دې شرط سره کـه مزدور قصداً نـه وکړی او يا ئې مخالفت نه وکړی او يا ئې تعدا نه وه کړې .

ولـو كـان الاجير مشترک اجير خاص فهلک علیٰ يد يه شئ فالضمان علی الاستاذ دون الاجير اذا لم يخالف ولم يتعد ولم يتعمد .

(النتف فی الفتاویٰ کتاب الاجاره ص:۳۴۰)

سوال﴾

کـه زيـد مـځـکـه اجاره کـړي دپاره دکښت بيا زيد تاواني سي يا فقير سي کښت ونه کړی په دې سره اجاره فسخه کيږي . که نه؟

جواب﴾

په دې سره اجاره فسخه کيږی دا عذر بلل کيږي .

لـو استـأجر ارضاً للزراعة فعزم ترک الزراعة او افتقر ولا یقدر علیٰ الزراعة فهذاعذر .
(خلاصة الفتاویٰ کتاب الاجارة جلد الثالث ص:۱۴۱)

سوال ﴾

کـه زیـد مـوټـر اجـاره کـړي دکـوټـي څخه تر چمنه چی دچمنه سامان راوړو زیـد مـوټـر والا تـه ووایي چې خالي دهغي دسامان روپی درکوو ددې خـوا دتـلـو روپی دې‌پر ما باندي چي موټر بوزې هغه دچمن سامان نـوی اوس دلتـه پر زید باندي تاوان سته چي موټر والاته ئی ورکړي که نسـتـه ددې څه حکم دی؟

جواب ﴾

که سامان نه وو بیا پر زید باندي اجر نستـه .

ولـو استـأجر قبـانـا لـیـز ن بـه الحمل وکان فی عموده عیب ولا یعلم الـمستـأجر فـوز ن بـه فـانـکسـر ان کـان مثل ذلک الحمل یوز ن بمثل القبان مع العیب لا یضمن الکل .
(خلاصة الفتاویٰ کتاب الاجارة جلد الثالث ص:۱۳۹)

سوال ﴾

کـه زیـد مـځـکه اجاره کړې وي او لیدلي ئی نه وي زید لره خیار سته په وخت دلیدو کي او که زید لره خیار نستـه؟

جواب ﴾

هو کې زید لره خیار سته په وخت دلیدو کي .

ولـو استـأجر ها ولم یرها فله الخیار حین یراهاان شاء رضی بها وان

شاء ردها .
(النتف فی الفتاویٰ کتاب الاجارة ص:۳۴٦)
سوال۷
کـه غـوايـی پـر غـوا وخيـژي دغـوا پښـې ورمـاتـي کړي يـا نور تـاوان ورورسوي ددې ضمان پر غوايي والا سته که نه ؟
جواب﴾
ددې ضمان پر غوايي والا باندي نشته .
لو نزا فحل علی انثیٰ فعطبت لا یضمن البقار .
(سراجیه کتاب الاجاره ص: (۴۷۰)
سوال﴾
کـه زيـد لـه عـمـرو څـخـه درختـي اجاره کړې دپـاره دپرې کيدو زيد درختـي پـرې کړې يعني وئی ريبلې بيا بله مځکه ورته اجاره کي دپاره دوچـولـو ددرختـو هغـه مځکه چي زيد اجاره کړې وي هغې مځکي ته لار پـه بـلـه مځکه کي تيره سوې وي دهغي بلي مځکي والا دی منع کړي دتيـريـدو څـخـه چـي زما په مځکه کي به درختی نه وړې اوس زيد منع کولای سي که نه ددې څه حکم دی؟
جواب﴾
نسي منع کولای او که څه هم دا مځکی والا ته ضرر رسوی .
رجـل اشتـریٰ شجـــرـة وقـطـعهـا واستـأ جر ارضـا لیـضـع فیـهـا لیبـس والارض الـمستـأجرة لها طریق فی ارض اخریٰ فاراد صاحب الاشجار ان یـمـر فـی هـذه الارض بـخشبـه وحمولـته لیـس لصاحب الارض ان یمنعه

وان فیه ضرر لانه محتاج لانه الی الاخراج وذلک یکون بطریق وطریقه هذا (فتاویٰ ولوجیه کتاب الاجاره جلد الثالث ص:۳۸۵)

سوال ﴾

که دوو کسانو په شراکت موټر واخیست بیائی ویوه ته په کرایه ورکړي یعني دمیاشتي په ۳۰۰۰۰ زره آیا په شریعت کي دا جائز دي ؟

جواب ﴾

دا دوه صورته لري یو صورت دادی چي د دواړو دحصې څخه تنخواه ورکوي مثلاً ۳۰۰۰۰ زره روپۍ دي ۱۵۰۰۰دشریکه اخلي ۱۵۰۰۰ دي خپلي اخلي دا صورت نه دی جائز کما فی رد المختار جلد ۳ ص:۳٦۷ قوله وشریک لان عمله یکون فی حصته وحصة شریکه بلا تمیز فلا اجر له کمن استيجر بينهما لایستحق اجر وفی زاد الفقیه ص:۵۱۵ .

دوهم صورة ئی دادی چي زما دحصې مثلاً ۱۵۰۰۰زره روپۍ اخله ستا دحصې دا نسته دا صورت جائز دی کما فی الهندیه ج:٦ص:۳۰۱ ولا یجوز لاحدهما ان یتصرف فی نصیب الاخر الا بامره وکل واحد منهما کالاجنبی فی نصیب صاحبه والله اعلم وعلمه اتم .

اعتراض د امام ابو حنیفهؒ په نزد پر زنا پیسې یعنی اجرت اخیستل حلال دي که نه دی حلال .مااخذته الزانیة ان کان بعقد الاجارة فحلال عند ابی حنیفهؒ تعالیٰ (رد المحتار لابن عابدین ج:۹ ص:۷٦ باب الاجاره الفاسدة)

جواب ﴾

داجارې درې قسمه دي اول اجاره صحیحة دوهم اجاره فاسدة دریم

اجاره باطله اجاره صحیحة هغه ده چي اصل کار دکم چي اجرت جائز ئي او هیڅ ناجائزشي مثلاً شرط وغیره نه وي لګیدلی پکي .اجاره فاسده هغه ده چي اصل کار جائز وي مګر دیوه شرط په وجه ناجائز شي هغه شرط که فی نفسه امر مبا ح وي او که حرام وي مثلاً دیو مکان لپاره یو چوکیدار ودروي او ورسره دا شرط هم ولګوي چي کله اشپزي هم کوه یا په فلاني شي سات هم تیروه نو اوس به په پورتني مثال کي اصل کار چي دمکان حفاظت دی جائز لاکن دشرط له وجهی ناجائز سو .اوس ددې اجارې حکم دا دی چي اجاره دي ختمه سي که بیا هم نه سي ختمه دا اجاره نو بیا دلته اجر معین نه ور کول کیږي بلکه اجر مثل ورکول کیږي او اجاره باطله اصل کار ناجائز وي او حکم ئی دادی چي اجرت ورکول هم ناجائز او اجرت اخیستل هم ناجائز اوس راځو اصل مسئلې ته .

(اصل مسئلة)

یو نفر یوه ښځه په اجرت (یعنی) مزدوري باندي دکار یا یا خذمت لپاره ودرول او ورسره ئی دا شرط هم ولکوی چي وروسته تر کار یا خدمت به بدکاري (یعنـي)زنا هم راسره کوې اوس خو دا اجاره فاسده سوه دلته اوس درې خبري قابل دغور دي اول اصل مسئله صحیحة ده فاسده ده او که باطله ده دویم که ئی عمل په شرط ونه کړي نو اوس به داصل کار چي خدمت دی اجرت ورکول کیږي که نه ؟دریم که ئی په شرط عمل وکړی اوس به داصل کار چي خدمت دی اجرت ورکول کیږي که نه؟د درو سره حکم دادی چي اول دا معامله خو فاسده سوه

وللمعير ان يرجع في العارية متىٰ شاء لقوله عليه السلام :المنحة مردودة والعاية مؤداةٌ (هداية ج:٣ص:٢٧٧ .

یعني هغه حیوان چي دشیدو لپاره ئی چاته ورکړي وي چي موږ (لوغزه) ورته وایو دا واپس کیدلای سي دخپل مالک وطر فته دمالک په غوښتنه .

سوال﴾

عاریه شی که له چا څخه هلاک شي ضمان ئی سته که نه سته؟

جواب﴾

والعارية امانة ان هلكت من غير تعد لم يضمن

(هداية ج:٣ ص:٢٧٧ .

یعنی لکه چي امانت ضمان نه لري عاریه هم ضمان نه لري که بغیر قصد هلاک سي او په صورت داستهلاک کی ضمان لري .

سوال﴾

په عاریه کښي وخت معلومول ضروري دي که نه؟

جواب﴾

الشروط في العاريه لازمة الا شرطان

١: الاجل فان الاجل لا يثبت في العاريه وللمعيران يعود متىٰ شاء .

٢: والثاني اشتراط الضمان من غير تعدىً فان العارية امانة ولا تضمن الا في حالتين :

١: المجاوزة عن المكان المعلوم

٢: والمنع عند الطلب .

يعنى وخت پکښې ضروري نه دي هر وخت مالک خپل شیء طلب کولای سي .

او ضمان نه لري مګر که دیو ځای له پاره ئې شیء درکړې بل ځای ته بی نه وړې که دي یووړی بیا هلاک سو ضمان ئی نسته .

او که مالک وغوښتی تا منع وکړه بیا هلاک سو هم ضمان لري (خزانة الفقه ص:٢٠٥)

سوال﴾

دعارئې مهم الفاظ راته ترجمه کړئ چي دفقهی په اصطلا ح خبر سو .

جواب﴾

١:مستعير

٢:مستعار

٣:معير

۴:عاريه

جواب﴾

١:عاريه له یو چا شئ په خواست غوښتلو ته وائي .

٢:معير له چا څخه چي ئی غواړی مالک دشي ته معير وائي

٣:مستعار،هغه شي ته وائي چي غوښتل سوی وي

۴: مستعير کوم څوک چي غوښتنه کوي هغه دی .

سوال﴾

عبدالله وعبدالرحيم ته موټر په اعاره ورکړ عبدالرحيم ته دا جائز دي چي وعبدالرحمٰن ته ئي ورکړي ؟

جواب ﴿

وانما لاتجوز فيما يختلف باختلاف المستعمل دفعاً لمزيد ضرر عن المعير لانه رضي باستعماله لاباستعمال غيره (هداية ج:٣ ص:٢٧٨ .

مسئله مختلف فيه ده خلاصه داده وعبدالرحمٰن ته به ئي نه ورکوي که ورکول سو ضمان لازميږي .

سوال ﴿

حاجي ابراهيم آغا او خليل احمد سره په شريکه يو تهوډي موټر واخيستي اوس ابراهيم ناخبره دي خليل موټر وعارف ته اعارتاً ورکړی عارف خراب کړی اوس موټر لس زره روپۍ خرچه وخوړه خليل وابراهيم ته وائي نيمائی خرچه به ته راکوې ابراهيم ورته وائي تا زما بې اجازې موټر عارف ته ورکړ دی خرچه دي عارف درکړي اوس ابراهيم حق دخرچې لري که نه ؟ سره له دې چي موټر دخليل ورکړ دی .

(محمد ابراهيم پشين منزکی بازار)

جواب ﴿

حصة احد الشريكين فى حكم الوديعة فى يد آخر فاذا اودع احدهما مال مشترک عندآخر بدون اذن فتلف كان ضامناً حصة شريكه وكذا لو اعار او اجر او رهن .

شرح مجلة ص: ٦٠٨ المادة ١٠٨٧ .

له پورتني عبارت څخه معلومه سوه چي يعنى محمد ابراهيم دضمان

حق لري دا مسئله په تولو بابو داعارې او هبې او رهن او اجر کې هم داشان ده .

سوال﴾

برهان الدين وکشمير خان ته يو سراى په اعاره ورکړي دى پنځه کاله وروسته برهان الدين مړ سو اوس دمرحوم زوى صلا ح الدين وکشمير خان ته وايي زموږ سراى راخالي کړه اوس پوښتنه داده چې صلا ح الدين دا حق لري چې دکشمير خان څخه سراى خالي کړي اوس شريعت څه فرمائي ؟

(کشمير خان کچلاک کلی ملک جمعه خان اکاخيل)

جواب﴾

قال العلامة خالد الاتاسي رحمة الله تعالي عليه تنفسخ الاعارة بموت المعير اوالمستعير .

(مجلة الاحكام المادة ٨٠٧ ص: ٤٤٨) وهكذا فى القاضي خان ج:٣ص:٨٢ واذا مات المستعير او المعير تبطل الاعارة كما تبطل الاجارة بموت احد المتعاقدين .

له مذكور عبارة څخه معلومه سوه چې صلا ح الدين ته دا حق سته چې له کشمير څخه سراى واخلي ولى کله چې برهان الدين مړسو اوس هغه اعاره پاى ته ورسېده او سراى په ميراث وصلا ح الدين ته پاته سوى دى .

سوال﴾

په کلي کې زموږ څه مځکه وه موږ يو چاته په اعاره داسې ورکړه چې ته ځاى پر جوړ کړه که کله زموږ په کار سوه ته به خپله ملبه پورته کوې موږ ته به زموږ مځکه راخلاصوې .

اوس لس کاله بعد هغه سړی وائي چي زه مځکه در خلاصوم مګر زما دتعمیر خرچه به راکوئ اوس مستعیر دخرچې حق لري که نه؟ څه فرمائي شریعت

(المستفتي بسم الله عبدالله خان قلعه)

جواب

واذا استعار ارضاً ليبني فيها او ليغرس جاز وللمعير ان يرجع فيها ويكلفه قلع البناء والغرس

(هداية ج:۳ض:۲۸۱

دا مسئله ډیر اړخونه لري خلاصه داده چي معیر حق لري چي رجوع وکړي

البته که معیر ومستعیر ته وخت داعارې مثلاً پنځه کاله ورکړي وو اوس دوه کاله تیر سوي دي هغه معاد نه وي پوره نو مستعیر چي خرچه کوله په هغه وخت کي ئی دا خبره ملحوضه وه چي زما بناء مثلاً پنځوس زره قیمت لري نفع مي پنځه کاله ده نو په دا راضي دی مګر که مستعیر ته دا معلومه سوه چي ما دوه کاله بعد باسي بیا په بنا جوړلو نه دی راضي . لهذا که تر مقرره وخت مخ کي ئی مطالبه وکړه بیا مستعیر دضمان حق لري 'او که دمقرره وخت بعد ئی مطالبه وکړه بیا دضمان حق نه لري خپله آبادي به پورته کړي او یا پخپله به دمعیر سره دآبادۍ مسئله شریکه کړي که معیر په خپل اختیار دآبادۍ په مقابل کښي څه رقم ورکوي صحیح ده مګر مجبور نه دی چي خامخا ئی ورکړي .

که چیري دبنا په نړیدو مځکي ته تاوان رسیدی بیا به معیر

ومستعیر ته ضمان ورکوي هغه بنا به نه نړوي ولي معیر اصل دی او مستعیر دبنا مالک فرع دی یعني تبع نو ترجیح واصل ته ورکول کیږي البته که مزید وضاحت غواړي نو دفقهی مشهور کتاب هدایة ص:ج:۳ص:۲۸۱ ته مراجعه وکړئ .

سید حضرت شاه و لطف الله ته دړې جریبه مځکه دکښت لپاره په اعاره ورکړه .لطف الله مځکه ماته کړه تریکتر ئی پر وچلاوه کښت ئی وکارئ یوه میاشت بعد حضرت شاه ولطف الله ته وویل چي زما مځکه په کار ده مځکه راخلاصه کړه لطف الله ورته وویل چي لږ وخت راکه چي زما کښت پوخ سي ما خرچه کړې ده اوس حضرت شاه داحق لري چي په نیمائي وخت کي دکښت تر پخیدلو مخ کي مځکه طلب کړي ؟ (المستفتي لطف الله پشین کربلا)

جواب

ولو استعارها ليزرعها لم يؤخذ منه حتىٰ يحصد الزرع وقّت او لم يوقّت لان له نهاية معلومة فى الترک بالاجر مثل مراعات الحقين (هداية ج:۳ ص:۲۸۰

له مذکوره عبارت څخه دا معلومه سوه چي معیر تر پخیدو دکښت مخ کي حق درجوع نه لري البته که ئی رجوع کوله په اجر مثل به ئی کوي ترڅو دمعیر او مستعیر دواړو حقوق محفوظ سي .

سوال:خیر الدین وبلبل اکا ته سرای ورکړی کله چي میاشت تیره سوه خیرالدین کرایه طلب کړه بلبل اکا ورته وائي کرایه نه درکوم تا سرای وماته په اعاره راکړی دی اوس دچا خبره صحیح ده؟ (سائل بلبل اکا کلي صاحبزاده بروري کوټه .)

جواب ﴾ ولذا قال اعرتني دابتک وهلکت وقال اجرتک غصبته مني فلا ضمان عليه ان لم يکن رکبها الخ . (هنديه ج:۴ص:۳۷۲)
وقال العلامه خير الدين رملي:
وان قال اعرتني وقال مالک اجرتکها وهلکت من رکوبه فالقول قول الراکب ولا ضمان عليه .
حاصل دکلام دادی که چيري خير الدين شاهدان تير کړل داجارې پر ثبوت بيا اجاره ده که ئې شاهدان نه کړل تير بيا اعاره ده تيره مياشت کرايه نسته دراتلونکي مياشتي لپاره به له سره عقد نوی کوي يا داجارې يا دکرائې والسلام .
سوال)
عنايت الله داتو (۸) کالو ماشوم دی زما بل بچی نجيب الله د۱۰ کلو په عمر دی زه کور نه وم عبدالله راغلی دی زما دمذکورو ماشومانو څخه ئې موټر سائيکل غوښتی دی ماشومانو موټر سائيکل ورکړی دی عبدالله موټر سائيکل بيولی دی بيا ئې انجن وهلې ده پر انجن جوړيدو باندې ۷۰۰۰ زره روپۍ خرچه راځي اوس دا مسئله راته وليکئ چې عبدالله به تاوان دموټر سائيکل راکوي او که دعاريې په وجه معاف دی ؟
(المستفتي: ابو الغياث شرافت اکاخيل)
جواب ﴾
ولا يملکه التبرع کالوصي والصبي (ردالمحتار ج:۲ ص:۱۷ .
له مذکوره عباراتو څخه دا معلومه سوه چي عبدالله له ماشومانو څخه عاريه نسي غوښتلای او تاوان پر عبدالله لازم دی .

سوال﴾
ملا کریم الله شهید سو نا بالغه ماشومان ئی پاته دي دکریم الله مال چي پاته سوي دي دده دمور او پلار دحصې ماوراء دمور او پلار په اجازه دکریم الله د ماشومانو مال وبل چاته په اعاره ورکول روادي که ناروا سره له دې چي دشهید ماسؤمان دشهید دپلار په کفالت کي دي؟ (المستفتي ملا عزیز الله بروری کوټه)

جواب﴾
لیس للاب اعـــارة مال طفله لعدم البدل كالقاضي والوصي (شرح المجلة لسليم رستم باز ص:۴٦۱ المادة ۸۳۲)
له مذکوره عباراتو څخه دا معلومه سوه چي اب دخپل اولاد صغیر مال بل چاته په اعاره نه سي ورکولای .
نو دلمسي مال چي هغه یتیم وي په طریقه اولي نه سي ورکولای کما تریٰ .

سوال﴾
رفیع الدین دیرش جریبه مځکه درلوده په خپل ژوند کی ئی لس لس جریبه وخپلو زامنو ۱: قمر الدین ۲:شمس الدین ۳: نجم الدین ۴:ته ورکړه کال بعد درفیع الدین څلرم زوی بهاء الدین پیدا سو بهاء الدین راغئ سو دویش په محال ئې خپله حصه طلب کړه مګر مشرانو ورته وویل چي ته له مور سره حق نه لرې خبره رفیع الدین ته ورسېده اوس رفیع الدین ټول زامن راوغوښته او دائی ورته وویل چي اول ما تاسو ته لس لس جریبه مځکه درکړې وه خو اوس زه دا مځکه بیرته له تاسو څخه اخلم تر څو چي ئی پر څلورو زامنو برابره تقسیم کړم .

اوس پـوښتـنـه داده چې رفيـع الدين دا حق لري چې تقسيم سوې مځكه بيرته راوګرځوي كه نه ؟
(المستفتي نجم الدين قندهار بولدک كدنی)

جواب﴾

رفيـع الـديـن چې دامځكه وخپلو زامنو ته وركړې وه دا به يا ويش وي پـه خپـل ژونـد كـي بـه ئـی زامـنـو ته وركړې وي او يا به ئی عاريةً وركړې وي نه تقسيم .

كه ويش وي بيا رفيـع الدين حق درجوع نه لري ددې قول پر بناء :

قـال الـعلامة المرغناني رحمة الله عليه .وان وهب لذی رحم محرم منه لم يرجع فيها لقوله عليه السلام :

اذا كانت الهبة لذی رحم محرم لم يرجع فيها، (هداية ج:۳ص:۲۹۰)

او كـه رفيـع الـديـن هبـه نه وي كړې دعاريت په رقم ئی وركړې وي بيـا ئـې رجـوع صـحيح ده لكه چه فرمائي :لاتتم بالقبض فيما يقسم ولو هبه لشريكه ولو سلمه شائعاً لا يملكه

(الدر المختار ج:۴ ص:۵۷۰ .

لاكن داثبات لپاره شاهدان ضروري

سوال﴾

حـاجي سور ګـل لـه خپـل كلی مهاجر سو خپله مځكه ئی و حافظ رشيـد تـه عـاريتاً وركړه .حافظ صاحب په مځكه چناران ولګول دوه كـالـه بـعد سور ګـل بيـرتـه خپـل كـلي ته راغلی دده پر مځكه حافظ

صاحب ۱۰۰۰ چناران لګولي وو سور ګل ورته وائي خپل چناران وکاږه زه اوس خپل شی په کرم حافظ ورته وائي چي يو کال راته ودرېږه چي زما چناران لږ پنډ سي غټ سي سور ګل نه ورته درېږي اوس دجانبينو فيصله دشرعي له نظره واضح کړئ
(المستفتي حاجي شيرين ګل پکتيا مندو زائی)

جواب﴾

استعارة الاراضی لغرس الاشجار والبناء عليها صحيحة ولكن للمعيران يرجع عن الاعارة متیٰ شاء فاذا رجع لزم على المستعير قلع الشجار ورفع البناء .
(شرح المجلة لسليم رستم باز ص:۴۶۰ المادة ۸۳۱ .
له مذکوره عباراتو څخه دا معلومه سوه چي حافظ صاحب به خپل چناران کاږي او ځمکه به سور ګل ته ورخلاصوي البته که په خپل مابين کي مصالحه پر يو شق وکړي هم به ناروا نه وي .

سوال،

دانور شاه ځمکه لوړه ده داختر شاه مځکه کښته ده انور چي کله خپله مځکه اوبوي لږ اوبه داختر شا مځکي ته ځي نو انور شا واختر شا ته وويل چي ستا ځمکي ته زما اوبه يو ګز قدر در بهيږي لهذا زه به ستا په طرف کي ولي کښېږدم چي زما اوبه نه ضايع کيږي اختر شاه اجازه ورکړه انور شاه چي ولي ولګولې غټي سوې اوس اختر شاه انکار وکړ او وائي زمکه زما ده ولي هم زما دي انور شاه ورته وائي مځکه ستا ده ولي ما لګولي دي زما دي اوس حق دولو دچا دی مهرباني وکړئ دشريعت له نکاه

خبر راکړئ (عبدالله هلمند)

جواب﴾

وحكمها ملک المنفعة للمستعير بغير عوض (فتاویٰ عالمگیرية ج:۴ص:۳۶۳)

له مذکوره عباراتو څخه دا معلومه سوه چي که چیري دا خبره ښکاره سي چي اعاره او استعاره ومنل سي نو ټولي ولي دانور شاه دي اختر شاه هیڅ حق نه لري دولو البته څمکه داختر شاه ده .

سوال﴾

نوید او جمشید سره ورونه دي دهر یوه جلا کور دی حساب کتاب ئی جلا جلا دی نوید له جمشید څخه یوه رکشه دکار لپاره بیولې ده او یو څه نور دزراعت سامان دی دوړلو په وخت کي دنوید او جمشید په مابین کي هیڅ خبره نه ده سوې چي دا سامان په عاریه دی او که هبه دی سامان دنوید سره پروت دی جمشید مړ سو اوس پوښتنه داده چي داسامان اوس هبه ده که عاریه او که عاریه بلل کیږي اوس دمالک تر مرګ وروسته دهغې مخکني اجازې په وجه نوید دا شان استعمالولای سي که نه ؟ او دا سامان کي یو څه شیان له نوید څخه مات سوي هم دي څه دجمشید په ژوند کي او څه له مرګه بعد .دماتو شیانو ضمان سته او که نه دشریعت محمدی څه حکم دی ددې درې سوالو په حق کښي؟ (المستفتي بشیر احمد ولد جمشید AIPپمپ لورالائی)

جواب﴾

لان اعطاء يحتمل الهبة لكن الوديعة ادنىٰ وهو متيقن .(ردالمحتار

مع الدر كتاب ايداع ج:۴ص:۵۵۰)
ستا سو سوال درې برخي لري دهري برخي جواب عليٰحده در ته تحرير كوو .ان شاء الله اطمينان به مو په وشي .
۱: دا پوښتنه چي دا سامان چي نويد وړى دى دا هبه ده كه عاريه ده جواب په مخكني الفاظو ښكاره دى چي دا دهبې احتمال لري خو موږ پر يقين خبره حمل كوو چي دا عاريه دي نه هبه
دوهم كله چي دا عاريه ثابت سو نو عاريه خو دمعير او يا مستعير په مرګ پاى ته رسيږي لهذا نويد دي سامان دجمشيد بچيانو ته حواله كړي
اذا مات المعير اوالمستعير تبطل العاريه' (ردالمحتار ج:۴ص:۵٦۵)
دريم كوم سامان چي دمعير تر مرګ وروسته مات سؤي دي ددا سامان ضمان لازم سو ولي چي د استعارې تر بطلان وروسته ددې سامان حكم دغصب سو نو دغصب په تلف سره ضمان لازميږي .ولو كه تر مرګ مخكي قاعده خو داوى چي :ولا تضمن بالهلاک من غير تعد (ردالمحتار ج:۴ص ۵٦۱)
سوال ﴾
زما او دحاجي عبدالله خان كور سره متصل دى ديوال مو په مابين كي سته او ديوال زما دى ما وحاجي عبدالله خان ته عاريه اجاره وركړې وه چي ده زما پر ديوال دخپلو خونو تيران ايښي وه اوس ما سراى پر حاجي محمد خرڅ كړى دى مشترى وائى چي زما دديوال څخه دي حاجى عبدالله خپل تران ليري كړي اوس حاجي عبدالله خان ته ډير ضرر دى او هم ئى مالي او جانى تاوان دى اوس پوښتنه داده چي زما مشترى حاجي محمد دا

حق لري چي دا لرګي ور ایسته کړي او که نه ؟
المستفتي عبدالواسع آخندزاده کچلاک .
جواب﴾
نعم رجل استأذن جارا له فی وضع جذوع له علیٰ حائط الجار او فی حفر سرداب تحت داره فاذن له فی ذالک ففعل ثم ان الجار باع داره فطلب المشری رفع الجذوع والسرداب کان له ذالک الا اذا) اشرط فی البیع ذالک فحینئذ لایکون للمشتری ذلک .تنفیح الحامدية ج:۲ص:۸۸.
له مذکوره عبارت څخه دا معلومه سوه چي مشتري دا حق لري چي لرګي لیري کړي البته که بائع اول داشرط لګولی وو چي دا لرګي به نه لیري کوي او ده خبره منلې وه اوس بیا حق نه لري .
سوال﴾
مذکوره مسئلې ته نیږدې بله مسئله داده چي که دسرای مالک مړسو دمړي وارثان دا حق لري چي دا لرګی لیري کړي ؟
جواب﴾
وکذا لو مات فلورثة رفع البناء عن ملکهم وان اذن له مورثهم فتاویٰ تنقیح الحامدیة: ۲ ص:۸۸

له مذکوره عبارت څخه دا معلومه سوه چي وارث دا حق لري چي دا لرګي لیري کړي که څه هم دمړي په اجازه سره ایښول سوي وي .ولي اوس حق دوارث راغلی دمړی حق زائل سو .والتفصیل فی تنقیح الحامدية .

سوال﴾
بدرالدين ونجيب الله ته موټر په اعاره ورکړ نجيب الله موټر لوډ کړی درې ټنه مال ئی ورواچاوی او موټر دوه ټنه مال وړای سوای اوس موټر انجن هم خرابه کړه او کمانی ئی هم ماتي کړې اوس پر نجيب الله ضمان سته او که نه؟
جواب﴾
نعم استعارها ليحمل عليها عشر مخاتيم حنطته فحملها خمسة عشر مختوماً فهكت فان علم ان هذه الدابة لا تطيق حمل هذه القدر ضمن كل قيمتها لان هذا استهلاک (تنقيح الحامدية ج:۲ص:۸۹
له مذکوره عبارت څخه دا معلومه سوه چي که نجيب الله خبر وو چي دا موټر درې ټنه بار نه سي وړلای بيا ئی هم ورواچاوه پر نجيب الله ضمان سته او که دده علم وو چي دا مال وړای سي نو به دثلث ضمان ورکوي
سوال﴾
څه حکم دی دعاريه په شريعت کي
جواب﴾
حکم ئی جواز دی (تسهيل ص:۲٦۰)
سوال﴾
آيا په عاريه کي ايجاب او قبول سته او که نه؟
جواب﴾
باسم ملهم الصواب نعم لزمه لها الايجاب والقبول لان هی تکميل المنافع والتمليک لزمه ايجاب والقبول (درالمختار ج:۳ص:۲۱۱)شرح

المجلة جلد ۳ ص:۳۱۱

سوال﴾

هل يجوز الاعارة الدراهم والدنانير والمكيل والموزون ؟

الجواب﴾

باسم ملهم الصواب نعم يجوز هو جائز ويكون قرضاً وان سمياه عارية ضرورة استهلاک عينها فيضمن المستعير بهلاكها قبل الانتفاع لانه قرض . (در مختار ج:۲ ص:۱۵٦ تسهيل ص:۲٦۰ .

سوال استعار دابة فردها الىٰ اسطبل مالكها فهلكت ما حكم الضمان ؟

الجواب﴾

وبه نستعين لايضمن لانه اتى بالتسليم المتعارف وكذلک الحكم ان استعار عبدا استحساناً (كتاب الاختيار ج:۳ ص:۷۱ در مختار ج:۲ ص:۱۵٦ تسهيل ص:۲٦۱

سوال﴾

ومن يتحمل اجرة رد العارية ومؤنة الرد ؟

جواب﴾

الجواب وبالله توفيق يتحملها المستعير كما ان اجرة رد العين المغضوبة يتحملها الغاصب واما اجرة رد العين المستاجرة فهى علىٰ من اجرها وكذا الموصيٰ له بالخدمة والمرتهن مؤنة الرد عليهم لحصول المنفعة لهم والله اعلم بالصواب .در المختار ص:۲۵۷ ج:۲ تسهيل ص:۲٦۱ شرح المجلة ج:۳ ص: ۳۱۵ .

سوال﴾

ان رد الـمسـتـعيـر الـدابة مـع عـبـده او اجره مشاهرة فهلكت قبل قبضها ضمنها اولاً .

الجواب﴾

باسم ملهم الصواب ان رد المستعير الدابة مع عبده او اجيره مشاهرة او مـع عـبـدربهـا مـطـلـقـاً يـقـوم عـليها او لا فی الاصح او جبره مشاهرة كما مر فهـلـكـت قـبـل قـبـضـهـا بـرئ لانـه اتـیٰ بـالتسليم المتقارن بخلاف نفيس كـجواهـــرة لانها لم تكن فی ايديهم فتكون تعدی فيضمن (درالمختار ج:٢ ص:١٧٧) شرح المجله ج:٢ ص:٣١٦

سوال﴾

هل يملک عبدالماذون الاعاره او لا بينو وتؤجروا .

الجواب﴾

وبـالله الـتـوفـيـق نعم العبد الماذون يملک الاعارة والمحجور اذا استعار واسـتـكـلـهـا يـضـمـن بعد العتق ولو اعـــارة عبدالمحجور عبدالمحجور ا مثله فاستهلكها ضمن الثانی (درالمحتار ص:٥٧ ج:٢ شرح المجلة ج:٢ ص:٣١٨ .

سوال ﴾

ولو استعارة ذهَباً فقل صبياً فسرق من الصبی هل يضمن ام لا؟ (بينوا تؤجروا .

الجواب﴾

ولـو اسـتـعارة ذهباً فقل صبيا فسرق الذهب منه ای من الصبی فان كان الـصبی يـضـبـط مـا عـلـيـه مـن الـلـبـاس لـم يضمن والا ضمن لانـه اعـــارة

والمستعیر یملکها (درالمختار ج:۳ ص:۱۵۷ شرح المجلة ص:۲۱۹ ج:۳

سوال﴾

لو وضعها المستعیر العاریة بین یدیه فنام فضاعت هل یضمن ام لا؟ بینوا تؤجروا

الجواب﴾

وبالله التوفیق وضعها المستعیر العاریة بین یدیه فنام فضاعت لم یضمن لو نام جالساً لانه لا یعد مضیعاً لها وضمن لو نام مضطجعاً لترکه الحفظ (شامی ج:۵ص:۶۸۴ درمختار ج:۲ ص:۱۵۷)

سوال﴾

لو طلب شخص من رجل ثورا عاریة فقال اعطیک غدا فلما کان الغد فلما کان الغد ذهب الطالب واخذه بغیر اذنه واستعمله فمات الثور هل یضمن ام لا؟

جواب﴾

نعم طلب شخص من رجل ثورا عاریة فقال اعطیک بندا فلما کان الغد ذهب الطالب واخذه بغیر اذنه واستعمله فمات لاثور لا یضمن علیه .خانیه عن ابراهیم .

و لکن فی المجتبیٰ وغیره یضمن ووجه الضمان انه وعدو لایجب الوفا به ووجه علمه انه بتعین وقت الاعطاء یکون اذنا بالاعطاء فیه .شامی ص:۶۸۶ .

سوال﴾

ان جهز ابنته الکبیرة بما یجهز مثلها ثم قال کنت اعرتها الا متعة ان العرف مستمرا بین الناس هل یقبل ام لا؟

الجواب﴾

وبالله التوفيق جهز ابنته الكبيرة بما يجهز مثلها ثم قال اعارتها الا متعة ان العرف مستمراً بين الناس ان الاب يدفع ذلك الجهاز ملكا لااعارة لا يقبل قوله انه اعارة الا الظاهر يكذبه وان لم يكن العرف كذلک او تارة وتارة فالقول له به يفتىٰ كما لو كان اكثر مما يجهز به مثلها فان القول له اتفاقاً (در المختار ج:۲ص:۱۵۷ .شامی ج:۵ص:۶۸۸ .

سوال﴾

اذا ادعیٰ امين ايصال الامانة الى مستحقها هل قبول قوله ام لا؟ بينوا تؤجروا .

الجواب﴾

باسم ملهم الصواب كل امين ادعیٰ ايصال الامانة الیٰ مستحقها قبل قوله بيمينه كالمودع اذا ادعیٰ الرد ولواكيل بالبيع اذا ادعیٰ هلاک المبيع مثلاً اذا ادعیٰ هلک الامانة او تسليمها الیٰ ربها كان القول قول مع اليمين (در المختار ج:۲ ص:۱۵۷ شامی ج:۵ ص:۶۸۹ .

سوال﴾

هل يشترط ان يكون الشئ مستعار صالحاً للانتفاع اولا ماحكمه؟

الجواب

باسم ملهم الصواب يشترط ان يكون الشئ المستعار صالحاً للانتفاع به بناء عليه لا تصح اعارة الحيوان الناد الفار ولا استعارته لان العارية تمليک المنافع مجاناً ولا منفعة اصلاً للحيوان المذكور فلومسک المستعير بعد ذلک الحيوان الناد ليس له ان ينتفع به ولو فعل

فهلک یضمن لعدم صحة العارية (شر ح المجلة ج:۳ص:۳۱۷ هندية .

سوال﴾

رجل استعار من اخر دابة غدا الى الليل فاجابه بنعم ثم استعار اخر غد الى الليل فاجابه بنعم من ايهم تكون .

الجواب﴾

باسم ملهم الصواب رجل استعار من اخر دابة غداً الى الليل فاجابه بنعم ثم استعار آخر غدا الى الليل فاجابه بنعم تكون للباق منها وان استعار معا فهى لهما جميعاً (تاتار خانية ج:۱٦ص:۷۱هنديه)

سوال﴾

رجل استعار من آخر دابة علىٰ ان يذهب بها حيث شاء ولم يسم مكاناً ولا وقتاً ولا ما يحمل عليها ولا ما لا يعملبها هل يجز ام لا؟

جواب﴾

رجل استعار من اخر دابة علىٰ ان يذهب بها حيث شاء ولم يسم مكاناً ولا وقتاً ولا ما يحمل عليها ولا مالا يعمل بها فذهب بها المستعير الى الحيرة او امسكها بالكوفة شهراً فحمل عليها فعبطت الدابة لا يضمن فى شيء من ذلک لاطلاق الا عارة . (فتویٰ تاتارخانيه ج:۱٦ ص:۷۵)

سوال

هل يشترط القبض فى العارية ام لا؟

جواب﴾

القبض شرط فى العارية فلا حكم لها قبل القبض لانها من التبرعات ،والتبرع لا يتم الا بالقبض كما مر فى المادة ۵۷ شر ح المجلة ج:۳

ص:۳۱۸ .

سوال﴾

هل يلزم تعين المستعار وبناء عليه اذا اعار شخص احدى دابتين بدون تعين هل تصح الاعارة ام لا؟

جواب﴾

باسم ملهم الصواب يلزم تعين المستعار وبناء عليه اذا اعار شخص احدى من دابتين بدون تعين ولا تخيير لا تصح الاعارة بل يلزم ان يعين المعير منها الدابة التى اعارتها ولكن اذا قال المعير للمستعير خذايهما شئت عارية وخيره صحت العارية شرح المجلة ج:۳ ص:۲۱۹ تاتار خانيه .

سوال﴾

هل يلزم نفقة المستعار على المستعير اولا بينوا .

جواب﴾

نفقة المستعار على المستعير بناء عليه لو ترك المستعير الدابة المعارة بدون علف فهلكت ضمن وكذا لو هزلت من تركها بلا علف يكفيها يضمن نقصانها كما هو ظاهر شرح المجلة ج:۳ ص:۲۲۲، هندية .

سوال﴾

اذا طلب شخص من امرأة اعارة هو ملك زوجها فاعارة اياه بلا اذن الزوج فضاع هل يجب الضمن او لا واذا وجب علىٰ من يجب اى على المرأة اوالمستعير .

جواب﴾

باسم ملهم الصواب اذا طلب شخص من امرأة اعارة شىء هو ملك زوجها فان عارتها اياه بلا اذن الزوج فضاع فان كان ذلک الشىء مما هو داخل البيت وفى يد الزوجة عادة لايضمن المستعير ولا الزوجة ايضاً وان لم يكن ذلک الشىء من الاشياء التى تكون فى يد النساء عادة كالفرس و لزوج مخير ان شاء ضمنه لزوجته وان شاء ضمنه للمستعير ضمن فلا رجوع له على الاخر شرح المجلة ج:٣ ص:٣٣٣ كذا فى الهنديه وجامع الفصول والبحر ومجمع الانهر .

سوال﴾

اذا استعير شىء للاستعمال فى عمل مخصوص فمتىٰ انتهىٰ ذالک العمل هل يجوز له استعماله بعمل اخر اذا هلكت ضمن او لا؟

جواب﴾

باسم ملهم الصواب اذا استعير شىء للاستعمال فى عمل مخصوص فمتى انتهىٰ ذلک العمل بقيت العارية فى يد المستعير امانة كالوديعة وحينئذ ليس له ان يستعملها ولا ان يمسكها زيادة عن المعتاد واذا استعملها وامسكها فهلكت ضمن (شرح المجلة ج:٣ص:٣٣٩) هنديه شامى .

سوال﴾

اذا كان علىٰ دابة باجارة او عارية فنزل عنها فى السكة ودخل المسجد ليصلى فخلى عنها فهلكت هل يضمن اولا بينوا تؤجروا .

جواب﴾

باسم ملهم الصواب اذا كان على دابة باجارة او باعارة فنزل عنها فى

السـكة و دخـل الـمسـجد لـيـصـلـي فخلى عنها فهلكت قال هو ضامن لها وكـذلـك اذا ادخـل الـحـمـل فـى بيتـه وخـلـى عنها فى السـكة فهلكت فهو ضامن لها من مشائخنا من قال هذا اذا لم يربطها بشيء اما اذا اربطها لايـضـمـن ومـنهم من قال يضمن على كل حال واطلاق محمد فى الكتاب يـدل عـلـيـه والـيـه مـال شـمـس الائـمه السرخسى .فتاویٰ تاتارخانيه ج:١٦ ص:٨٠ .هنديه شامي .

سوال﴾

ولـو كـان يـصلى فى الصحراء فنزل عن دابة وامسكها فانفلت منه هل يضمن ام لا؟

جواب﴾

ولـو كـان يـصلى فى الصحراء فنزل عن دابة وامسكها فانفلت منه فلا ضمان عليه .فتاویٰ تاتارخانيه ج:١٦ ص:٨١ هنديه

سوال﴾

اذا استـعـار دابة الـى الـمقابر ليشيع الجنازة فركبها ثم رجع فرفعها الى انسان ليصلى فسرقت هل يضمن او لا ماحكمه؟

جواب ﴾

حـامـداً ومصلياً وفى المنتقى عن ابن سماعة عن محمد استعار دابة او استأجرها الى الـمـقـابر لشيـع جنازة فركبها ثم رجع فدفعها الى انسان ليـصـلـى فسرقت فلا ضمان على المستعير ولا على المستاجر وصار الـحـفـظ بـنفسـه فـى هـذا الـوقت مثتسنىٰ عن العقد .فتاویٰ تاتار خانيه ج:١٦ ص:٨١ شامى ..

سوال﴾
اذا استعار دابة فحضرت الصلوٰة فدفعها الى غير ليمسكها فضاعت هل يضمن وما حكمه؟
جواب﴾
وبالله التوفيق وفى فتاىٰ الفضلى عن محمد فيمن استعار دابة فحضرت الصلوٰة فدفعها الى غيره اليمسكها فضاعت قال ان كان شرط فى العارية ركوب نفسه ضمن والا يضمن فتاویٰ تاتار خانيه ج:١٦ ص:٨٠ب شامى .
سوال﴾
رجل استعارة ذهباً فقلد صبيا فسرق هل يضمن ام لا؟ بينوا تؤجروا .
جواب﴾
باسم ملهم الصواب رجل استعار ذهباً فقلد صبياً فسرق فهذا علىٰ وجهين اما ان كان الصبى يضبط ما عليه او لا ففى الوجه الاول لا يضمن وفى الوجه الثانى يضمن والله اعلم بالصواب .تاتارخانيه ج:١٦ ص:٨١ هنديه .
سوال﴾
اذا استعار امرأة من امرأة سراويل لتلبسه فخرق او سرقه هل تضمن او لا؟ بينوا تؤجرو .
جواب﴾
وبالله التوفيق امرأة استعارة من امرأة سراويل لتلبسه ولبسه وهى تمشى فزلقت رجلها وتخرق السراويل لا ضمان عليها .والله اعلم

بالصواب .فتاویٰ تاتارخانیه .هندیه .

سوال﴾

رجل استعارة بعیراً من رجل علیٰ ان یعیر ثوره یوماً ثم جاء لیتعیر ثوره وکان الرجل غائباً فاستعر من امرأته فدفعه فضاع هل یضمن او لا؟

جواب﴾

حامداً ومصلیاً رجل استعار بعیرا من رجل علی ان یعیر ثوره یوما ثم جاء لیتعیر ثوره وکان الرجل غائبا فاستعار من امراته مدفعه الیه فذهب به الی ارضه فضاع ضمن فتاویٰ تاتارخانیه ج:١٦ص:٨١

سوال﴾

رجل استعار من رجل بعیرا او بقراً فاستعمله ثم ترکه فی المسرح فضاع هل یضمن ام لا؟ بینوا تؤجروا .

جواب﴾

باسم ملهم الصواب رجل استعار من رجل بعیرا او بقراً فاستعمله ثم ترکه فی المسرح فضاع فهذا علی وجهین (١) اما ان علم ان المعیر یرضی بکونه فیما یرعی وحده کما هو بعض اهل الرساتیق (٢) او لم یعلم ذلک منه بان کانت العاریة مشترکه ففی الوجه الاول لایضمن وفی الوجه الثانی یضمن والله اعلم بالصواب فی فتاویٰ ابی اللیث وفی الحانیه وتاتاخانیه ج١٦ ص:٨٢ .

سوال﴾

ولوجعله ای البقر اوبعیر فی العریة فضاع هل یضمن اولا؟بینو اتوجروا .

جواب﴾
وبالله التوفيق لو جعله في العرية وليس في العرية باب فنام لايضمن ان ضاع سواء نام مضطجعاً او قاعداً .في فتاویٰ تاتارخانيه ج:١٦ص:٨٢ .الخلاصة .

سوال﴾
رجل دخل الحمام واستعمل القصاع فوقعت من يده وانكسره هل يضمن او لا؟ بينوا تؤجروا

جواب﴾
باسم ملهم الصواب رجل دخل الحمام واستعمل القصاع فوقعت من يده وانكسرت فلا ضمان عليه وكذا اذا اخذ كوز الفقاعي يشرب فسقط فان كان من سوء امساكه يكون ضامنا .في فتاویٰ تاتارخاتيه :١٦ص:٨٢ وهنديه .

سوال﴾
اذا طلب رجل من رجل ثوراً عارية فقال له المعير اعطيك غداً فلما كان الغد اخذ المستعير الثور بغير اذنه واستعمله ومات هل يضمن او لا ؟بينوا تؤجروا

جواب﴾
باسم ملهم الصواب رجل طلب من رجل ثوراً عارية فقال له المعير اعطيك غداً فلما كان الغد اخذ المستعير الثور بغير اذنه واستعمله ومات في يد المستعير ضمن وفي مجموع النوازل انه لاضمن على المستعير ولو رده فمات عنده لاضمان عليه .في فتاویٰ تاتارخانيه

ج:۱٦ ص:۸۲وفی فتاویٰ هندیه ج:۴ص:۳٦٦ .

سوال﴾

اذا ربط المستعير الحمار على الشجر الذى عليه فوقع الحبل فى عنقه فمات هل يضمن ؟ او لا

جواب﴾

باسم ملهم الصواب اذا ربط المستعير الحمار على الشجر بالحبل الذى عليه فوقع الحبل فى عنقه فمات لايضمن المستعير هكذا حكى فتوى شمس الاسلام فى فتاویٰ تاتارخانيه ج:۴ص:۳٦۷ .

سوال﴾

رجل استعار من رجل دابة فنام المستعير فى المفازة ومقودها فى يده فسرق هل يضمن او لا؟ بينوا وتؤجروا .

جواب﴾

باسم ملهم الصواب وقال فى هنديه رجل استعار من رجل دابة فنام المستعير فى المفازة ومقودها فى يده فجا انسان وقطع المقود وذهب بالدابة لاضمان عليه .هنديه ج:۴ص:۳٦۷،تاتارخانيه ج:۱٦ص: ۸۳

سوال﴾

ولو مد المقود من يده واخذ الدابة وهو لم يشعر بذلك هل يضمن اولا؟

جواب﴾

باسم ملهم الصواب ولو مد المقود من يده واخذ الدابة وهو لم يشعر بذلك ضمن قال الصدر الشهيد يجب ان يكون تاويلها اذا نام اما اذا نام جالساً فلا قال وانما يضمن بالنوم مضطجعاً اذا كان فى الحضر اما اذا كان

فی السفر فلا کذا فی الظهیریة .فی فتاویٰ هندیه ج:۴ص:۳٦٧ تاتار خانیه ج:۱٦ص:۸۳

سوال﴾

اذا وضع المستعار بین یده ونام قاعداً هل یضمن او لا؟ بینوا توجروا؟

جواب﴾

باسم ملهم الصواب وعلیٰ هذه اذا وضع المستعارین یده ونام قاعداً لا ضمان علیه وان نام مضطجعاً یضمن اذا کان فی الحضر وقد وقعت فی زماننا ان رجلاً استعار مر لیسق به ارضه ففتح النهر ووضع المر تحت رأسه ونام مضطجعاً کما هو عادة اهل الرساتیق فسرق فافتوا انه لایضمن ولو وضع المستعار تحت رأسه او تحت جنبه ونام مضطجعاً لایجب الضمان .والله اعلم بالصواب فتاویٰ تاتار خانیه .هندیه ج:۴ ص:۳٦۸ .

سوال﴾

من استعار قدوما لیکسر خطبا فیکسره وامسک حتیٰ هلکت عنده هل ضمن او لا؟ هکذا فی الفتاویٰ العتابیه ستوری عاریت .

جواب﴾

قیل من استعار قدوما لیکسر حطبا فکسره وامسک حتیٰ هلکت عنده ضمن هکذا،فی فتاویٰ العتابیه ستوری عاریت خواست وکس فرستاد تا آنرا نزد بیاورد مامور ستور را برشت .وهلک یضمن المامور ولا یر جع علی الامر اذا لم یکن ماموراً من جهة وهذا اذا کانت تنقاء من غیر رکوب فان کانت لا تنفاد الا بالرکوب لا یضمن .هندیه ج:۴ ص:۳٦٧ تاتار خانیه ج:۱٦ ص:۸۴

سوال﴾

اذا ارسل رجل رسولا الی غیره وهما ببخاری لیستعر له دابة منه الی حسون اسکندریه فذهب الرسول الی صاحب الدابة وقال ان فلانا یقول اعرنی دابتک الی سمر قند فدفعها الیه فجاء الرسول بالدابة الی المستعیر ودفعها الیه ان یرکبها الی سمر قند وهو لا یستعر بما کان من قول الرسول فرکبها وهلکت تحته هل یضمن او لا؟ بینوا تؤجروا .

جواب﴾

باسم ملهم الصواب نعم فلا ضمان وان رکبها الی حسون فهلکت تحته کان علیه الضمان اذا ضمن المستعیر لا یرجع علی الرسول لانه ضمن بنعل یا شره بنفسه .تاتارخانیه ج:١٦ص:٨٩ هندیه ص:٣٦

سوال﴾

بعث الرجل اجیره الی رجل لیستعیر منه دابة الی الحیره فاستعار الی المدینة فرکب الیها ان جاوز الی الحیر هل یضمن ام لا؟

جواب﴾

باسم ملهم الصواب نعم ان جاوز الی الحیر یضمن وان لم یتجاوز لا یضمن هکذا فی الهندیه فذهب بها المستعیر الی الحیرة او امسکه ابالکوفة شهراً فحمل علیها فعطبت الدابة لایضمن فی شیء من ذلک .تاتارخانیه ج:١٦ ص:٨٤ هندیه ج:٤ ص:٣٦٨ .

سوال﴾

رجل استعار من رجل ثورا یساوی خمسین درهماً فقرنه مع ثور بساوی مأة فی کراب الارض فعطب ثور العارية فهذا علی وحهین ان کان

الـنـاس يـفـعـلـو ن مـثـل ذلک عـادة يعنی يقرؤ ن ثوراً يساوي خمسين ثوراً يساوي مأته هل يضمن او لا ؟ بينوا تؤجروا .

جواب ﴾

وبـالله الـتـوفـيـق وان كـان الـنـاس يفعلو ن مثـل عادة يعنى يقرئو ن ثوراً يسـاوی خـمسـيـن ثـوراً يسـاوی مـأة فـلا ضمان لوجود الاذن به دلالة عرفاً وان كـان لا يفعلو ن مثـل ذلک فهو ضامن .كذا فی فتاویٰ ابو الليث هنديه ج:۴ ص:۳۶۸ تاتار خانيه ج:۱٦ ص:۸۸ (والله اعلم بالصواب .

بسم الله الرحمٰن الرحیم

فلو وهب لذی رحم محرم منه لایرجع

کتاب الهبّة

قال علیه السلام

تحادوا فان الهدیة تذهب وجز الصدر

(الحدیث)

تهابو د ژوند عادت کړه شرافته

تهابو به نتیجه کړي سعـــادتـه

کتاب الهبّة

سوال﴾
هبة څه ته ویل کیږي؟
جواب﴾
الهبة تملیک بلا عوض .
یعني دهبې عرفی معنیٰ داده چې څوک دیو شي مالک جوړ کړي بې له عوض دبل شي .
وقال العلامه الحصکفی هی تملیک العین مجاناً (ای بلا عوض) الدر المختار ج:۴ ص:۵٦٧ .
وفی الهندیه اما تفسیرها شرعاً فهی تملیک عین بلا عوض فتاویٰ هندیه ج:۴ ص:۳۷۴ .
سوال﴾
نصرالدین په خپل ژوندکي خپل ټول جائیداد منقوله غیر منقوله خپل زوی محمد سلام ته او خپل لمسي عبدالواحد ته پر نامه ورواړوی لوڼو ته هیڅ هم نه ورکوي آیا دا کار روا دی که ناروا؟
جواب﴾
قال علیه السلام اعدلوا فی اولادکم فان العدل من حقوق الاولاد (الصحیح المسلم ج:۲ ص:۳۷
وقال فی در المختار لا بأس بتفضیل بعض الاولاد فی المحبة وکذا فی

العطایا ان لم یقصد به الاضرار . ج:۴ص:۵۷۳ .
لـه مـذکـوره قـولـینو معلومه سوه چي انسان به عدل کوي داد اولاد حق دی او عـطـا کـول روا دي البته محبت یو غیر اختیاري شی دی په دا الله جل جلالـه سري نه نیسي .خو داضرار په خاطر به یو داولاد سره دبل په مقابله کي دا کار نه کوي .

سوال ﴾

فـضـل مـحـمـد و نیاز محمد ته دسرای مځکه هبه کړه او نیاز محمد ته ئی وویل چي کله ته مړ سوې دا سرای به وداد محمد ته نه ورکوې چي ستا زوی دی اوس پـوښتـنـه داده چي دلته په دا هبه کښي شرط فاسد ولګیدی آیا دا هبـه صـحـیـح ده کـه نه ده صحیح او که نیاز مړسو داد محمد د میراث حق لري او که نه؟

جواب﴾

لان الهبة لاتفسد بالشروط الفاسدة یعني دا هبه صحیح ده شرط فاسد ئـی انـعـقـاد ته ضرر نه رسوي البته داد محمد ئی په میراث کي وړلای سي ولـي چـي دمیـراث حق جبري دی هیڅوک حق درد نه لري .فالهبة جائزة والشرط باطل (شرح المجلة ج:۳ ص:۳٦۵ المادة ۸۵۴ .

سوال﴾

غـلام حـضـرت لـړ مـعتـو دی لـه خـپـلو ورنو سره ګډه مځکه لري غلام حـضـرت وشـمـائـلـه ته چي دده داکا لور ده خپله حصه هبه کړې ده کال بعد غـلام حـضـرت مـړ سـو اوس شمائله خپله حصه موهوبه غواړي حال دادی چي دورونو تقسیم نه دی شوی آیا شمائله حق لري دموهوبې مځکي که

ئی نه لري ؟عصام الدين دشمائيلي ميره چمن بازار .

جواب﴾

تنعقد الهبة بالايجاب والقبول وتتم بالقبض شرح المجلة ج:۳ ص:۳۴۴ المادة ۸۳۷ .

وقال العلامة الحصكفي وشرائط صحتها فی الواهب العقل والبلوغ والملک .

وشرائط صحتها فی الموهوب ان یکون مقبوضا غیر مشاع ممیزا غیر مشغول .الدر المختار ج ۴ ص ۵۶۷ .

له مذكوره عبارت څخه معلومه سوه چي شمائله حق نه لري ولي چي غلام حضرت اهل دهبې نه دی او بل مځکه تقسيم سوې نه ده او هم قبض نسته والله اعلم بالصواب .

سوال﴾

عبدالخالق وخپلي لور ته په خپل اختيار په خپل ماركيټ كی يو دكان وركړی او لور ئی قبض كړی بيا ئی په كرايه وركړی .

كال بعد دكان ډير لوړ قيمت ته پورته سو اوس عبدالخالق وخپلي ته وويل چي اوس ماته خپل دكان واپس كړه تا يو كال كرايه وخوړه اوس پوښتنه داده چي هبه سوی دوكان بيرته راګرزولای سی كه نه؟ماه جبين نور منی ماركيټ كوټه

جواب﴾

وان وهب هبة لذی رحم محرم منه لم يرجع فيها لقول عليه السلام اذا كانت الهبة لذی حرم محرم لم ير جع فيها البحر رائق ج:۷ص:۲۹۴ هداية

ج:۳ ص:۲۹۰

لـه مذکوره عبارت څخـه معلومه سوه چي عبدالخالق حق درجوع نه لري دکان اوس هم دده دلور دی .

سوال﴾

زما دپلار خور زما پلار ته دخپلي ځمکي حق په شرعی اصولو بابر هبه کړی دی زما پلار قبضه اخیستي وه کښت ئی پر کاری پنځلس کاله بعد زما اکا دعوه وکړه چه دا ځمکه زما هم درګډه ده او له موږ سره اصولي کاغذان موجود دي مګر زما د پلار خور مړه ده اوس پو ښتنه داده چي آیا اکا حق لري چي په موهوبه ځمکه کښي له موږ سره ځان شریک کړی (المستفتي ایډوکیټ غلام دستګیر کچلاک بازار .)

جواب﴾

لان الهبة تلزم بالموت کما فی در المختار ویمنع الرجوع فیها (ردالمحتار ج:۴ص:۵۱۵ .

لـه مذکوره قاعدې څخه دا معلومه سوه چي په مرګ باندي هبه مقرره کیږي بیا څوک درجوع حق نه لري

سوال﴾

مختار دپلار کشر زوی دی پلار په خپل ژوند کي دټول جائداد څخه علٰحده دمختار پر نامه یو دکان ټرانسفر کړی او دائی وویل چي دا زما له طرفه مختار ته هبه دی .

اتـه کالـه بعد پلار مړ سو دمختار دوه نور ورونه بختیا اختیار دا وائي چي موږ هغه دکان هم په میراث کي تقسیم کوو مختار ته ئی بغیر

تقسیمه نه ورکوو اوس پو ښتنه داده چي دادوکان یوازي دمختار دی که دوروڼو هم شریک دی المستفتي مولوي یار محمد پښتون آباد کوټه .

جواب﴾:

وشرائط صحتها فی الموهوب ان یکون مقبوضاً غیر مشاع ممیزاً غیر مشغول ورکنها هو الایجاب والقبول (ردالمحتار ج:۵ ص:٦٨٨ .

له مخکني عبارت څخه معلومه سوه چي که هبه داصولو.برابره وي او قبول او قبضه پکښي راغلي وي نو دا دکان دمختار دی او روڼه حق نه پکښي لري .

سوال﴾

دحاجي عبدالکبیر دوې ښځي دي له مشري څخه ئی څلور زامن دي او له کشري څخه ئی یو زوی دی او حاجي صاحب دکشر زوی پر نامه یو سرای معین کړی دی دمشري زامن ئی نه ورکوي اوس پو ښتنه داده چي حاجي صاحب دا کار جائز دي که نه .او سرای دکشر لپاره صحیح دي که نه او که حاجي مړسو سرای په میراث کي داخل دی که یوازي دکشر دی والسلام .

منیر احمد ولد عبدالکبیر پشین بازار .

جواب﴾

رجل وهب فی الصحة کل مال للولد جاز فی القضاء ویکون آثما فیما صنع هندیه ج:۴ ص:۳۹۱ .

له مذکوره عبارت څخه معلومه سوه چي هبه صحیح ده شرعاً قضائا مګر که نور بچیان بالکل محروم کړي سړی ګنهګار دی .

هکذا فی القاضی خان علی الهامش ج:۳ ص:۲۷۹ .

سوال﴾

نورمحمد خپله مځکه په خپل ژوند کې دزامنو په مابین کې تقسیم کړه او دائې ویل چې زما دمرګه بعد به زما زامن په خپلو کې له جګړې محفوظ وي مګر دنور محمد ښځه امید واره وه نو نور محمد دا وصیت وکړ چې که زما زوی پیدا سو دفلانی سره به دده په حصه شریک وي نور محمد مړ سو او درې میاشتې بعد ئې زوی پیدا سو اوس هغه زوی له چا سره شریک دي او که دټولو ورونو څخه لږ لږ حق ورته راواخلو تر څو دنو مولود حصه هم دنورو ورونو برابره سي . والسلام .

المستفتي :مولوي ګل محمد سرخاب مهاجر کمپ

جواب﴾

قال العلامة المرغناني وان وهب هبة لذی رحم محرم منه لم یر جع فیها لقول علیه السلام اذا کانت الهبة لذی رحم محرم لم یر جع فیها هدایة ص: ۲۹۰ ج:۳

له مذکوره عبارت څخه معلومه سوه چې د نور محمد زامنو هر یوه دده په ژوند کې قبضه اخیستې ده اوس نور محمد درجوع حق نه لري او نه دده وصیت چلیږي یعنی هغه ماشوم دده په وصیت له چا سره ګډ نه دی لانه رجوع فی بعض الموهب وهو لایصح لوجود القرابة المحرمة رد المحتار ج:۴ ص:۵۱۸ والدر المختار ج ۴ ص ۵۷۸ .

باب الرجوع فی الهبة :

البته که له ماشوم سره یوه یا ټولو ورونو تبرع کوله دا ډیر ښه

کاردی .لکه چي فرمائي لاتنول الفصل .

سوال﴾

معصومه او امین الله دیوه پلار اولادی کله چی ئی پلار مړ سو معصومه اتلس کلنه وه تقسیم وسو د شاهدانو په حضور کښی معصومي خپله حصه قبضه کړه بیا ئی بیرته خپل ورو ته هبه وکړه یو کال بعد د معصومی واده و شو دوه کاله بعد ئی له واده څخه خپله هبه سوي حصه بیرته له ورور څخه وغوښتله نو ټول درې کاله بعد ئی رجوع وکړه ایا ددې هبه صحیح ده که نه ده صحیح او حق د رجوع لري که ئی نه لری المستفتی امین الله کچلاک کلی پوتی

جواب﴾

و تتم الهبة بالقبض الكامل فی محوز مفرغ مقسوم رد المحتار ج ۴:ص ۷۰۳: له بالا عبارت څخه معلومه سوه که تقسیم سوي وي او قبضه هم راغلې وي بیا هبه سوی وی اوس حق د رجوع نه لري والا فلا .

سوال﴾

حاجی عبد الحکیم جوړ او روغ دي په خپل جائداد کښی په یوه ټکړه ځمکه د مدرسې له پاره هبه کړه او حافظ نور الله ته ئی د مدرسې اختیارات ورکړه انتقال ئی د حافظ صاحب پر نامه ټرانسفر کړی اتفاقا حاجی صاحب مړ سو د مدرسې کار ئی هم نیمګړی پاته سو اوس د حاجی صاحب زامن محمد عمر او لطف الله وائی چي دا ځمکه نه مدرسې ته او نه حافظ ته ورکو و ایا دا رجوع د شریعت له نظره روا ده که ناروا، المستفتی حافظ محب الله پشین سر خاب روډ .

جواب﴾
واتفق الائمه علي ان الهبة تصح بالا يجاب والقبول والقبض. الفقه اسلامی وادلة ج ۵ ص ۳۹۸۱:
له دا عبارت څخه معلومه سوه د حاجی صاحب زامن د رجوع حق نه لري ځمکه د مدرسې ده او حافظ صاحب ئی متولی دي .
سوال﴾
امر الدین د لسو کالو په عمر وو چه دده پلار ضیاء الدین فالج وه واهی ډیره موده پروت وو بالاخره چي ډیر کمزوری سو اوله ژوند ه نا امیده سونو د یوه ما ندینی چي ببو نومیږی او له یو زوی چي له ببو څخه دی یوسف نومیږي خپل املاک غیر منقوله ﴿دکان﴾ ځمکه سرای باغ دا ټول ئی د دوې پر نامه واړول او هبه ئی کړل بله ماینه نري او ددې ځوی امر الدین ئی بې برخی کړل کله چي ضیاء الدین مړ سو او س امر الدین او دده مور هغه هبه اشیاء نه ورکوی آیا په شریعت کښی امر الدین او دده مور دا حق لري چي د ضیاء الدین مو هو به املاک را وګرځیی کنه؟
والسلام المستفتی حاجی محمد برادر نري ګلستان .
جواب﴾
اذا وهب واحد فی مرض موته لاحد ورثته و بعد و فاته لم یجزا سائر الورثه لا تصح تلک الهبة اصلا لان الهبة في مرض الموت وصیة للوارث ﴿خانیه﴾ وَلکن لو اجاز الورثه لا تصح تلک الهبة اصلا لان الهبة في مرض الموت وصیة للوارث ﴿خانیه﴾ و لکن لو اجاز الورثه هبة المریض بعد موته صحت .

شر ح المجلة ۴۸۳: المادة ۸۷۹:

له مخکنی عبارت څخه دا ښکاره سوه چی دا هبه صحیح نه ده ولي چي وارثـان ئی نه دي په راضی . او دلته يو وارث نابالغ هم دي چي هغه د رضـا اهلیـت هـم نه لري نو لهذا د مرحوم جائداد به له سره پر ټولو وارثانو تقسیمیږی هر یوه ته به حصه شریعه ورکوی .

سوال﴾

عبـد الـرحمٰـن و خپـل ورور عبـد الـرحیـم تـه دري جریبه ځمکه هبه وکـړه پـه عـوض کښـی عبـد الـرحیـم یـو دکـان هبه کړ لس کاله بعد دواړه ورونـه مـړه سوه اوس د عبدالرحمن زامن دعبدالر حیم له زامنو څخه هغه دري جـریبـه ځـمکه غواړی او ورته وائی موږ تاسو ته خپل دکان در حواله کوو زموږ ځمکه راپریږده آیا اوس د عبد الرحمن د زامنو دا کار د شریعت له نظره روا دي او حق د رجوع لري

المسفتي عبد الكريم شوراو ميدان

جواب﴾

امـا عـوارض المـا نعة من الرجوع فانواع منها موت الواهب و منها العوض كذا فی البدائع هندیه ج ص ۳۸٦:

لـه مـذکـوره عبارت څخـه دوه اصـول مـعلوم سول يو مرګ دواهب او بل عـوض دا دواړه مـانـع د رجـو ع دي لهذا د عبد الرحمن زامن د رجوع حق نه لري .

سوال﴾

مـحـمد نبی او محمد علی سره وروڼه دي و خپـل اخښـی فضـل کریم

ته ئې دیوه سر ائې درې زره فتـه هبه کړه آیا شریکان شریک شي هبه کوه لای سی دواړه په خوښه او دا هبه خو به کوم حرمت یا کراهت نه لري .
فضل کریم چمن ګلذاره باغچه
جواب﴾
و هب اثـنان دار لو احد صح لعدم الشیو ع الدر المختار ج ۴: ۵۷۲له مـذکـوره عبارت څخه دا معلومه سوه چي دوه شریکان په ګډه سره معلوم شي په خوښه سره یو چاته هبه کو لائې سی کوم حرمت یا کراهت نه لري .
سوال﴾
خیر الدین دا دعوه کوي چي پلار خپله دریمه حصه په خپل ژوند کښې ماته هبه کړیده
خـو د ده ورونـه دا خبـره نـه ور سره منـي خیـر الدین نه عرفي قباله لري نه قـانوني او نه ئې تقسیم سوی دي او نه قبض ایا د خیر الدین داادعا صحیح ده د پلار دریمه اوس د چا ده .
جواب﴾
و تصح بالا یجاب و القبول و القبض هدایه ج۳ص۲۸۲
لــه مـذکـوره عبارت څخــه مـعـلـومـه سوه چي خیر الدین د پلار د دریمی حصې حق نه لري ټول جائداد به پر ټولو وارثانو تقسیمیږی دلته نه تقسیم ستـه نه قبض نه د وارثانو رضا .
سوال﴾
عام رواج نن صبا دادي چي کله پلار مړ سو په میراث خورو کښې چي لـور ګـانـې وي نـو میـراث لا نــه دي تقسیم سوي نـه دیوې لور حصـه

معلومه ده نه د زوی خلق په پټو ستر ګو دا فیصله کوي چي خور موږ ته
حق را بخښلی دي خور ډیر ځله دنه امید په وجه کله کله دا هم ووائی چي
ما خپل حق بخښلی دي حال دادي چي دا خبره نه ده معلومه چي زما حق
څونه او چیری دي .
او بل طرف ته دا هم کله کله ووائی چي ماته حق نه راکوي او یا بیا زما
ورور خوابدی کیږی آیا دا هبه د شریعت له نظره روا ده که ناروا ده هبه ده
که نه .
جواب﴾
و تتم الهبة بالقبض الكامل فی محوذ مفرغ مقسوم و مشاع لا
یبقی منتفعا به بعد ان یقسم ﴿وقال بعد اسطر﴾
ولو سلمه شائعا لا یملکه فلا ینفذ تصرفه فیه رد المحتار ج۴ ص ۵۷۰:
له مذکوره عباراتو معومه سوه چي دا هبه نه ده صحیح ولي نه قبض د
خور راغلی دی او نه تقسیم راغلی دي او نه د خور حصه معومه ده .
خور چي دا خبره کوی چي ما خپل حق ورور ته بخښلی دي دا خبره هغه د
خپلی ناوسی په وجه کوي ولی هر ځای خور حق بخشش کوی ولی یو
ځای دانه سوه پیشه چي ورور خور ته حق بخشلی دي والله اعلم .
سوال﴾
د نصیر الدین پلار د ده په کوچنی والي کښي وفات سو نصیر
الدین او دده ورور یتیمان پاته سول دوه سوه پسونه ئي هم پاته سول او یو
څه د ئیمه ځمکه ئی هم پاته سوه یتیمان خپلو ماماګانو له ځانه سره وړه
ول او د یتیمانو مالونه ئی پخپله مرضی خرڅ حلال هبه کړه کله چي

نـصیـر الـدیـن لـوي سو د خپلو ماماګانو څخه ئی د خپل حساب طلب کړه
مـامـاګـانـو څه خر څ کړی څه هبه کړی څه حلال کړی وو اوس هغه ځمکه
چي د یتیـمانو وه وچاته ئی هبه کړی ده اوس نصیر الدین دا حق لري چي
خپلـه ځـمکـه راوګرزوی که ئی نه لري المستفتی نصیر الدین اکا خیل
سور غر زابل .

جواب﴾

و مـنهـا ان یـکـو ن مـلـکـا لـلواهب فلا تجوز هبة مال الغیر اذنه لا ستحاله
تملیک مالیس بمملوک للواهب کذا فی البدائع .

هندیه ج ۴ص ۳۷۸:

لـه مذکوره عبارت څخه دا شکاره ده چي د بل مال څوک هبه کوه لای نسی
شـرط د هبـی دادي چـي مـوهـوب بـه د واهـب مـلک قطعی وي .لهذا نصیر
الـدیـن تـول هـغـه مال راګرزولای سی چي ماماګانو ددوي په کوچنی والی
کبنـي هبـه کـړی او یـا ئـی ددوي په لوی والی کبنی ددوی بغیر اجازې هبه
کړی دي .

سوال﴾

محمد زاهد و حاجی راز محمد ته دکان په کرایه ور کړی دی د دوی
پـه مـابیـن کبنـی دیـوه کـال استـهام لیـکـل سوی دی پنځه میا شتی د کال
تیری سوي دي .

اوس محمد زاهد خپل دکان و خپل وراره محمد رؤف ته هبه کړی محمد
رؤف کـرایـه دار تـه جواب ور کړی مګر کرایه دار وائی زما ۷ میا شتی پاته
دي د استـهام د وخت اوس مسـئـله څنګه ده محمد رؤف کرایه دار ایستلای

سی او دوکـان په خپله ولکه کبنی اخستلای سی او د ذاهد وعده څنګه ده
.
جواب﴾
له مذکوره عبارت څخه دا معلومه سوه چي دا هبه صحیح نه ده او
وراره ددې دکان مالک نه دي
ترڅو چي دکان خالي نسی او ده ته ورو نه سپارل سی او د ده قبض پر رانه
سی صحیح نه ده .
سوال﴾
جـانـدا دلـرې پـلار ئـی هـم د شـی اجازه نـه ورکوی جانداد د پلار بې
اجازې و شمشاد ته د ۵۰۰۰ پنځه زره ساعت هبه کړی دی او د جانداد پلار ئی
اوس بیرته غواړی شمشاد دا تینګار کوی چي دا ساعت ماته هبه سوی دی
نه ئی در کوم ایا دا هبه صحیح ده که نه او د پلار رجوع روا ده که ناروا .
المسفتی دل شاد میوند قندهار
و تصرف الصبی والمعتوه الذی یعقل البیع و الشراء ان کان نافعا
مـحـضـا کـل اسلام والا تهاب صح بلا اذن و ان ضار کالطلاق والعتاق
والصدقه والقرض لا، رد المحتار ج ۵ص۱۲۲ .
لـه مذکوره عبارت څخه معلومه سوه چي که معتوه دنفع کار کړی
وو صـحیح ده او که د ضرر بیا نه ده صحح نو دلته ئی د ضرر کار کړی دي
نـو اذن دولي غـواړی که ولي ناقصه کړه صحیح ده او که ولی رد کړه نو نه
د صحیح .
سوال﴾

فـريـد الله كـو چـنـى دي يـو چا ده تـه څمکه هبه کړه فريد الله په هبه او قبض نه پوهيږى اوس د فريد الله له طرفه دده ولي هبه قبض کړى او که فريد الله ته انتـطار کول پکار دي چي کله فريد الله لوي سو قبضه به واخلى څه کول پکار دي؟

المستفتى نجيب الله برادر فريد الله کچلاک

جواب﴾

قـال الـعلامة الحصكفى ر ح وهبة من له ولاله على الطفل فى الجملة وهـو كـل مـن يـعـولـه فدخل الا خ والعم عند عدم الاب لو فى عيا لهم تتـه بالعقد رد المحتار ج:۴ص ۵۷۱